## کتاب پېژندنه:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | د ځلانده اتلانو سیرت |
| لیکوال | :: | شفیق الله مشفق |
| کمپوز | :: | په خپله لیکوال |
| خپرندوی | :: | مسلم خپرندویه ټولنه – جلال اباد |
| چاپ وار | :: | لومړی |
| چاپ لړ | :: | ۳۸۵ |
| چاپ کال | :: | ۱۳۹۹ هـ ش |



**د چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي**



**د ترلاسه کېدو ځای**

**مسلم کتاب پلورنځی**

**پته:** اسحاقزی مارکېټ، لاندینی پوړ، جلال اباد ښار، افغانستان

**اړیکشمېرې:** ۰۷۹۳۰۷۳۰۸۰ - ۰۷۷۸۰۸۰۴۹۰

**برېښنا لیک:** muslim-pub@yahoo.com



Ketabton.com


...لانو سیرت

...خواب په بڼه

...وال

...لله مشفق

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تقریظ

**الحمدالله رب العالمین، والصلاة والسلام علی المبعوث رحمة العالمین، محمد واله واصحابه ومن اتبعهم باحسانا الی یوم الدین وبعد:**

داچې د منار راډیو یوه اسلامي او د اسلام خدمت کوونکې راډیوه ده، چې د اسلام د دین په مختلفو برخو کې خلکو ته معلومات ورکوي، چې یو له هغې څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د صحابه وو سی‌سرت دی، چې د دې په تړاو د راډیو له لارې د سیرت سیالۍ او او نور مختلف پروګرامونه د راډیو د ادارې لخوا وطنوالو ته وړاندې شوې او وړاندې کېږي، چې له دغو خپرونو څخه په استفادې سره د راډیو ادارې له خوا د پوښتنې او ځواب په بڼه سیرت راغونډ کړی شوی او په لیکلي بڼه یې نشر کول غواړي، نو دغه کتاب چې د ځلانده اتلانو سیرت په نوم دی او د شفیق الله مشفق په هڅه لیکل شوی، ما دغه له پیل څخه تر اخره پوره ولوست او لازم اصلاحات مو پکې هم وکړل، اوس چې تکمیل شوی، نو د عامو مسلمانانولپاره یې ګټور او د سیرت په برخه کې یې یو خدمت بولم او د عامو مسلمانانو څخه هیله لرم، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت زده کړي، ماشومان پرې وروزي او ټول پرې عمل وکړي، چې دغه د کامیابۍ لار ده.

په درنښت

دوکتور محمد ابراهیم حنیف

د ننګرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي استاد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تقریظ

**الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف النبياء والمرسلين نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين. أما بعد:**

د منار راډیو اداري دغه ټولګه چې د پوښتنې او ځواب په شکل سره په دړېو برخو کې چې په نبوي سیرت، خلفاء راشدینو او په عمومي سیرت کې یې د زرو پوښتنو او ځوابونو په شکل کې د شفیق الله مشفق په لاسونو لیکل شوې، ما له پیل څخه تر اخره ټوله ولوستله او دې نتیجې ته ورسېدم، چې نوموړې لیکنه د سیرت په برخه کې د عام فهم لپاره ډېره ګټوره لیکنه ده، دوی ته د الله تعالی له دربار څخه د دې لیکنې په بدل کې د الله تعالی څخه اجر عظیم غواړم او همدارنګه له عامو مسلمانانو څخه هیله لرم، چې دا د پوښتنې او ځواب په بڼه لیکنه ولولي او خپلو بچیو ته یې هم ور زده کړي، ترڅو یې د سیرت په برخه کې معلومات زیات او د خوږ پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم سره یې مینه په زړه کې نوره هم غښتلې شي.

ومن الله التوفیق

شیخ زین العابدین مدني

د رڼا پوهنتون د محصلانو چارو مرستیال

## تقریظ

**الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه و ازواجه اجمعین امابعد:**

د ځلانده اتلانو سیرت، د الله تعالی د سپېڅلي بنده او پیغمبر جناب محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه د سربښندونکو ملګرو او لارویانو د ژوند په تړاو یو جامع او مدلل کتاب دی ، چې د منار راډیو اداري لخوا یې د مسلمان ملت لپاره یو ستر خدمت بولم.

داچې منار راډیو له کلونو راهیسې، په غږیزه بڼه د قران او حدیث په خدمت بوخته ده او ګڼو هېواد والو ترې پوره پوره استفاده وکړه او کور کور ته یې د اسلام د مقدس دین سپېڅلي پیغامونه او په خاص ډول د نبوي سیرت په تړاو کره او دقیق معلومات وړاندې کړل، خو اوس یې د لوستو او هغو ورونو او خویندو لپاره چې د راډیو له لارې یې له دغو فرصتونو فایده نه شوه پورته کولی، په لیکلي بڼه یې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم، سپېڅلو صحابه وو او نورو پیاوړو مؤمنانو په تړاو معلومات راجمع او د «ځلانده اتلانو سیرت» تر عنوان لاندې یې کتاب د شفیق الله مشفق په ګوتو برابر کړی، چې زما د مطالعې له مخې ډېر ګټور او مفید کتاب دی.

له معززو ورونو او خویندو مې هیله ده، چې د دې کتاب په مطالعه کولو سره د خپل خوږ پیغمبر له حقیقي سیرت څخه ځانونه خبر کړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د منار راډیو له اداري څخه د دې ستړې لاسته راوړنې له امله مننه کوم او د الله تعالی له درباره څخه ورته د بقا او لا نور خدمت په موخه د دعا لاسونه لپه کوم.

نورالمعبود احساس

د کونړ ولایت د حج او اوقافو رئیس

## تقریظ

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبى بعده وبعد:

د منار راډیو اداري د نبوي سیرت، خلفاء راشدینو او نورو صحابه کرامو په متعلق د پوښتنې او ځواب په بڼه ښکلي او په زړه پورې معلومات د ځلانده اتلانو سیرت په نوم کتاب چې شفیق الله مشفق لیکلی، ما دغه کتاب ټول ولوسته، چې په ځینو ځایونو کې مې ورته زما په نظر مفیدې مشورې او سپارښتنې وکړې، امید دی، چې په نظر کې یې ونیسي.

دا کتاب د عامو مسلمانانو لپاره ډېر ګټور او فایده مند کتاب دی، چې هر وګړي به یې په لوستلو او زده کولو سره خپله دیني تنده خړوب کړي.

الله تعالی دې د منار راډیو دا کوشش په خپل درباره کې قبول کړي او الله تعالی دې د اسلامي امت لپاره فایده مند وګرځوي او الله تعالی دې د منار راډیو ټولو کار کوونکو ته ډېر اجرونه او ثوابونه ورنصیب کړي.

دوکتور عبدالرزاق بشرزی

د الفلاح پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ادارې لخوا

الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على محمد رسول الله وبعد:

الله تعالى په خپل کتاب کې فرمايي چې:

﴿وَ مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَ الْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ﴾. (الذاريات: ۵۶)

ژباړه: ما پيريان او انسانان له دې پرته د بل څه کار لپاره نه دي پيدا کړي، چې هغوی زما بندګي وکړي.

داچې د انسان پيدايښت او د فاني نړۍ پرمخ ژوند کول، ځانګړي مقاصد او خاص اصول او قواعد لري، چې قران کريم او احاديثو کې ذکر شوي دي، نو فرضي او لازمې ده، چې انسان به په دغو مقرراتو ځان پوهوي او د همدې اصولو او قوانينو په رڼا کې به ژوند تيروي، که چېرې له دغو قوانينو او اوامرو سرغړونه وشي او د ژوند تېرولو لپاره له خود ساخته طريقو او قوانينو څخه استفاده وشي؛ نو دا ژوند بيا د هغه حقيقي ژوند مفهوم نه افاده کوي، د کوم لپاره چې الله تعالى انسانان خلق کړي دي، بلکې دا به بيا ګمراهي او تباهي وي، لکه نبي کريم صلى الله عليه وسلم چې په دې مبارک حديث کې فرمايلي دي:

(فان خيرالحديث کتاب الله و خيرالهدی هدی محمد صلى الله عليه وسلم، وشرالامور محدثاتها وکل بدعة ضلاله) ( صحيح مسلم، کتاب الجمعه، باب رفع الصوت فی الخطبه، حديث نمبر۲۰۰۲)

ژباړه: په تحقيق سره چې غوره له خبرو نه د الله تعالى کتاب دی او غوره په طريقو کې د محمد صلى الله عليه وسلم طريقې دي او له ټولو کارونو څخه ډېر بدتر کار په دين کې نوي جوړ شوي کارونه دي او په دين کې ټول نوي جوړ شوي کارونه، ګمراهي ده.

داچې د دين زده کړه او نورو ته رسول يې په هر مسلمان فرض او لازمي دي، نو په همدې اساس د منار راډيو اداره چې رهبري يې د دين پياوړي علماء او د هېواد نامتو کادرونه پر غاړه لري، د تېرو څه دپاسه شپږو کلونو راهيسې په غږيزه بڼه خپلو هېوادوالو ته د اسلام د سپېڅلي دين په دعوت بوخته ده، چې له جملې څخه يې يوه برخه نبوي سيرت ته هم ځانګړې کړې ده، چې په اورېدلو سره يې مسلمانانو ته پوره دين حاصلېدلی شي، خو داچې په ځېنو سيموکې يا د راډيو څپې کار نه کوي او يا هم ځېنې ورونه او خويندې د راډيو اورېدلو ته لاسرسی نه لري؛ نو د منار راډيو ادارې غوره او اړينه وګڼله چې د نبوي سيرت ټول مضامين په ليکلي بڼه د يوه کتاب په شکل د درنو مسلمانانو، ورونو او خويندو په واک کې ورکړي، لکه څرنګه چې په اوسني وخت کې د نړۍ په ډېرو برخو کې مسلمانان پوره توان او واک نه لري او په هر ځای کې د اسلام د دښمنانو د دسيسو ښکار دي، نو په همدې اساس عامو مسلمانانو ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سيرت په تړاو معلومات ورکول ډېر زيات ضروري دي، ترڅو هغوی د محمد صلى الله عليه وسلم سره مينې او محبت کولو ته راوبلل شي، چې د هغه سنت طريقې په خپل ژوند کې عملي کړي او د کفارو د شومو دسيسو څخه زمونږ مسلمانان ورونه او خويندې وژغورل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کتاب کې چې د (اتلانو ځلانده سيرت) نومېږي، د سيرت په تړاو (۱۰۰۰) پوښتنو ته ځواب ويل شوی او په درېو برخو تقسيم شوی دی:

لومړۍ برخه: د رسول الله صلی الله عليه وسلم خاص سيرت؛ په دې برخه کې يې د نبوي سيرت (٦٣١) پوښتنې او ځوابونه ليکل شوي دي.

دويمه برخه: د خلفاء راشدينو سيرت؛ دا برخه يې د راشده خلفاوو سيرت ته ځانګړې شوې ده، چې (۱۷۱) پوښتنې او ځوابونه په کې ليکل شوي دي.

درېيمه برخه: عمومي سيرت ته ځانګړې شوې ده، چې (۱۹۸) پوښتنې او ځوابونه په کې ليکل شوي دي.

د ياد کتاب ټولې پوښتنې د منار راډيو د (سيرت اتلان) خپرونې لپاره له باوري او مستندو سرچينو څخه راټولې شوې دي او د الله تعالی په توفيق سره مو د کتاب بڼه هم ورکړه.

د منار راډيو اداره د خپلو ټولو مخلصو او پياوړو همکارانو (علماء کرامو، مسلکي او تخنيکي کارمندانو) څخه زياته مننه کوي، چې د کتاب د مضامينو په برخه کې يې هر راز همکاري وکړه او په خاص ډول له ښاغلي شفيق الله مشفق صيب نه چې د دې کتاب په برابرولو کې يې دوامداره هڅې او زحمتونه وګالل او د سيرت اتلانو غړېزه خپرونه يې په خپلو ګوتو په ليکلي بڼه واړوله. الله تعالې دې زمونږ د ټولو دا هڅې په خپل دربار کې قبولې کړي او الله رب العزت دې د مسلمان ملت د دنيوي او اخروي ښېګڼو ذريعه وګرځوي. امين يارب العالمين.

درنښت

د منار راډيو اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال خبرې

الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام *علی محمد رسول الله وبعد:*

زما لپاره د خوښۍ او خوشالۍ شېبې هغه وې، چې د دوه ځلې د ښې پښې د عملیاتو څخه وروسته؛ چې په یو ټکر کې ماته شوې وه، رب العزت راته روغتیا نصیب کړه او بیا یې د کار کولو جوګه کړم، چې د پنځه اویا ورځو په کور کې تېرولو څخه وروسته د (۲۰۱۹) کال، فبرورۍ په اومه نېټه یو ځل بیا مې په منار اسلامي راډیو کې کار پیل کړ، چې درې ورځې وروسته مې د ادارې سره د راتلونکې خپرونې (د سیرت اتلانو) لپاره د پوښتنې او ځواب په بڼه د کتاب د لیکلو وړاندیز وکړ، چې ادارې سمدستي د کتاب لیکلو په پیل کېدو امر وکړ، چې ما هم په همدغه ورځ نوموړی کتاب د پوښتنې او ځواب په بڼه په لیکلو پیل وکړ، ترڅو زمونږ ګران ورونه او خویندې په اسانۍ سره د ستر شخصیت محمد صلی الله علیه وسلم او د صحابه وو د ژوند له حالاتو خبر او نورو ته یې ورسوي.

د دې کتاب د لیکلو په جریان کې راسره د منار اسلامي راډیو د نشراتو مدیر ښاغلي حیات خان احساس زیاته مرسته کړې، چې د لیکلو په برخه کې خپلې ګټورې تجربې راسره شریکې کړې دي، ورڅخه مننه کوم او د رب العزت څخه ورته نیکې بدلې غواړم.

همدارنګه د ننګرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي محترم استاد پوهندوی دوکتور محمد ابراهیم حنیف څخه زیاته مننه کوم، چې په مصروف وخت کې د کتاب د تصحیح او سمونې چارې په پوره دقت



سره ترسره کړې، نیمګړتیاوې راته په ګوته کړې او د لیکلو په برخه کې یې راته ډېرې ګټورې لارښونې وکړې، د رب العزت څخه ورته په دنیا او اخرت کې ښایسته ژوند غواړم.

د منار اسلامي راډیو مسؤل ډاکټر محمد حنیف زین څخه هم زښته زیاته مننه کوم چې ماته یې زمینه برابره کړه، چې دا کتاب ولیکم او ټولنې ته یې وړاندې کړو.

د الله تعالی څخه سوال کوم، چې دا کتاب زمونږ د دنیا او اخرت د نیکبختۍ ذریعه وګرځوي.

امین یارب العالمین

درنښت

شفیق الله مشفق

د منار اسلامي راډیو همکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(۱) پوښتنه**: سیرت څه ته وايي؟

**ځواب**: سیرت د نبي علیه السلام کړه، اوړه او ژنده ګۍ ته وايي، چې د تاریخ په څېړو رانقل شي، چې په هغې کې د نبي علیه السلام غزاګانې او اخلاق لیکل شوي وي.

**(۲) پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم د نسب سلسله په لنډ ډول بیان کړئ؟

**ځواب:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نسب شجره: محمد بن عبد الله بن عبد المطّلب بن هاشم بن عبد مناف بن قُصَيّ بن کِلاب (حکیم بن مُرّة بن کعب بن لؤي بن غالب بنِ فِهْر (چې قریش یې لقب وو) بن مالک بن النّضر بن کِنانة بن خُزَیمَة بَن مُدرکة بن الیاس بن مُضَر بن نِزار بن مَعَدّ بن عَدنان.

**(۳) پوښتنه**: د مور له اړخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نیکه نوم څه وو؟

**ځواب**: وهب.

**(۴) پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم په کومه ورځ پیدا شوی وو؟

**ځواب**: د دوشنبې په ورځ.

**(۵) پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم په کومه میاشت او کومه نېټه کې پیدا شوی وو؟

**ځواب**: د څېړنو او دقیقو معلوماتو له مخې د ربیع الاول د میاشتې په نهمه (۹).



**(٦) پوښتنه**: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پلار د هغه له پیدا ېښت څخه څومره موده وړاندې وفات شوی وو؟

**ځواب**: اووه (۷) میاشتې وړاندې وفات شوی وو.

**(۷) پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم لومړنۍ پالنه د چا پر غاړه وه؟

**ځواب**: د هغه نېکه عبدالمطلب په غاړه وه.

**(۸) پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم څو کلن وو، چې مور یې وفات شوه؟

**ځواب**: شپږ (٦) کلن وو.

**(۹) پوښتنه**: د رسول الله صلی الله علیه وسلم مور کوم ځای کې وفات شوې وه؟

**ځواب**: په (ابوا) نومي ځای کې هغه وخت وفات شوه، چې محمد صلی الله علیه وسلم سره یو ځای له مدینې نه بېرته مکې ته روانه وه.

**(۱۰) پوښتنه**: د نبوت نه مخکې محمد صلی الله علیه وسلم ته قریشو کوم لقب ورکړی وو؟

**ځواب**: د امین (امانتدار) لقب یې ورکړی وو.

**(۱۱) پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د واده پر مهال د خدیجې رضي الله عنها عمر څو کاله وو؟

**ځواب**: تقریباً څلوېښت کلنه وه.

**(۱۲) پوښتنه**: د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمر د خدیجې رضي الله عنها سره د واده پر مهال څو کاله وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: پنځه ویشت (۲۵) کاله.

(۱۳) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت نه مخکې د کوم نبي په طریقه د الله تعالی عبادت کاوه؟

**ځواب**: د ابراهیم علیه السلام په طریقه.

(۱۴) **پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم به ولې له کلي څخه د نور غره (حرا غار) ته حضور ور وړه؟

**ځواب**: د مشرکانو د بت پرستۍ له امله یې په مکه کې زړه تنګ شو او له یوائې والي سره یې مینه پیدا شوه، تل به نور غره (حرا غار) ته.

(۱۵) **پوښتنه**: نور غر (حرا غار) له مسجد حرام څخه څومره واټن لري؟

**ځواب**: څلور (۴) کیلو متره واټن لري.

(۱٦) **پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی په څو کلنۍ کې پیغمبري ورکړه؟

**ځواب**: په څلوېښت (۴۰) کلنۍ کې.

(۱۷) **پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم په کوم ځای کې وو، چې جبرائیل امین ورته د الله تعالی له لوري لومړنۍ وحې راوړه؟

**ځواب**: په حرا غار کې وو.

(۱۸) **پوښتنه**: له نبوت نه وړاندې رسول الله صلی الله علیه وسلم څومره موده ښه- ښه خوبونه لیدل؟

**ځواب**: تر شپږو (٦) میاشتو پورې یې ښه - ښه خوبونه لیدل.

(۱۹) **پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم او ټوله کورنۍ یې په شعب ابي طالب کې څو کاله کلابند ول؟



**ځواب**: درې (۳) کاله.

(۲۰) **پوښتنه**: د عام الحُزن (د غم کال) کوم کال ته وایي؟

**ځواب**: هغه کال چې په کې د محمد صلی الله علیه وسلم تره ابوطالب او د ژوند ملګرې بي بي خدیجه رضي الله عنها وفات شول.

(۲۱) **پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د قریشو له اسلام راوړلو څخه ناهیلی شو، د څه لپاره طایف ته تللی وو؟

**ځواب**: رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې له خلکو څخه ناهېلې شو، نو د دعوت لپاره طایف ته تللی وو.

(۲۲) **پوښتنه**: لومړی هجرت حبشې ته د نبوت په څوم کال شوی وو؟

**ځواب**: د نبوت په پنځم (۵) کال، چې عثمان بن عفان رضي الله عنه او د هغه مېرمن رقیه رضي الله عنها سره څوارلسو صحابه کرامو هجرت کړی وو .

(۲۳) **پوښتنه**: د بدر په غزوه کې د مسلمانانو شمېر څومره وو؟

**ځواب**: (۳۱۳-۳۱۴-۳۱۷) درې روایتونه دي.

(۲۴) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د عایشې رضي الله عنها سره په کومه میاشت کې واده کړی وو؟

**ځواب**: د شوال په میاشت کې.

(۲۵) **پوښتنه**: حفصې رضي الله عنها سره محمد صلی الله علیه وسلم د هجرت په څوم کال واده کړی وو؟

**ځواب**: د هجرت په درېیم (۳) کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲٦) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د هجرت څخه وروسته څو حجونه ادا کړي ول؟

**ځواب**: یو حج (حجة الوداع)

(۲۷) **پوښتنه**: حجة الوداع د هجرت په څوم کال ترسره شوی وو؟

**ځواب**: د هجرت په لسم (۱۰) کال.

(۲۸) **پوښتنه**: د هجرت څوم کال د جرګو (عام الوفود) په کال ونومول شو؟

**ځواب**: د هجرت نهم (۹) کال.

(۲۹) **پوښتنه**: د مکې فتحه د هجرت په څوم کال وشوه؟

**ځواب**: د هجرت په اتم (۸) کال.

(۳۰) **پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت په څوم کال د نړۍ پاچاهانو ته لیکونه واستول؟

**ځواب**: د هجرت په شپږم (٦) کال وروستیو ورځو کې.

(۳۱) **پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم د څه لپاره د نړۍ پاچاهانو ته لیکونه واستول؟

**ځواب**: اسلام ته د رابللو لپاره.

(۳۲) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د فارس پاچا "کِسرا" ته د کوم صحابي په لاس لیک لیږلی وو؟

**ځواب**: د عبدالله بن حذافه السهمي رضي الله عنه په لاس.

(۳۳) **پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم د حبشې پاچا "نجاشي" ته د چا په لاس لیک لیږلی وو؟



**ځواب**: د عمرو بن امیه الضمرِي رضي الله عنه په لاس.

(۳۴) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د مصر پاچا "مقوقس" ته د چا په لاس لیک لیږلی وو؟

**ځواب**: د حاطب بن ابي بلتعه رضي الله عنه په لاس.

(۳۵) **پوښتنه**: هغې مبارزې یا غزوې ته څه وایي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پکې ګډون نه وي کړی؟

**ځواب**: داسې مبارزې ته (سِریه) وایي.

(۳٦) **پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم چې مدینې ته هجرت وکړ، لومړنی اقدام یې څه وو ؟

**ځواب**: د مسجد قباء او مسجد نبوي جوړول.

(۳۷) **پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم د نبوي مسجد ځمکه په بیه اخیستې وه او که چا وړیا ورکړې وه؟

ځواب: په بیه یې اخیستې وه.

(۳۸) **پوښتنه**: د هجرت په لومړنیو وختونو کې د نبوي مسجد مؤذن څوک وو؟

**ځواب**: بلال بن رباح رضي الله عنه.

(۳۹) **پوښتنه**: مدینې ته را رسېدو سره سم رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدینې منورې د کوم ځای خلکو سره میلمه شو؟

**ځواب**: د قباء خلکو سره.

(۴۰) **پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله قباء ته ورسېد، څو ورځې هملته پاتې شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: ځلور (۴) ورځې، چې په ځېنو روایتونو کې لس، دولس او څوارلس ورځې هم راغلي دي.

(۴۱) **پوښتنه**: د انصارو دولس کسیزه ډله د نبوت په څوم کال مکې ته تللې وه؟

**ځواب**: د نبوت په دولسم (۱۲) کال.

(۴۲) **پوښتنه**: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د معراج سفر له کوم ځای څخه پیل او په کوم ځای ختم شوی وو؟

**ځواب**: د محمد صلی الله علیه وسلم د معراج سفر د جبرائیل علیه السلام په ملګرتیا د مسجد حرام څخه پیل تر بیت المقدس پورې، هلته یې ټولو پیغمبرانو ته په امامتۍ لمونځ ادا کړ، بیا په همدې شپه د بیت المقدس څخه تر (۷) اسمانونو پورته ختلی وو او بېرته په مسجد حرام ختم شوی وو.

(۴۳) **پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم چې له اسرا او معراج سفر نه بېرته راته، الله تعالی کومه تحفه ورکړې وه؟

**ځواب**: د پنځو لمونځونو د فرضیت تحفه یې ورکړې وه.

(۴۴) **پوښتنه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسلام لومړنۍ بلنه چاته ورکړې وه؟

**ځواب**: خدیجې رضي الله عنها ته.

(۴۵) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم پټ دعوت د کوم سورت د ایتونو د نازلېدو څخه وروسته پیل کړ؟



**ځواب**: د «المدثر» سورت د ایتونو له نازلېدو سره سم، اسلام ته د محمد صلی الله علیه وسلم د بلنې دنده پیل شوه.

(۴۶) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم پټ دعوت څو کاله وکړ؟

**ځواب**: درې (۳) کاله.

(۴۷) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم ښکاره دعوت کله پیل کړ؟

**ځواب**: کله چې د سورت شعراء دا ایت نازل شو: ﴿وَأَنذِرۡ عَشِيرَتَكَ ٱلۡأَقۡرَبِينَ﴾ یعنې نژدې خپلوان دي، د الله تعالی له عذاب څخه ووېروه، نو محمد صلی الله علیه وسلم ښکاره بلنه خپلو نژدې خپلوانو ته ورکړه.

(۴۸) **پوښتنه**: د الله تعالی په لاره کې او د محمد صلی الله علیه وسلم د دفاع لپاره لومړی کوم صحابي توره له تیکې نه راویستلې وه؟

ځواب: زبیر بن عوام رضي الله عنه.

(۴۹) **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت مُهر د بدن په کومه برخه وو؟

**ځواب**: د دواړو اوږو په منځ یې د نبوت مُهر وو.

(۵۰) **پوښتنه**: د هجرت په شپږم کال چې محمد صلی الله علیه وسلم د نړۍ پاچاهانو ته لیکونه استولي ول، کومو پاچاهانو د هغه د لیک عزت کړی وو؟

**ځواب**: د روم پاچا هِرَقْل او د مصر پاچا مُقَوقِس.

(۵۱) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د ربیع الاول د میاشتې په څوم تاریخ پیدا شوی وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: لومړی روایت: د ربیع الاول میاشتې په دولسم (۱۲).

او دویم روایت: د ربیع الاول د میاشتې په (۹).

(۵۲) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د عام الفیل نه څو ورځې وروسته پیدا شوی وو؟

**ځواب**: پنځوس (۵۰) یا پنځه پنځوس (۵۵) ورځې وروسته.

(۵۳) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د ورځې په کوم وخت کې زیږیدلی؟

**ځواب**: د دوشنبې ورځ سهار وخت کې.

(۵۴) **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم د پیدایښت په وخت کې څه عجاییات واقع شوي ول؟

**ځواب**: د ستورو رانږدې کېدل، پیدایښت وخت کې رڼا پیدا کېدل چې ټوله کوټه یې رڼا کړې وه، فارس کې د زر (۱۰۰۰) کلن اور مړ کېدل، فارس اوسېدونکو باندې زلزله راتلل او په فارس کې د کلیساوو نړېدل.

(۵۵) **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم رضاعي میندې څو دي؟

**ځواب**: دوه (۲)، ثوبیه او حلیمه السعدیه دي.

(۵۶) **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم د پیدایښت په زیري کې ابولهب کومه وینځه ازاده کړې وه؟

**ځواب**: ثوبیه.

(۵۷) **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم د رضاعت موده د حلیمه السعدیه سره څو کاله وه؟



**ځواب**: دوه (۲) کاله.

(۵۸) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم څو کلن وو، چې شق الصّدر واقعه (سینې څیرې کول) پیښه شوه؟

**ځواب**: څلور (۴) کلن یا پنځه (۵) کلن وو، چې دا واقعه پېښه شوې وه.

(۵۹) **پوښتنه**: بي بي حلیمې السعدیي د محمد صلی الله علیه وسلم څو کاله پالنه او روزنه وکړه؟

**ځواب**: دې کې دوه (۲) روایتونه دي: څلور (۴) کاله یا پنځه (۵) کاله.

(۶۰) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم ته خپلې مور څو ورځې تی ورکړی وو؟

**ځواب**: اووه (۷) ورځې.

(۶۱) **پوښتنه**: عبدالمطلب د محمد صلی الله علیه وسلم څو کاله خدمت کړی وو؟

**ځواب**: دوه (۲) کاله.

(۶۲) **پوښتنه**: د عبدالمطلب وفات کېدو په وخت کې، د محمد صلی الله علیه وسلم عمر څو کاله وو؟

**ځواب**: اته (۸) کاله، دوه (۲) میاشتې او لس (۱۰) ورځې وو.

(۶۳) **پوښتنه**: ابوطالب د محمد صلی الله علیه وسلم څو کاله خدمت کړی وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: تر بالغ توب پورې یې خدمت کړی وو او څه دپاسه څلوېښت (۴۰) کاله یې ملاتړی وو.

(٦۴) **پوښتنه**: ایا محمد صلی الله علیه وسلم ګډې او بیزې څرولې دي؟

**ځواب**: هو.

(٦۵) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم څو کلن وو، چې د خپل تره ابو طالب او د عربو تجارتي قافلې سره شام ته تللی وو؟

**ځواب**: دولس (۱۲) کلن وو.

(٦٦) **پوښتنه**: د واده نه مخکې محمد صلی الله علیه وسلم د څو اوښانو په بدل کې د خدیجې رضي الله عنها مال د مکې څخه شام ته د خرڅولو او هغه ځای نه نوی مال مکې ته تجارت لپاره را نقل کړی وو؟

**ځواب**: د څلورو (۴) اوښانو په بدل کې.

(٦٧) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم چې د خدیجې رضي الله عنها مال له مکې څخه شام ته وړه، د خدیجې رضي الله عنها کوم غلام ورسره په سفر کې ملګری وو؟

**ځواب**: میسره.

(٦٨) **پوښتنه**: میسره چې کله د محمد صلی الله علیه وسلم سره له شام نه راوګرځېد، خدیجې رضي الله عنها ته یې د محمد صلی الله علیه وسلم کوم صفتونه بیان کړل؟



**ځواب**: کله چې بېرته مکې مکرمې ته راغی، میسره ورته د ده مبارک د خوږو اخلاقو، لوړو کړنو، روغ فکر، رېښتینو خبرو او باوري راکړې ورکړې په هکله د خپلو سترګو لیدلی حال بیان کړ.

(٦٩) **پوښتنه**: نجاشي پاچا محمد صلی الله علیه وسلم ته کومه صحابیه د څلور سوه دینارو په بدل کې نکاح کړه؟

**ځواب**: ام حبیبه (رضي الله عنها) چې مَهر یې هم نجاشي پاچا ورکړی وو.

(۷۰) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم خدیجې رضي الله عنها ته په مَهر کې څو اوښان ورکړي ول؟

**ځواب**: شل (۲۰) اوښان.

(۷۱) **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم لومړنی ماشوم له خدیجې رضي الله عنها نه کوم یو پیدا شو؟

**ځواب**: قاسم.

(۷۲) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم څو زامن او څو لورګانې درلودلې؟

**ځواب**: درې (۳) زامن او څلور (۴) لورګانې.

(۷۳) **پوښتنه**: په صحابیاتو کې کومه یوه صحابیه وه، چې هغې ته الله تعالی سلام رالېږلی وو؟

**ځواب**: خدیجة الکبری رضي الله عنها.

(۷۴) **پوښتنه**: په محمد صلی الله علیه وسلم باندې د وحې پیل په کومه میاشت کې وشو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: د رمضان په میاشت کې.

(۷۵) **پوښتنه**: په محمد صلی الله علیه وسلم باندې د وحې پیل په کومه شپه کې وشو؟

**ځواب**: د دوشنبې په شپه.

(۷٦) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د لومړنۍ وحې د نزول نه وروسته لومړی چاته د دې واقعې خبر ورکړ؟

**ځواب**: خدیجې رضي الله عنها ته.

(۷۷) **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت دوره په مکه کې څو کاله وه؟

**ځواب**: دیارلس (۱۳) کاله.

(۷۸) **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت دوره په مدینه کې څو کاله وه؟

**ځواب**: لس (۱۰) کاله.

(۷۹) **پوښتنه**: په اسلام کې اوله شهیده کومه صحابیه وه؟

**ځواب**: سُمیَه رضي الله عنها.

(۸۰) **پوښتنه**: هغه کوم څلور صحابه کرام دي چې د نبوت په اوله ورځ یې په محمد صلی الله علیه وسلم باندې ایمان راوړی وو؟

**ځواب**: خدیجه رضي الله عنها، ابوبکر صدیق رضي الله عنه، علي بن ابي طالب رضي الله عنه او زید بن حارثه رضي الله عنه، چې د محمد صلی الله علیه وسلم غلام وو.



(۸۱) **پوښتنه**: طفیل بن عمرو الدوسي رضي الله عنه د نبوت په څوم کال ایمان او اسلام راوړی وو؟

**ځواب**: د نبوت په یوولسم (۱۱) کال.

(۸۲) **پوښتنه**: بلال بن رباح رضي الله عنه د کوم صحابي په لاس ایمان او اسلام راوړی وو؟

**ځواب**: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه په لاس.

(۸۳) **پوښتنه**: په اسلام کې لومړی شهید کوم صحابي دی؟

**ځواب**: یاسر رضي الله عنه.

(۸۴) **پوښتنه**: حبشې ته په دویم ځل هجرت کې څو تنه صحابه کرام او څو تنو صحابیاتو برخه اخیستې وه؟

**ځواب**: درې اتیا (۸۳) نارینه او اتلس (۱۸) ښځو برخه اخیستې وه.

(۸۵) **پوښتنه**: حمزه رضي الله عنه په محمد صلی الله علیه وسلم باندې د نبوت په څوم کال ایمان راوړی وو؟

**ځواب**: د نبوت په شپږم (٦) کال.

(۸٦) **پوښتنه**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه د ایمان راوړلو وجه او سبب څه وو؟

**ځواب**: لومړی سبب: محمد صلی الله علیه وسلم ورته دعاء کړې وه، د دویم سبب: د کفر په حالت کې یې د محمد صلی الله علیه وسلم څخه په لمونځ کې الحاقه سورت ﴿وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ﴾ اوریدلی وو.

(۸۷) **پوښتنه**: له محمد صلی الله علیه وسلم سره مدینې ته په هجرت کولو کې کوم صحابي ملګری وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: ابوبکر صديق رضي الله عنه.

(۸۸) **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم د خديجې رضي الله عنها د وفات نه وروسته کومه صحابيه په نکاح کړه؟

**ځواب**: ام المومنين سوده رضي الله عنها.

(۸۹) **پوښتنه**: د لومړي ځل لپاره اووه (۷) پيريانو په محمد صلی الله عليه وسلم باندې په کوم ځای کې ايمان راوړی وو؟

**ځواب**: په بطن نخله ځای کې.

(۹۰) **پوښتنه**: د محمد صلی الله عليه وسلم د اِسرا او معراج سفر لومړی تصديق چا وکړ؟

**ځواب**: ابوبکر صديق رضي الله عنه.

(۹۱) **پوښتنه**: په اسلام کې لومړنی کس چې محمد صلی الله عليه وسلم د دعوت لپاره مدني ته وليږه څوک وو؟

**ځواب**: مصعب بن عمير رضي الله عنه.

(۹۲) **پوښتنه**: په لومړي بَيعة العَقَبَة کې محمد صلی الله عليه وسلم له څو کسانو نه بيعت واخيسته؟

**ځواب**: دولس (۱۲) کسانو نه، چې مدينې منورې پورې يې اړه درلوده.

(۹۳) **پوښتنه**: دويم بيعة العقبه د مدينې والاو سره د نبوت په کوم کال وشو؟

**ځواب**: د نبوت په ديارلسم (۱۳) کال.



(۹۴) **پوښتنه**: په دويم بيعة العَقَبَة کې د مدينې والاو شمېر څومره وو؟

**ځواب**: په يو روايت کې څه د پاسه اويا (۷۰) او په بل روايت کې پوره درې اويا (۷۳) ښودل شوي دي.

(۹۵) **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم او ابوبکر صديق رضي الله عنه د هجرت سفر د مکې کوم طرف نه پيل کړی وو؟

**ځواب**: د جنوب طرف نه.

(۹۶) **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم هجرت په کومه مياشت کې پيل کړی وو؟

**ځواب**: د صفرې په مياشت کې.

(۹۷) **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم او ابوبکر صديق رضي الله عنه مدينې ته هجرت کولو په وخت کې په ثور غار کې څوشپې تيرې کړې وې؟

**ځواب**: درې (۳) شپې.

(۹۸) **پوښتنه**: د محمد صلی الله عليه وسلم په نيولو باندې مشرکينو د څو اوښانو انعام ورکولو اعلان کړی وو؟

**ځواب**: د سل (۱۰۰) اوښانو.

(۹۹) **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم مدينې ته د هجرت کولو په وخت کې کوم کس د لارښود په توګه په مزدورۍ نيولی وو؟

**ځواب**: عبدالله بن اُرَيقِط چې مشرک وو، هغه يې د مزدورۍ په بدل کې مقرر کړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(١٠٠) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم او ابوبکر صديق رضي الله عنه چې مدينې ته هجرت کاوه، په کومه ورځ قباء ته ورسېدل؟

**ځواب**: د دوشنبې په ورځ.

(١٠١) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم او ابوبکر صديق رضي الله عنه د ربيع الاول د مياشتې په څوم تاريخ قُباء ته ورسېدل؟

**ځواب**: د ربيع الاول د مياشتې په اتم (٨) تاريخ.

(١٠٢) **پوښتنه**: علی رضي الله عنه د محمد صلی الله علیه وسلم څخه څو ورځې وروسته قُباء ته ورسېد؟

**ځواب**: درې (٣) ورځې وروسته.

(١٠٣) **پوښتنه**: په مدينه کې څو ډلو ژوند کاوه؟

**ځواب**: درې (٣) ډلو.

لومړی: د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپېڅلي او پاک مسلمانان ملګري.

دويم: د مدينې اوسېدونکي، چې ايمان يې نه وو راوړی، چې مشري يې عبدالله بن اُبی کوله.

درېيم: يهودان.

(١٠۴) **پوښتنه**: کوم صحابي بغير له سورلۍ نه مدينې منورې ته پياده هجرت کړی وو؟

**ځواب**: علي رضي الله عنه.

(١٠۵) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم له قُباء څخه مدينې ته په کومه ورځ حرکت وکړ؟



**ځواب**: د جمعې په ورځ.

(١٠٦) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم چې کله مدينې ته ورسېد، د کوم صحابي کور کې دېره شو؟

**ځواب**: د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه کور کې.

(١٠٧) **پوښتنه**: په محمد صلی الله علیه وسلم باندې د هغه کومو ترونو (کاکاګانو) ايمان راوړی وو؟

**ځواب**: عباس رضي الله عنه او حمزه رضي الله عنه.

(١٠٨) **پوښتنه**: د نبي عليه السلام د بيبيانو نومونه څه وه؟

**ځواب**: نومونه يې په لاندې ډول دي:

(١) خديجه بنت خويلد رضي الله عنها.

(٢) ام حبيبه رضي الله عنها.

(٣) سوده بنت زمعة رضي الله عنها.

(۴) جويريه بنت حارث رضي الله عنها.

(۵) عايشة بنت ابي بکر رضي الله عنها.

(٦) صفيه رضي الله عنها.

(٧) حفصه بنت عمر بن خطاب رضي الله عنها.

(٨) ميمونه رضي الله عنها.

(٩) زينب بنت جحش رضي الله عنها.

(١٠) زينب بنت خزيمة رضي الله عنها.

(١١) اُمّ سَلَمه هند بنت ابي اميه رضي الله عنها.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰۹) **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم نارینه اولادونه څه نومېدل؟

**ځواب**: قاسم، عبدالله او ابراهیم.

(۱۱۰) **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم ښځینه اولادونه څه نومېدل؟

**ځواب**: زینب، کلثوم، رقیه او فاطمه رضي الله عنه.

(۱۱۱) **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم زومان (د لوڼو خاوندان) څه نومېدل؟

**ځواب**: علي بن ابي طالب، عثمان بن عفان او ابو العاص بن الربیع رضي الله عنهم.

(۱۱۲) **پوښتنه**: په قران کریم کې د محمد صلی الله علیه وسلم نوم څو ځلې ذکر شوی دی؟

**ځواب**: محمد نوم یې څلور (۴) ځلې او احمد نوم یې یو ځل ذکر شوی.

(۱۱۳) **پوښتنه**: د نبي علیه السلام په ژوند باندې د هغه څو مېرمنې وفات شوې وې؟

**ځواب**: دوه مېرمنې؛ خدیجه رضي الله عنها، زینب بنت خُزَیمه رضي الله عنها.

(۱۱۴) **پوښتنه**: د نبي علیه السلام په ژوند باندې دهغه څو لورګانې وفات شوې وې؟

**ځواب**: درې لورګانې: رقیه رضي الله عنها، کلثوم رضي الله عنها، او زینب رضي الله عنها.



(۱۱۵) **پوښتنه**: په محمد صلی الله علیه وسلم باندې دا نوم چا کېښود؟

**ځواب**: خپل نیکه یې عبدالمطلب.

(۱۱۶) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم لومړنی او وروستنی نکاح له چا سره کړې وه؟

**ځواب**: اوله نکاح یې د خدیجې رضي الله عنها سره او اخرنی یې د میمونې رضي الله عنها سره کړې وه.

(۱۱۷) **پوښتنه**: کوم صحابه کرام د نبي علیه السلام شکل ته ورته وه؟

**ځواب**: جعفر، ابو سفیان بن الحارث، قُثم بن عباس، سایب بن عبید او حسن بن علي رضي الله عنهم.

(۱۱۸) **پوښتنه**: د مکې مشرکانو چې کله د کعبې ابادي کوله، نو په دې مهال نبي علیه السلام څو کلن وو؟

**ځواب**: پنځه دېرش (۳۵) کلن وو.

(۱۱۹) **پوښتنه**: د حرب الفجار پر مهال د نبي علیه السلام عمر څو کاله وو؟

**ځواب**: د پنځلسو (۱۵) او نولسو (۱۹) کالو ترمنځ وو.

(۱۲۰) **پوښتنه**: نبي علیه السلام ته لومړی وحې په کومه نېټه راغلې وه؟

**ځواب**: د رمضان میاشتې په ۲۱ نېټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۲۱) **پوښتنه**: په لومړي وحې کې د سورت العلق څو ايتونه نازل شوې وو؟

**ځواب**: د سورت العلق پنځه لومړني ايتونه.

(۱۲۲) **پوښتنه**: د سورت العلق د پنځو ايتونو د نزول نه وروسته څومره موده وحې بنده وه؟

**ځواب**: څلوېښت (۴۰) ورځې.

(۱۲۳) **پوښتنه**: په دويم ځل وحې کې د کوم سورت اياتونه نازل شول؟

**ځواب**: د سورتِ مدثر لومړني ايتونه.

(۱۲٤) **پوښتنه**: په حبشه کې لومړنيومهاجرينو څومره وخت تير کړی وو؟

**ځواب**: درې (۳) مياشتې.

(۱۲۵) **پوښتنه**: نبي عليه السلام د طايف په لور دعوتي سفر په کومه نېټه کړی وو، او د سفر ملګری يې څوک وو؟

**ځواب**: د نبوت لسم کال، د شوال مياشت وه او د سفر ملګری يې زيد بن حارثه رضي الله عنه وو.

(۱۲٦) **پوښتنه**: نبي عليه السلام په طايف کې د دعوت لپاره د چا ځای ته ورغلی وو؟

**ځواب**: د عمرو بن عمير الثقفي ځای ته ورغلی وو.

(۱۲۷) **پوښتنه**: نبي عليه السلام په طايف کې څو ورځې تېرې کړې وې؟

**ځواب**: لس (۱۰) ورځې.



(۱۲۹) **پوښتنه**: د طايف په دعوتي سفر کې يو کس مسلمان شو، هغه څوک وو؟

**ځواب**: عدّاس نومېده، چې نصراني دين باندې يې عقيده لرله او اصل د عراق د (نيونا) علاقې وو.

(۱۳۰) **پوښتنه**: د طايف دعوتي سفر نه وروسته چې کله محمد صلی الله عليه وسلم مکې ته داخلېده، نو چا ورته پناه ورکړه؟

**ځواب**: مطعم بن عدي.

(۱۳۱) **پوښتنه**: نبي عليه السلام مدينې ته د هجرت کولو امر کله وکړ؟

**ځواب**: د عقبهٔ ثاني بيعت نه وروسته.

(۱۳۲) **پوښتنه**: په دارُالنّدوَه، کې د نبي عليه السلام په خلاف مجلس په کومه ورځ او په کومه نېټه شوی وو؟

**ځواب**: د پنجشنبې ورځ، د صفر المظفّر مياشتې (۲٦)، د نبوت څوارلسم کال، د عقبه ثاني نه دوه نيمې (۲،۵) مياشتې وروسته داير شوی وو.

(۱۳۳) **پوښتنه**: د دارالندوې په مجلس کې د مکې کومو مشرانو ګډون کړی وو؟

**ځواب**: ابو جهل بن هشام، جُبَيرِ بْنِ مُطْعِم، طُعَيمه بن عدي، شيبه بن ربيعه، عتبه بن ربيعه ،ابوسفيان بن حرب، نضر بن الحارث، اَبوالْبَخْتَري عاص بن هشام، زَمعَهَ بن الْاسود او اُمَيهَ بْنِ خَلَف.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۳۴) **پوښتنه**: د دارالندوې په پای کې د محمد صلی الله علیه وسلم په مرګ پرېکړه وشوه، کوم خلک د دې کار د ترسره کولو لپاره د محمد صلی الله علیه وسلم د کور دروازې ته ودرېدل؟

**ځواب**: (۱) ابو جهل بن هشام ، (۲) عقبة بن ابي معيط ، (۳) طُعَيمة بن عدي، (۴) أُمَيةِ بْنِ الاسود ، (۵) أُبی بن خلف ، (٦) ابولهب ، (۷) نضر بن الحارث، (۸) نبيه بن الحجاج ، (۹) مُنَبِّه بن الحجاج او (۱۰) حَكَم بن ابي العاص.

(۱۳۵) **پوښتنه**: له ثور غار څخه تر مدينې منورې پورې د نبي علیه السلام او ابو بكر الصديق رضي الله عنه لارښود څوک وو؟

**ځواب**: عبدالله بن أُرَيقِط.

(۱۳٦) **پوښتنه**: په مدينه منوره کې د يهودو څو قبيلې اوسېدلې؟

**ځواب**: درې قبيلې: (۱) بنو قَيْنُقَاع، (۲) بنو النّضير، (۳) بنو قُرَيْظَة.

(۱۳۷) **پوښتنه**: مسجد قباء له مدينې منورې څخه څو کيلو متره فاصله کې پروت دی؟

**ځواب**: تقريباً پنځه (۵) کيلومتره فاصله کې پروت دی.

(۱۳۸) **پوښتنه**: نبي علیه السلام مدينې منورې ته په کومه ورځ داخل شو؟

**ځواب**: د جمعې په ورځ.

(۱۳۹) **پوښتنه**: په مدينه منوره کې د منافقانو رئيس څوک وو؟

**ځواب**: عبدالله بن أُبی بن سلول.

(۱۴۰) **پوښتنه**: د مدينې منورې مؤمنان په څو برخو وويشل شول؟



**جواب**: په دوه برخو: مهاجرين او انصار.

(۱۴۱) **پوښتنه**: حمزه رضي الله عنه د محمد صلی الله علیه وسلم سره د خپلولۍ څه رشته لرله؟

**ځواب**: تره او رضاعي ورور يې وو.

(۱۴۲) **پوښتنه**: غزوه کوم غزا ته وايي؟

**ځواب**: هغه غزا ته وايي، چې نبي علیه السلام پخپله پکې ګډون کړی وي.

(۱۴۳) **پوښتنه**: په اسلام کې لومړنۍ ستره غزا کومه يوه ده؟

**ځواب**: د بدر غزا.

(۱۴۴) **پوښتنه**: د بدر غزا د پېښېدو سبب څه وو؟

**ځواب**: د ابو سفيان قافلې د نيولو غوښتنه، د بدر د غزا سبب وګرځېد.

(۱۴۵) **پوښتنه**: د ابو سفيان په قافله کې په څومره اوښانو مال رابار شوی وو؟

**ځواب**: په (۱۰۰۰) اوښانو.

(۱۴٦) **پوښتنه**: د ابو سفيان په قافله کې څومره نفر ول؟

**ځواب**: څلوېښت (۴۰) نفره.

(۱۴۷) **پوښتنه**: د ابوسفيان په قافله کې د څو زره دينارو مال موجود وو؟

**ځواب**: د پنځوس زره (۵۰۰۰۰) دينارو.

(۱۴۸) **پوښتنه**: په بدر غزوه کې له صحابه وو سره څو اسونه ول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: دوه اسونه: یو د زبیر بن العوام سره وو او بل د مقداد بن الاسود رضي الله عنهم سره وو.

(۱۴۹) **پوښتنه**: د بدر په ورځ مسلمانانو سره څو اوښان ول؟

**ځواب**: اویا (۷۰) اوښان.

(۱۵۰) **پوښتنه**: کوم صحابي ته په خوب کې اذان او اقامت وښودل شو؟

**ځواب**: عبد الله بن زَید بن عبد ربِّه رضي الله عنه.

(۱۵۱) **پوښتنه**: په جنة البقیع کې لومړی کوم صحابي دفن شو؟

**ځواب**: عثمان بن مظعون رضي الله عنه.

(۱۵۲) **پوښتنه**: ابو سفیان د قافلې د نجات په خاطر له چا نه معلومات واخیستل؟

**ځواب**: مَجْدِي بْنُ عَمْرو څخه.

(۱۵۳) **پوښتنه**: د بدر غزا په دوران کې نبي علیه السلام د نبوي مسجد د امامت لپاره څوک مقرر کړی وو؟

**ځواب**: عبدالله ابن ام مکتوم رضي الله عنه.

(۱۵۴) **پوښتنه**: د بدر غزا په دوران کې د مدینې منورې چارې نبي علیه السلام چا ته وسپارلې؟

**ځواب**: ابو لُبَابَة بن عَبْد المُنْذِر رضي الله عنه ته.

(۱۵۵) **پوښتنه**: د بدر په غزا کې د مهاجرینو بیرغ چا سره وو؟

**ځواب**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه سره.



(۱۵۶) **پوښتنه**: له علي بن ابي طالب رضي الله عنه سره چې کوم بیرغ وو په څه نوم یادېده؟

**ځواب**: د العُقَاب په نوم یادېده.

(۱۵۷) **پوښتنه**: د بدر غزوه کې د انصارو بیرغ چا سره وو؟

**ځواب**: د سعد بن مُعاذ رضي الله عنه سره وو، او دواړه بیرغونه تور ول.

(۱۵۸) **پوښتنه**: د بدر غزوه کې د لښکر په ښي او چپ طرف کې نبي علیه السلام څوک مقرر کړي ول؟

**ځواب**: په ښي طرف کې زبیر بن العوام رضي الله عنه او په چپ طرف کې مقداد بن عمرو رضي الله عنه.

(۱۵۹) **پوښتنه**: د بدر د غزا عامه مشري چا سره وه؟

**ځواب**: نبي علیه السلام سره وه.

(۱۶۰) **پوښتنه**: د بدر د غزا ورځ په تاریخ کې په څه نوم یادېږي؟

**ځواب**: یوم الفرقان.

(۱۶۱) **پوښتنه**: ابوسفیان چې کله محسوس کړه، چې اوس یې قافله په خطر کې ده، نو د خلکو د خبرولو لپاره یې مکې ته څوک ولېږه؟

**ځواب**: ضمضم بن عمرو الغفاري.

(۱۶۲) **پوښتنه**: د بدرغزا ته ولې د بدرغزا وایي؟

**ځواب**: بدر د مدینې څخه غرب طرف ته یوه علاقه ده او هلته دا غزا واقع شوې دی، بله داچې بدر د یو سړي نوم دی، چې دا علاقه هم د هغه په نوم یادېږي، چې «بدر بن یخلُد بن نضر» نومېده او ځېنې وایي، بدر د کوهي نوم دی، چې هلته واقع وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱٦۳) **پوښتنه**: د مکې د مشرکانو په سردارانو کې کوم يو د بدر غزا ته نه وو حاضر شوی؟

**ځواب**: ابو لهب.

(۱٦۴) **پوښتنه**: د بدر په غزوه کې د قريشو کومه يوه قبيله غزا ته حاضره نه شوه؟

**ځواب**: د بنو عدي قبيله.

(۱٦۵) **پوښتنه**: د بدر په غزا کې د ابو جهل د ډلې شمېر څو تنه وو؟

**ځواب**: زر (۱۰۰۰) تنه.

(۱٦٦) **پوښتنه**: د بدر په غزوه کې مشرکينو څو اسونه درلودل؟

**ځواب**: سل (۱۰۰) اسونه.

(۱٦۷) **پوښتنه**: د بدر په غزوه کې مشرکينو څو زغرې درلودې؟

**ځواب**: اووه سوه (۷۰۰).

(۱٦۸) **پوښتنه**: د بدر په غزوه کې مشرکينو په ورځ کې څو اوښان ذبحه کول؟

**ځواب**: نهه (۹) يا لس (۱۰) اوښان.

(۱٦۹) **پوښتنه**: د بدر غزوې لپاره د مشرکينو څو مشرانو خلک غزا ته تيارول؟

**ځواب**: نهه (۹) مشرانو.

(۱۷۰) **پوښتنه**: د سيف البحر (د بحر د غاړې) سريه د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب**: د هجرت په لومړي کال او د رمضان په مياشت کې.



(۱۷۱) **پوښتنه**: د بدر غزا ته چې قريش راوتلي ول، لاره کې کومه قبيله د ابو جهل له ډلې څخه جدا شوه؟

**ځواب**: بني زهره قبيله چې اخنس بن شريق يې مشر وو او ټول درې سوه (۳۰۰) کسان وه.

(۱۷۲) **پوښتنه**: هغه کومه قبيله وه، چې د بدر غزا کې د مشرکينو ډلې څخه جدا کېده خو ابو جهل پرېنښوده؟

**ځواب**: بنو هاشم قبيله.

(۱۷۳) **پوښتنه**: د ابوسفيان د قافلې د موقعيت معلومولو لپاره نبي عليه السلام کوم ملګري ولېږل؟

**ځواب**: بَسبَس بن عمرو الجُهَنِي رضي الله عنه او عَدِيّ بن ابي الزّغبَاءِ رضي الله عنه.

(۱۷۴) **پوښتنه**: په اسلام کې لومړنۍ سريه په کوم نوم يادېږي؟

**ځواب**: سيف البحر سريه.

(۱۷۵) **پوښتنه**: د سيف البحر سريه مشري د چا په غاړه وه؟

**ځواب**: د حمزه رضي الله عنه پرغاړه وه.

(۱۷٦) **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم د الخرار سِريه چې په شلو (۲۰) کسانو مشتمله وه، د چا په مشرۍ د الخرار علاقې ته د قريشو قافلې د مقابلې لپاره ولېږله؟

**ځواب**: د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په مشرۍ.

(۱۷۷) **پوښتنه**: غزوة الابوا او ودان غزا چې محمد صلی الله عليه وسلم يې مشري کوله، څو صحابه کرام ورسره ملګري ول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: اویا (۷۰) صحابه کرام ورسر مل ول.

(۱۷۸) **پوښتنه**: غزوة الابوا او ودان غزا د هجرت په څوم کال واقع شوې ده؟

**ځواب**: د هجرت په دویم (۲) کال.

(۱۷۹) **پوښتنه**: په غزوة الابوا او ودان غزا کې محمد صلی الله علیه وسلم بیرغ چا ته ورکړی وو؟

**ځواب**: حمزه بن عبدالمطلب رضي الله عنه ته.

(۱۸۰) **پوښتنه**: په غزوه بُواط کې چې محمد صلی الله علیه وسلم یې مشري کوله، څو صحابه کرام ورسره ملګري ول؟

**ځواب**: دوه سوه (۲۰۰) کسان.

(۱۸۱) **پوښتنه**: کله چې محمد صلی الله علیه وسلم غزوة بُواط ته، ته، په نبوي مسجد باندې یې څوک مقرر کړ؟

**ځواب**: سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه.

(۱۸۲) **پوښتنه**: بُواط علاقه د مدینې منورې نه څو میله لرې ده؟

**ځواب**: پنځه پنځوس (۵۵) میله.

(۱۸۳) **پوښتنه**: غزوة سفوان کې چې محمد صلی الله علیه وسلم یې مشري کوله، څو صحابه کرام ورسره ملګري ول؟

**ځواب**: اویا (۷۰) صحابه کرام ورسره ول.

(۱۸۴) **پوښتنه**: په غزوة سفوان کې محمد صلی الله علیه وسلم د غزا بیرغ چا ته ورکړی وو؟

**ځواب**: علي بن طالب رضي الله عنه ته.



(۱۸۵) **پوښتنه**: هغه کومه یوه سریه ده، چې په قران کریم کې یې ذکر شوی، چې مشري یې عبدالله بن جحش رضي الله عنه کوله؟

**ځواب**: سریه بطنِ نخله.

(۱۸۶) **پوښتنه**: روژه د هجرت په څوم کال فرض شوې ده؟

**ځواب**: د هجرت په دویم (۲) کال.

(۱۸۷) **پوښتنه**: د قِبلې بدلېدل د بیت المقدس څخه بیت الله ته د هجرت په څوم کال واقع شول؟

**ځواب**: د هجرت په دویم (۲) کال.

(۱۸۸) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم څو میاشتې بیت المقدس ته لمونځ کاوه؟

**جواب**: اوولس (۱۷) یا اتلس (۱۸) میاشتې.

(۱۸۹) **پوښتنه**: جهاد د هجرت په څوم کال فرض شو؟

**ځواب**: د هجرت په دویم (۲) کال.

(۱۹۰) **پوښتنه**: دبدر غزوه د هجرت په څوم کال واقع شوه؟

**ځواب**: د هجرت په دویم (۲) کال.

(۱۹۱) **پوښتنه**: د بدرغزا په اړه کوم سورت نازل شوی دی؟

**ځواب**: سورتِ انفال.

(۱۹۲) **پوښتنه**: د بدر غزوه په کومه میاشت کې واقع شوې؟

**ځواب**: د رمضان میاشت کې.

(۱۹۳) **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د بدر په غزا کې د عمومي لښکر بیرغ چاته ورکړی وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: مصعب بن عمير رضي الله عنه ته.

(۱۹۴) **پوښتنه**: د بدر غزا د رمضان په څومه نېټه واقع شوې وه؟

**ځواب**: د رمضان په اولسمه (۱۷) نېټه.

(۱۹۵) **پوښتنه**: ابو سلمه رضي الله عنه د محمد صلی الله عليه وسلم سره د خپلوۍ څه رشته لرله؟

**ځواب**: رضاعي ورور او د عمه زوی يې وو.

(۱۹٦) **پوښتنه**: د بدر غزا نه مخکې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د استخباراتي معلوماتو په خاطر کوم ملګري واستول، چې د ابو جهل د ډلې حال معلوم کړي؟

**ځواب**: علي بن ابي طالب، زبير بن عوام او سعد بن ابي وقاص رضي الله عنهم.

(۱۹۷) **پوښتنه**: نبي عليه السلام د کوم صحابي په مشوره د بدر په منطقه کې ميدان پرېښود او د اوبو څنګ ته لاړ؟

**ځواب**: د حُبَاب بن مُنْذِر رضي الله عنه په مشوره.

(۱۹۸) **پوښتنه**: نبي عليه السلام ته د بدر په ورځ کوم صحابي وويل: «ای د الله تعالی رسوله! مونږ به ستا لپاره يو (عريش) څپره جوړه کړو او ته د هغې لاندې کېنه»؟

**ځواب**: سعد بن معاذ رضي الله عنه.

(۱۹۹) **پوښتنه**: په بدر غزا کې د مؤمنانو څواک معلومولو لپاره ابو جهل څوک استولی وو؟

**ځواب**: عُمير بن وهب الجمحي.



(۲۰۰) **پوښتنه**: په بدر غزا کې د ابوجهل له ډلې څخه لومړی څوک مړ شو او د چا له خوا ووژل شو؟

**ځواب**: اسود بن عبد الاسد المخزومي وو چې د حمزه رضي الله عنه لخوا ووژل شو.

(۲۰۱) **پوښتنه**: په بدر غزوه کې د عُتبَه، شَيبه او وليد مقابلې لپاره محمد صلی الله عليه وسلم څوک ميدان ته ولېږل؟

**ځواب**: علي، حمزه او عبيده بن الحارث رضي الله عنهم.

(۲۰۲) **پوښتنه**: په بدر غزوه کې چې کله د ملايکو په بڼه اسماني مرسته راغله، نبي کريم صلی الله عليه وسلم د ملايکو د راتلو لومړی زيری چا ته ورکړ؟

**ځواب**: ابوبکر الصديق رضي الله عنه ته.

(۲۰۳) **پوښتنه**: د بدر غزوه کې ابليس د چا په شکل راغلی وو؟

**ځواب**: د سراقه بن مالک په شکل.

(۲۰۴) **پوښتنه**: په بدر غزوه کې په ابو جهل باندې قاتلانه حمله چا وکړه؟

**ځواب**: معاذ بن عمرو بن الجموح رضي الله عنه او معوذ ابن عفراء.

(۲۰۵) **پوښتنه**: د بدر په غزا کې د ابو جهل نه سر چا غوڅ کړ؟

**ځواب**: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه.

(۲۰٦) **پوښتنه**: نبي کريم صلی الله عليه وسلم د بدر په ورځ، صحابه کرام د کومو خلکو د وژلو نه منع کړي ول؟

**ځواب**: عباس بن عبدالمطلب، ابو البختري بن هشام او هر هغه څوک چې «هاشمي» وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲۰۷) **پوښتنه**: په بدر غزا کې اُمیه بن خَلَف چې د ابوجهل له ډلې څخه وو، د چا له خوا ووژل شو؟

**ځواب**: د بلال بن رباح، عمار بن یاسر رضي الله عنهما او نورو انصارو مجاهدینو له خوا ووژل شو.

(۲۰۸) **پوښتنه**: هغه کوم صحابي وو، چې د هغه توره د بدر په غزا کې ماته شوه، نبي علیه السلام ورته یوه لخته ورکړه او له هغې نه توره جوړه شوه؟

**ځواب**: عُکاشه بن مِحصَن الاسدي رضي الله عنه.

(۲۰۹) **پوښتنه**: په بدر غزا کې عاص بن هشام د چا له خوا ووژل شو؟

**ځواب**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه لخوا.

(۲۱۰) **پوښتنه**: په بدر غزا کې عمر بن خطاب رضي الله عنه کوم یو خپل وواژه؟

**ځواب**: خپل ماما، عاص بن هشام.

(۲۱۱) **پوښتنه**: د بدر په غزا کې څو صحابه کرام شهیدان شوي ول؟

**ځواب**: څوارلس (۱۴) صحابه کرام.

(۲۱۲) **پوښتنه**: په بدر غزا کې د انصارو څخه څو صحابه کرام شهیدان شوي ول؟

**ځواب**: اته (۸) تنه.

(۲۱۳) **پوښتنه**: په بدر غزا کې د مهاجرینو څخه څو صحابه کرام شهیدان شوي ول؟

**ځواب**: شپږ (٦) تنه.



(۲۱۴) **پوښتنه**: په بدر غزا کې د ابو جهل له پلویانو څخه څو نفره وژل شوي ول؟

**ځواب**: اویا (۷۰) کسان.

۲۱۵. **پوښتنه**: په بدر غزا کې د ابو جهل له پلویانو څخه څو نفره اسیران یا بندیان شوي ول؟

**ځواب**: اویا (۷۰) کسان.

(۲۱٦. **پوښتنه**: په بدر غزا کې نبي علیه السلام د مشرکانو د څو مشرانو مړي کوهي ته واچول؟

**ځواب**: د څلرویشت (۲۴) مشرانو.

۲۱۷. **پوښتنه**: د بدر په غزا کې د ابوجهل د پلویانو د ماتې خبر لومړی چا مکې مکرمې ته ورساوه؟

**ځواب**: حَسُمَان بن عبدالله الخزاعي.

(۲۱۸. **پوښتنه**: د ابو جهل په پلویانو کې هغه کوم کس وو، چې د بدر په غزا کې یې درې زامن ووژل شول؟

**ځواب**: الاسود بن المطلب.

(۲۱۹. **پوښتنه**: کله چې مؤمنان د بدر په غزا کې کامیاب او غازیان شول، مدینې منورې ته د دې فتحې زیری چا ورساوه؟

**ځواب**: عبدالله بن رواحه او زید بن حارثه رضي الله عنهما.

۲۲۰. **پوښتنه**: د بدر د غزا پسې پیوسته د نبي علیه السلام کومه لور وفات شوه؟

**ځواب**: رقیه رضي الله عنها.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲۱. **پوښتنه**: رقيه رضي الله عنها د چا په نکاح کې وه؟

**ځواب**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه.

۲۲۲. **پوښتنه**: د بدر غزا نه وروسته نبي عليه السلام څو ورځې د بدر په ميدان کې پاتې شو؟

**ځواب**: درې (۳) ورځې.

۲۲۳. **پوښتنه**: د بدر په غزا کې هر يو صحابي ته څو اوښان په غنيمت کې ورسېدل؟

**ځواب**: هر يو صحابي ته دوه-دوه (۲) اوښان.

۲۲۴. **پوښتنه**: نضر بن حارث چې د مشرکانو د مشرانو څخه وو او د بدر په اسيرانو کې راغلی وو، نبي عليه السلام ورسره څه وکړل؟

**ځواب**: په صفرا علاقه کې محمد صلی الله عليه وسلم، علي رضي الله عنه ته امر وکړ، چې سر ترې قلم کړه! علي رضي الله عنه هم له امر سره سم نضر بن حارث نه سر وواهه.

۲۲۵. **پوښتنه**: عقبه بن ابي معيط چې دا هم يو لوی مجرم وو او په مکه کې يې د نبي عليه السلام په ملا لرۍ اچولې وو، دی هم په بدر غزا کې اسير شوی وو، ده سره محمد صلی الله عليه وسلم څه وکړل؟

**ځواب**: په صفرا علاقه کې محمد صلی الله عليه وسلم عاصم بن ثابت الانصاري رضي الله عنه يا علي رضي الله عنه ته امر وکړ، چې سر ترې قلم کړه! دې دواړو کې يو ترې سر وواهه.

۲۲۶. **پوښتنه**: د بدر بنديانو په باره کې د ابوبکر صديق رضي الله عنه نظر او رايه څه وه؟



**ځواب**: ويې ويل چې: دا بنديان زمونږ قوميان او خپلوان دي، فديه به ترې واخلو.

۲۲۷. **پوښتنه**: د بدر اسيرانو په باره کې د عمر رضي الله عنه نظر او رايه څه وه؟

**ځواب**: هر صحابي ته خپل خپلوان ورکړئ، چې څټ ترې ووهي.

۲۲۸. **پوښتنه**: د بدر غزا په مسکينانو بنديانو باندې کوم شرط د ازادېدلو لپاره کېښودل شوی وو؟

**ځواب**: هر يو تن به د مدينې لسو ماشومانو ته ليک ور زده کوي.

۲۲۹. **پوښتنه**: د بدر په غنيمتونو باندې محمد صلی الله عليه وسلم کوم صحابي مقرر کړی وو، چې په صحابه وو يې تقسيم کړي؟

**ځواب**: عبدالله بن کعب بن عمرو الانصاري الخزرجي رضي الله عنه.

۲۳۰. **پوښتنه**: په بدر غزا کې څو کسان بغير له فديې پرېښودل شول؟

**ځواب**: څلور کسان.

۲۳۱. **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم د بدر غزا له اسيرانو څخه ابو العاص بن الربيع په کوم شرط پرېښوده؟

**ځواب**: په دې شرط چې زينب رضي الله عنها به مدينې ته راپرېږدي.

۲۳۲. **پوښتنه**: د بدر په بنديانو کې د ابو سفيان زوی د کوم يو صحابي په بدل کې ازاد شو، چې هغه صحابي د ابو سفيان لخوا په مکه کې د عمرې د ادا کولو په دوران کې نيول شوی وو؟

**ځواب**: د سعد بن نعمان رضي الله عنه په بدل کې ازاد شوی وو.

۲۳۳. **پوښتنه**: د بدر غزا او د اُحد غزا ترمنځ څومره موده تيره شوې وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: دیارلس (۱۳) میاشتې.

۲۳۴. **پوښتنه**: په بنو سُلیم غزا کې چې محمد صلی الله علیه وسلم یې مشري کوله څو صحابه کرام ورسره ملګري ول؟

**ځواب**: دوه سوه (۲۰۰) کسان.

۲۳۵. **پوښتنه**: د بدر غزا نه وروسته بله کومه یوه وړه غزا منځ ته راغلې وه؟

**ځواب**: د بنو سُلیم غزا.

۲۳۶. **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم چې کله بنو سُلیم غزا ته روانېده، په مدینه باندې یې څوک نایب مقرر کړ؟

**ځواب**: عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه.

۲۳۷. **پوښتنه**: د بنو سُلیم غزا په کومه علاقه کې واقع شوې وه؟

**ځواب**: په کُدر علاقه کې.

۲۳۸. **پوښتنه**: په بنو سُلیم غزا کې له محمد صلی الله علیه وسلم سره څومره اسونه ول؟

**ځواب**: دوه سوه (۲۰۰) اسونه.

۲۳۹. **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم په بنو سُلیم غزا کې څومره اوښان په غنیمت کې ونیول؟

**ځواب**: پنځه سوه (۵۰۰) اوښان.

۲۴۰. **پوښتنه**: په بنو سُلیم غزا کې هر یو صحابي ته څو څو اوښان په غنیمت کې رسېدلي ول؟

**ځواب**: دوه، دوه (۲) اوښان.



۲۴۱. **پوښتنه**: د اُحد غزا د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب**: د هجرت په درېیم (۳) کال.

۲۴۲. **پوښتنه**: د اُحد غزا کې د مشرکینو د ډلې مشري کومو کسانو کوله؟

**ځواب**: ابوسفیان بن حرب، عکرمه بن ابي جهل، صفوان بن اُمیه او عبدالله بن ابي ربیعه.

۲۴۳. **پوښتنه**: په اُحد غزا کې د مشرکینو سره څو زره اوښان ول؟

**ځواب**: درې زره (۳۰۰۰) اوښان.

۲۴۴. **پوښتنه**: په اُحد غزا کې د مشرکینو شمېر څومره وو؟

**ځواب**: درې زره (۳۰۰۰) نفره.

۲۴۵. **پوښتنه**: په اُحد غزا کې مشرکینو څومره اسونه درلودل؟

**ځواب**: دوه سوه (۲۰۰) اسونه.

۲۴۶. **پوښتنه**: په اُحد غزا کې مشرکینو څومره زغرې درلودلې؟

**ځواب**: اووه سوه (۷۰۰) زغرې.

۲۴۷. **پوښتنه**: په اُحد غزا کې د مشرکینو عمومي مشري چا کوله؟

**ځواب**: ابوسفیان بن حرب.

۲۴۸. **پوښتنه**: د اُحد د غزا سبب څه وو؟

**ځواب**: د بدر د غز غچ اخیستل.

۲۴۹. **پوښتنه**: د مکې مشرکینو د اُحد د غزا لپاره لومړی کوم کار کړی وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: لومړی يې د ابوسفيان د قافلې مال چې د دې غزا د پيښېدو ستر او اصل سبب وو، چې تقريباً زر (۱۰۰۰) بار داره اوښان ول، ټول يې مصرف کړ.

۲۵۰. **پوښتنه**: اُحد غزا ته ولې د اُحد غزا وايي؟

**ځواب**: دغه غزا د اُحد د غره په لمن کې واقع شوې وه، ځکه ورته د اُحد غزا وايي.

۲۵۱. **پوښتنه**: نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته د اُحد د غزا په اړه د مشرکينو د چمتو والي خبر چا ورکړی وو؟

**ځواب**: عباس رضي الله عنه، چې پټ مسلمان وو، په مکه کې اوسېده، يو کس ته يې خط ورکړ، چې ټول تفصيلات يې پکې وليکل؛ په درې ورځو کې نبي عليه السلام ته خط ورسېد او په دغه وخت کې نبي عليه السلام په مسجد قباء کې وو.

۲۵۲. **پوښتنه**: د عباس رضي الله عنه لخوا راليږلی خط محمد صلی الله عليه وسلم ته چا ولوست؟

**ځواب**: اُبی بن کعب رضي الله عنه نه.

۲۵۳. **پوښتنه**: کله چې د اُحد غزوې ته د مشرکينو د تيارۍ څخه محمد صلی الله عليه وسلم خبر شو، نو په دغه سختتو شرايطو کې د نبي عليه السلام د کور څوکيداري چا کوله؟

**ځواب**: سعد بن معاذ رضي الله عنه، سعد بن عُباده رضي الله عنه او اُسيد بن حُضير رضي الله عنه.



۲۵۴. **پوښتنه**: مشرکان چې کله اُحد غزا ته په لاره ول، چې د (ابوا) علاقې ته ورسېدل ،د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مور د قبر د سپکاوي اراده چا وکړه؟

**ځواب**: هند بنت عُتبه چې د ابو سفيان ښځه وه.

۲۵۵. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې نبي عليه السلام د مهاجرينو بيرغ چا ته ورکړی وو؟

**ځواب**: مصعب بن عمير العبدري رضي الله عنه ته.

۲۵۶. **پوښتنه**: کله چې د اُحد غزا نه مخکې محمد صلی الله عليه وسلم دفاعي مجلس داير کړ، عبدالله بن اُبی ابن سلول څه رايه ورکړه؟

**ځواب**: ويل يې، چې مونږ به په مدينه کې پاتې شو، بهر د مدينې نه نه ووځو، د ابو سفيان ډله به تنګه شي او بېرته به مکې ته لاړه شي.

۲۵۷. **پوښتنه**: په اُحد غزا کې د مؤمنانو مجاهدينو شمېر څومره وو؟

ځواب: اوه سوه (۷۰۰) تنه.

۲۵۸. **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم په اُحد غزا کې د انصارو د اوس قبيلې بيرغ چا ته ورکړی وو؟

**ځواب**: اُسيد بن حُضير رضي الله عنه ته.

۲۵۹. **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم په اُحد غزا کې د خزرج قبيلې بيرغ چا ته ورکړی وو؟

**ځواب**: حُباب بن المُنذِر رضي الله عنه ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٢٦٠. پوښتنه**: په اُحد غزا کې د محمد صلی الله علیه وسلم له زر (١٠٠٠) ملګرو څخه عبدالله بن اُبی ابن سلول څومره کسان د غزا څخه ستانه کړل؟

**ځواب**: درې سوه (٣٠٠) کسان.

**٢٦١. پوښتنه**: هغه کوم صحابه کرام دي، چې محمد صلی الله علیه وسلم ورته د کم عمرۍ له امله په اُحد غزا کې د ګډون اجازه ور نه کړه؟

**ځواب**: عبدالله بن عمر رضي الله عنه، اسامه بن زید رضي الله عنه، اسید بن حضیر رضي الله عنه، زید بن ثابت رضي الله عنه، زید بن ارقم رضي الله عنه، عَرَابَه بن اَوس رضي الله عنه، عمرو بن حزم رضي الله عنه، ابو سعید الخدري رضي الله عنه، زید بن حارثه الانصاري رضي الله عنه او سعد بن حِبَه رضي الله عنه.

**٢٦٢. پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د مشرکانو په ډله کې کوم مشران ول، چې غزا لپاره یې کشران هڅول؟

**ځواب**: ابوسفیان بن حرب، عکرمه بن ابي جهل، صفوان بن اُمیه او عبدالله بن ابي ربیعه.

**٢٦٣. پوښتنه**: د اُحد د غزا په شپه نبي علیه السلام څو نفره د څوکیدارۍ لپاره مقرر کړل او مشر یې ورته څوک وټاکه؟

**ځواب**: (٥٠) نفره د څوکیدارۍ لپاره مقرر شوي ول، او مشر یې محمد بن مسلمه رضي الله عنه وو.



**٢٦٤. پوښتنه**: د اُحد په غزا کې عبدالله بن اُبی ابن سلول، له څومره ملګرو سره د صحابه کرامو د جماعت نه جدا شوی وو؟

**ځواب**: له درې سوه (٣٠٠) ملګرو سره.

**٢٦٥. پوښتنه**: د اُحد په غزا کې دوه نورو ډلو اراده کړې وه، چې د اُحد د غزا نه وګرځي؛ هغه کوم خلک ول؟

**ځواب**: د اوس له قبیلې څخه بنو حارثه او د خزرج له قبیلې څخه بنو سَلِمَه.

**٢٦٦. پوښتنه**: د اُحد په غزا کې منافقین چا ډېر وهڅول، چې راشي په جهاد کې برخه واخلي او که هېڅ نه کوي، نو د مدینې دفاع خو دې وکړي؟

**ځواب**: د جابر رضي الله عنه پلار عبدالله بن حرام رضي الله عنه.

**٢٦٧. پوښتنه**: د اُحد غزا ته چې کله مؤمنان روان شول، نو د کوم منافق په کرونده، یعني زراعتي ځمکې باندې ورغلي ول؟

**ځواب**: مِربَع بن قَیْظِي.

**٢٦٨. پوښتنه**: د اُحد په غزا کې نبي علیه السلام په جَبَلُ رُماة باندې څو کسه غشي ویشتونکي مقرر کړل او مشر یې څوک وو؟

**ځواب**: پنځوس (٥٠) نفره او مشر یې عبدالله بن جبیر الانصاري رضي الله عنه وو.

**٢٦٩. پوښتنه**: په اُحد غزا کې نبي علیه السلام د لښکر په ښي طرف کې څوک مقرر کړ؟

**ځواب**: منذر بن عمرو رضي الله عنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢٧٠. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې نبي عليه السلام د لښکر په چپ طرف کې څوک مقرر کړی وو؟

**ځواب**: زبير بن العوام رضي الله عنه چې مقداد بن الاسود رضي الله عنه ورسره ملګری وو.

٢٧١. **پوښتنه**: د اُحد غزا په کومه مياشت او په کومه ورځ پېښه شوې وه؟

**ځواب**: د شوال د مياشتې اوومه نېټه او د شنبې ورځ وه.

٢٧٢. **پوښتنه**: نبي عليه السلام د اُحد په غزا کې خپله توره چاته ورکړې وه؟

**ځواب**: ابو دُجانه سماک بن خَرشه رضي الله عنه ته.

٢٧٣. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د مؤمنانو د بې اتفاقۍ لپاره د مشرکانو له طرف نه څوک لېږل شوی وو؟

**ځواب**: ابو عامر(الفاسق) چې خپل نوم يې عبد عمرو بن صيفي وو.

٢٧٤. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د مشرکانو په ډله کې د پنځلسو ښځو مشري چا کوله؟

**ځواب**: هند بنت عُتبه چې د ابو سفيان ښځه وه.

٢٧٥. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د مشرکانو په ډله کې لومړی کس چې د زبير بن العوام رضي الله عنه له خوا وژل شوی وو، څوک وو؟

**ځواب**: لومړی په مشرکانو کې (طلحه بن ابي طلحه العبدري) ووژل شو، چې له ده سره بيرغ په لاس کې وو.

٢٧٦. **پوښتنه**: طلحه بن ابي طلحة په مسلمانانو کې په څه نوم يادېده؟



**ځواب**: کَبَشُ الکَتيبَة (د پوځ پسه) په نوم يادېده.

٢٧٧. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د طلحه بن ابي طلحه د وژل کېدو نه وروسته د کافرانو بيرغ چا پورته کړی وو؟

**ځواب**: بيرغ د هغه ورور ابو شيبه عثمان بن ابي طلحة پورته کړ.

٢٧٨. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د کافرانو بيرغ نيوونکی شيبه عثمان بن ابي طلحة د چا لخوا ووژل شو؟

**ځواب**: د حمزه رضي الله عنه له خوا ووژل شو، په توره يې داسي خطرناک ګوزار ورکړ، چې يو لاس يې له ولي سره تر نامه پورې جدا شو.

٢٧٩. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د درېيم ځل لپاره د کافرانو بيرغ چا پورته کړ او د چا له خوا ووژل شو؟

**ځواب**: ابو سعد بن ابي طلحه پورته کړ، چې (سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه) پرې د غشي ګوزار وکړ، چې په مرۍ کې يې وويشت او قتل يې کړ.

٢٨٠. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د څلورم ځل لپاره د کافرانو بيرغ چا پورته کړ او د چا له خوا ووژل شو؟

**ځواب**: مُسافع بن طلحه بن ابي طلحه پورته کړ، عاصم بن ثابت رضي الله عنه پرې د غشي ګوزار وکړ او قتل يې کړ.

٢٨١. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د پنځم ځل لپاره د کافرانو بيرغ چا پورته کړ او د چا لخوا ووژل شو؟

**ځواب**: کلاب بن طلحه بن ابي طلحة پورته کړ او زبير بن العوام رضي الله عنه پرې يرغل وکړ او قتل يې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۸۲. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د شپږم ځل لپاره د کافرانو بيرغ چا پورته کړ او د چا له خوا ووژل شو؟

**ځواب**: الجُلاس بن طلحه بن ابي طلحه پورته کړ، طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه پرې د نېزې ګوزار وکړ او قتل يې کړ، دويم قول دا دی، چې عاصم بن ثابت پرې د غشي ګوزار وکړ او قتل يې کړ (او دا شپږم نفر وو، چې له يوې کورنۍ څخه وژل کېږي).

۲۸۳. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د اووم ځل لپاره د کافرانو بيرغ چا پورته کړ او د چا له خوا ووژل شو؟

**ځواب**: ارطاة بن شُرَحبِيل پورته کړ، چې د علي رضي الله عنه له خوا قتل شو، دويم قول دا دی، چې حمزه رضي الله عنه له خوا ووژل شو.

۲۸۴. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې اتم ځل لپاره د کافرانو بيرغ چا پورته کړ او د چا له خوا ووژل شو؟

**ځواب**: شُرَيح بن قارظ پورته کړ، د (قزمان) له خوا ووژل شو، چې دا په اصل کې منافق وو،خو د قوميت په بنا غزا ته راغلی وو.

۲۸۵. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې نهم ځل لپاره د کافرانو بيرغ چا پورته کړ او د چا له خوا ووژل شو؟

**ځواب**: ابو زيد عمرو بن عبدمناف العبدري پورته کړ، چې دا هم د قزمان منافق له خوا ووژل شو.

۲۸۶. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د لسم ځل لپاره د کافرانو بيرغ چا پورته کړ او د چا له خوا ووژل شو؟

**ځواب**: شَرَحبيل بن هاشم العبدري پورته کړ او دا هم د قزمان منافق له خوا ووژل شو.



**يادونه**: دا لس نفره د بني عبد الدار له کورنۍ څخه ووژل شول او هېڅوک په دې کورنۍ کې نور نه وو چې بيرغ پورته کړي.

۲۸۷. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د يوولسم ځل لپاره د کافرانو بيرغ چا پورته کړ؟

**ځواب**: د همدې (بنو عبدالدار) کورنۍ يو حبشي غلام وو، چې(صُوآب) نوميده، هغه بيرغ پورته کړ او ښه په زړورتوب سره يې غزا پيل کړ، تر دې چې دواړه لاسونه ورنه غوڅ شول او قتل شو.

د دې غلام له مرګ نه وروسته د مشرکانو بيرغ په ځمکه پروت و.

۲۸۸. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې حمزه رضي الله عنه د چا له خوا په شهادت ورسېد؟

**ځواب**: د وحشي بن حرب له خوا چې دا د (جُبير بن مطعم) غلام وو.

۲۸۹. **پوښتنه**: ايا وحشي بن حرب بيا په اسلام کې داخل شو؟

**ځواب**: د طايف له غزا نه وروسته په اسلام کې داخل شو او وحشي بن حرب بيا په همدې اسلحه (مُسَيلِمة الكذاب) هم قتل کړ او د يرموک په غزا کې هم حاضر شوی وو.

۲۹۰. **پوښتنه**: حنظله رضي الله عنه چې غَسيلُ المَلائکه ورته ويل کېږي، په اُحد غزا کې د چا له خوا په شهادت ورسېد؟

**ځواب**: د (شدَاد بن اَوس) له خوا په شهادت ورسېد.

۲۹۱. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د مشرکانو په ځمکه پرېوتی بيرغ، چا پورته کړ؟

**ځواب**: کله چې د جَبَلُ رُماة څخه ځلوېښت صحابه راښکته شول او لس پاتې شول، نو په دغه وخت کې خالد بن وليد د جَبَلُ رُماة په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو حمله وکړه، هغه لس نفره یې شهیدان کړل او په مؤمنانو یې د شا له اړخ څخه حمله پیل کړه، ټول مشرکان بیا راوګرځېدل او د مشرکانو بیرغ یوې ښځې پورته کړ، چې (عَمْرَةَ بِنْتِ عَلْقَمَةَ الْحَارِثِيَّةِ) نومېده.

۲۹۲. **پوښتنه**: هغه د کوم صحابي پلار وو، چې د اُحد په غزا کې د صحابه کرامو څخه په ناخبرۍ کې ووژل شو؟

**ځواب**: د حُذَیفة بن یمان رضي الله عنه پلار وو (یمان).

۲۹۳. **پوښتنه**: هغه کوم صحابي وو، چې ویل یې «زه د اُحد د غره له خوا څخه د جنت بوی احساسوم»؟

**ځواب**: انس بن نضر رضي الله عنه.

۲۹۴. **پوښتنه**: د اُحد د غزا په هغه سختو شرایطو کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په څنګ کې فقط دوه صحابه موجود ول، هغه څوک ول؟

**ځواب**: طلحه بن عبیدالله رضي الله عنه او سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه.

۲۹۵. **پوښتنه**: د اُحد په میدان کې په نبي علیه السلام د ډبرې ګوزار چا وکړ؟

**ځواب**: عُتبه بن ابي وقاص (چې د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ورور وو، کافر وو.

۲۹۶. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څو غاښونه شهیدان شوي ول؟



**ځواب**: څلور غاښونه چې رُباعي غاښونه ورته کېږي، شهیدان شوي ول.

۲۹۷. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم کومه شونډه زخمي شوې وه؟

**ځواب**: لاندینۍ شونډه یې زخمي شوې وه.

۲۹۸. **پوښتنه**: د اُحد په میدان کې په نبي علیه السلام د تورې ګوزار چا وکړ، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم یې شاته په ولو کې وواهه او تر یوې میاشتې پورې یې نبي کریم صلی الله علیه وسلم درد احساساوه؟

**ځواب**: (عبدالله بن قمِئه) پرې ګوزار وکړ، دویم ګوزار هم دې کافر په نبي کریم صلی الله علیه وسلم وکړ، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم بیا خیرې ورته وکړې.

۲۹۹. **پوښتنه**: د اُحد د غزا په ورځ نبي کریم صلی الله علیه وسلم چاته وویل« ویشتل کوه! زما مور او پلار دې له تا نه قربان شي»؟

**ځواب**: سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ته.

۳۰۰. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې کومې ښځې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه سخته دفاع وکړه؟

**ځواب**: ام عمارة (نسیبة بنت کعب).

۳۰۱. **پوښتنه**: نبي کریم صلی الله علیه وسلم د اُحد په ورځ د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه علاوه بل چاته وویل، چې زما مور او پلار دې له تانه قربان شي؟

**ځواب**: طلحة بن عبیدالله رضي الله عنه ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰۲. **پوښتنه**: د کوم صحابي سترګه د اُحد په غزا کې پوره ختمه شوې وه، چې بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته بېرته د سترګې ګاتې په خپل ځای کېښود او سترګه یې جوړه شوه؟

**ځواب**: د قتادة بن النعمان رضي الله عنه.

۳۰۳. **پوښتنه**: مصعب بن عمیر رضي الله عنه د چا له خوا په شهادت ورسېد؟

**ځواب**: د عبدالله بن قمئه لخوا.

۳۰۴. **پوښتنه**: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له خوا په اُحد غزا کې څوک ووژل شو؟

**ځواب**: ابی بن خلف چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د حارث بن الصمة رضي الله عنه نه نیزه واخیستله او ابی بن خلف یې په مرۍ کې وواهه، چې مکې ته په لاره (سرف) نومې ځای کې مړ شو.

۳۰۵. **پوښتنه**: کومې مؤمنې ښځې اُحد ته راغلې وې، چې بیا یې زخمیانو ته اوبه ورکولې او د هغوی خدمت یې کاوه؟

**ځواب**: عایشه، اُم سُلیم، اُم سَلِیط او اُم ایمَن رضي الله عنهن.

۳۰۶. **پوښتنه**: له صحابه کرامو سره کوم منافق د اُحد غزا ته تللی وو، چې هغه یوائې اته (۸) کافران وژلي ول؟

**ځواب**: قزمان.

۳۰۷. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې هغه کومه مؤمنه ښځه وه، چې د مشرک لخوا په غشي باندې وویشتل شوه؟

**ځواب**: اُم ایمَن رضي الله عنها وه.



۳۰۸. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د محمد صلی الله علیه وسلم د مرګ خبر چا خپور کړ؟

**ځواب**: عبدالله بن قمِئه او ابلیس.

۳۰۹. **پوښتنه**: کوم یهودي د اُحد په غزا کې د مسلمانانو په طرف کې ووژل شو؟

**ځواب**: (مُخیرق) چې محمد صلی الله علیه وسلم دده په هکله وویل، چې مخُیرق په یهودو کې غوره سړی وو.

۳۱۰. **پوښتنه**: د حمزه رضي الله عنه سره په یو قبر کې، کوم یو صحابي دفن شو؟

**ځواب**: عبدالله بن جحش رضي الله عنه.

۳۱۱. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې څومره صحابه کرام شهیدان شوي ول؟

**ځواب**: اویا (۷۰) صحابه کرام.

۳۱۲. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د مشرکانو په ډله کې څو کسان وژل شوي ول؟

**ځواب**: په دې کې دوه قوله دي؛ د یو قول له مخې دوه ویشت (۲۲) نفره او د دویم قول له مخې اوه دېرش (۳۷)، خو راجح قول دویم دی.

۳۱۳. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې وحشي بن حرب چې د جُبیر بن مُطعِم غلام وو؛ حمزه رضي الله عنه د څه شي په بدل کې شهید کړ؟

**ځواب**: د خپل ځان د ازادولو په بدل کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۱۴. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې کومې مؤمنې ښځې په خپله توره باندې د مشرکینو شاهسوار وواژه؟

**ځواب**: اُم عماره رضي الله عنها.

۳۱۵. **پوښتنه**: هغه کوم صحابي وو، چې له مسلمانېدو وروسته سمدلاسه په شهادت ورسېد، او له دې وړاندې یې د اسلام یو عمل هم نه وو ترسره کړی، او نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته د جنتي خطاب وکړ؟

**ځواب**: اُصیرم عمرو بن ثابت رضي الله عنه.

۳۱۶. **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د اُحد له غزا نه تر فارغېدو وروسته د شوال د میاشتې په څومه نېټه مدینې ته ستون شو؟

**ځواب**: د شوال په اوومه (۷) نېټه.

۳۱۷. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې له مهاجرینو څخه څو کسان شهیدان شوي ول؟

**ځواب**: څلور (۴) کسان.

۳۱۸. **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې د انصارو څخه څو کسان شهیدان شوي ول؟

**ځواب**: پنځه شپېته یا شپږ شپېته (۶۵یا۶۶) کسان.

۳۱۹. **پوښتنه**: د حمرا الاسد غزا کې محمد صلی الله علیه وسلم سره څومره صحابه کرام غزا ته تیار شوي ول؟

**ځواب**: درې سوه شپیته (۳۶۰) کسان.



۳۲۰. **پوښتنه**: په حمرا الاسد غزا کې چې غزا پکې ونشو، محمد صلی الله علیه وسلم څو ورځې په حمرا الاسد علاقه کې پاتې شو؟

**ځواب**: درې (۳) ورځې.

۳۲۱. **پوښتنه**: حمرا الاسد علاقه د مدینې نه څو میله فاصله کې پرته ده؟

**ځواب**: اته (۸) میله.

۳۳۲. **پوښتنه**: د ابوسَلَمَه بن عبدالاسد المخزومي سَریه، په څو کسانو مشتمله وه، چې محمد صلی الله علیه وسلم د بنو اسد د قبیلې حملې لپاره لېږلې وه؟

ځواب: په یو سل او پنځوس (۱۵۰) کسانو مشتمله وه.

۳۲۳. **پوښتنه**: د هجرت په څلورم کال او د محرم په پنځمه نېټه محمد صلی الله علیه وسلم کوم صحابي د هُذَیل قبیلې مشر خالد بن سفیان الهذلي وژلو پسې ولېږه، او څو ورځې وروسته یې د هغه سر راوړ؟

ځواب: عبدالله بن اُنس رضي الله عنه، او اتلس (۱۸) ورځې وروسته یې مدینې ته سر راوړ.

۳۲۴. **پوښتنه**: په غزوه بنو نضیر کې د محمد صلی الله علیه وسلم له لوري د بنو نضیر قوم په قلاګانو کې څو ورځې کلابند ول؟

**ځواب**: یو روایت کې شپږ (۶) او بل کې پنځلس (۱۵) ورځې.

۳۲۵. **پوښتنه**: د بنو نضیر غزا د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب**: د هجرت په څلورم (۴) کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۲۶. پوښتنه:** محمد صلی الله علیه وسلم چې کله بنو نضير له مدينې نه وشړل، څومره اسلحې ترې پاتې شوې وې؟

**ځواب:** پنځوس (۵۰) زغرې، درې سوه څلويښت (۳۴۰) تورې او پنځوس (۵۰) د اوسپنې خولۍ.

**۳۲۷. پوښتنه:** د نجد غزا د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب:** د هجرت په څلورم (۴) کال د ربيع الثاني په مياشت کې.

**۳۲۸. پوښتنه:** د بدر دويمې يا وړې غزا لپاره د هجرت په څوم کال محمد صلی الله علیه وسلم له ملګرو سره بدر علاقې ته د ابوسفيان له قافلې سره د غزا کولو لپاره تللی وو؟

**ځواب:** د هجرت په څلورم (۴) کال.

**۳۲۹. پوښتنه:** د بدر دويمې غزا سبب څه وو؟

**جواب:** سبب يې په اُحد غزا کې د دواړو ډلو وعده پوره کول وو، چې ويلي ول، راروان کال به بيا هم په بدر کې غزا ېږو.

**۳۳۰. پوښتنه:** د بدر په دويمه غزا کې محمد صلی الله علیه وسلم سره څومره صحابه کرام ملګري ول، چې بدر علاقې ته د غزا لپاره روانېده؟

**ځواب:** يو زر او پنځه سوه (۱۵۰۰) کسان.

**۳۳۱. پوښتنه:** د هجرت په څوم کال باندې محمد صلی الله علیه وسلم د دُمَةُ الجَندَل غزا ته د زر (۱۰۰۰) صحابه کرامو سره د غزا لپاره تللی وو؟

**ځواب:** د هجرت په پنځم (۵) کال.



**۳۳۲. پوښتنه:** د احزابو غزا ته ولې د احزاب نوم کېښودل شوی دی؟

**ځواب:** دا ځکه چې په دې غزا کې د محمد صلی الله علیه وسلم په خلاف ټول قبايل متحد شوي ول او د اسلام د ختمېدو اراده يې کړې وه.

**۳۳۳. پوښتنه:** د احزابو په غزا کې نبي کريم صلی الله علیه وسلم ته د خندق کېندلو مشوره چا ورکړې وه؟

**ځواب:** سلمان فارسي رضي الله عنه.

**۳۳۴. پوښتنه:** د خندق کيندلو په وخت کې محمد صلی الله علیه وسلم د کوم صحابي په کور کې خوراک کړی وو، چې بيا هلته د نبي کريم صلی الله علیه وسلم يوه معجزه هم راښکاره شوه؟

**ځواب:** د جابر بن عبدالله رضي الله عنه په کور کې.

**۳۳۵. پوښتنه:** د احزابو په غزا کې صحابه کرامو څو ميله خندق کېندلی وو؟

**ځواب:** درې (۳) ميله يا شپږ زره (٦۰۰۰) ګزه.

**۳۳٦. پوښتنه:** د احزابو غزا کې د قريشو او غطفان قبيلو شمېر څومره وو؟

**ځواب:** د قريشو قبيلې څلور زره (۴۰۰۰) او د غطفان قبيلې شپږ زره (٦۰۰۰).

**۳۳۷. پوښتنه:** د احزابو غزا کې د خندق په يوه تنګه غاړه کې د ابو سفيان له ډلې څخه درې کسان راووختي وو، هغه کوم کسان ول؟

**ځواب:** عمرو بن عبدوُدّ، ضِرَار بن الخَطّاب او عکرمه بن ابي جهل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۳۸. **پوښتنه**: د احزابو په غزا کې د عمرو بن عبدوُدّ سره مبارزه چا وکړه، چې بیا پکې ووژل شو؟

**ځواب**: علي ابن ابي طالب رضي الله عنه.

۳۳۹. **پوښتنه**: د احزابو په غزا کې څو صحابه کرام شهیدان شول؟

**ځواب**: شپږ (٦) صحابه پکې شهیدان شوي ول.

۳۴۰. **پوښتنه**: د احزابو په غزا یا خندق غزوه کې څو کافران ووژل شول؟

**ځواب**: لس (۱۰) کافران.

۳۴۱. **پوښتنه**: د احزابو په غزا یا خندق غزوه کې سعد بن معاذ رضي الله عنه د چا له خوا د لاس په رګ باندې په غشي ولګېد؟

**ځواب**: د حِبان بن عَرَقَة له خوا ولګېد.

۳۴۲. **پوښتنه**: د احزابو په غزا یا خندق غزوه کې د مؤمنانو شمېر څومره وو؟

**ځواب**: درې زره (۳۰۰۰) تنه.

۳۴۳. **پوښتنه**: د احزابو په غزا یا خندق غزوه کې د کافرانو شمېر څومره وو؟

**ځواب**: لس زره (۱۰۰۰۰) تنه.

۳۴۴. **پوښتنه**: د احزابو په غزا یا خندق غزوه کې محمد صلی الله علیه وسلم هرو لسو صحابه کرامو ته د څو ګزه خندق کیندلو امر کړی وو؟

**ځواب**: د څلوېښتو (۴۰) ګزو.



۳۴۵. **پوښتنه**: د احزابو په غزا یا خندق غزوه کې، صحابه کرامو خندق په څومره موده کې وکنسته؟

**ځواب**: شپږ ورځو کې، شل ورځو یا تقریباً میاشت کې، درې روایته دي.

۳۴۶. **پوښتنه**: په کومه غزا کې محمد صلی الله علیه وسلم د لوږې له امله خیټه پورې دوه کاڼي تړلي ول؟

**جواب**: خندق غزوه یا د احزابو غزا کې.

۳۴۷. **پوښتنه**: هغه کومه یهودي قبیله وه، چې د خندق د غزا په دوران کې یې خپله وعده له مؤمنانو سره ختمه کړه؟

**ځواب**: د بنو قُریظه قبیله، د کعب بن اسد ډله وه.

۳۴۸. **پوښتنه**: په خندق غزا کې کومه یوه صحابیه وه، چې یو یهودي یې وواژه؟

**ځواب**: صفیه بنت عبدالمطلب رضي الله عنها.

۳۴۹. **پوښتنه**: هغه څوک وو، چې د خندق د غزا په جریان کې مسلمان شو او بیا یې د بنو قُریظه و او قریشو سره د بنو غطفان قبیلو تر منځ بې اعتمادي پیدا کړه؟

**ځواب**: نعیم بن مسعود بن عامر رضي الله عنه.

۳۵۰. **پوښتنه**: د خندق غزا د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب**: د هجرت په (۵) پنځم کال.

۳۵۱. **پوښتنه**: په خندق غزا کې مسلمانان څومره موده محاصره ول؟

**ځواب**: یوه میاشت، درې څلوېښت (۴۳) ورځې یا دوه میاشتې محاصره ول. درې روایته دي.

۳۵۲. **پوښتنه**: د خندق غزا په کومه میاشت کې واقع شوې وه؟

**ځواب**: د شوال په میاشت کې.

۳۵۳. **پوښتنه**: هغه څوک وو، چې په خندق غزا کې یې مشرکان، یهود او غطفان قبیلې یې سره بې باوره کړې وې؟

**ځواب**: نعیم بن مسعود رضي الله عنه.

۳۵۴. **پوښتنه**: د خندق د غزا پر مهال نبي علیه السلام د شپې څوک ولېږه چې لاړ شه او د ابو سفیان د ملګرو معلومات راوړه؟

**ځواب**: حذیفة بن الیمان رضي الله عنه.

۳۵۵. **پوښتنه**: د بني قُریظه وو غزوه کله واقع شوه؟

**ځواب**: کله چې نبي علیه السلام د خندق غزوه نه فارغ شو، نو نبي علیه السلام د ام سلمي رضي الله عنها په کور کې غسل کاوه، چې جبرائیل علیه السلام راغی او ورته یې امر وکړ، چې بنو قریظه وو پسې ورشه.

۳۵٦. **پوښتنه**: د بني قریظه و په غزا کې محمد صلی الله علیه وسلم بیرغ چاته ورکړی وو؟

**ځواب**: علي رضي الله عنه ته.

۳۵۷. **پوښتنه**: د بني قُریظه وو په غزا کې محمد صلی الله علیه وسلم په مدینې باندې څوک نایب مقرر کړی وو؟

**ځواب**: عبدالله ابن ام مکتوم رضي الله عنه.



۳۵۸. **پوښتنه**: د بني قُریظه و په غزا کې د مؤمنانو شمېر څومره وو؟

**ځواب**: درې زره (۳۰۰۰).

۳۵۹. **پوښتنه**: د بني قریظه وو په غزا کې له مؤمنانو سره څومره اسونه ول؟

**ځواب**: دېرش (۳۰) اسونه.

٣٦٠. **پوښتنه**: د بني قریظه وو غزا د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب**: د هجرت په پنځم (۵) کال.

٣٦١. **پوښتنه**: د بنو قریظه قبیلې مشر څه نومېده؟

**ځواب**: کعب بن اسد.

٣٦٢. **پوښتنه**: د بنو قریظه وو محاصره کې خلکو ته چا د لاس اِشاره کړې وه، چې تاسې ذبحه کوي؟

**ځواب**: لُبَابَه بن المُنْذِر رضي الله عنه، چې بیا یې خپل ځان تر شپږو ورځو پورې د نبوي مسجد ستنې پورې تړلی وو.

٣٦٣. **پوښتنه**: د بنو قریظه وو قبیلې په هکله چا فیصله وکړه او څنګه فیصله وه؟

**ځواب**: فیصله پرې سعد بن معاذ رضي الله عنه وکړه، چې نارینه دې ووژل شي، ماشومان دې غلامان او ښځې دې وینځې شي.

٣٦۴. **پوښتنه**: د بنو قریظه وو غزا کې محاصره شوي یهودان بیا څنګه قتل شول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: د مدينې په بازار کې دوی لپاره کندې وویستل شوې او لس، لس کسان به يې راوستل او د څټ له خوانه به يې وهل.

٣٦٥. **پوښتنه**: د بنو قُريظه وو په غزا کې څومره يهودان قتل شوي ول؟

**ځواب**: تقريباً اوه سوه (٧٠٠) يهودان.

٣٦٦. **پوښتنه**: د بنو قريظه وو په غزا کې کوم صحابه کرام د يهودو د وژلو لپاره مقرر شوي ول؟

**ځواب**: درې صحابه کرام پرې مقرر شوې ول: علي رضي الله عنه، زبير رضي الله عنه او مقداد بن الاسود رضي الله عنه.

٣٦٧. **پوښتنه**: د ثابت بن قيس رضي الله عنه له خوا کوم يهودي معاف او بيا د يهوديت د غيرت له وجې ووژل شو؟

**ځواب**: زبير بن باطا چې پای کې بيا هم د خپل غرور او حسد له امله ووژل شو.

٣٦٨. **پوښتنه**: د بني قُريظه وو په غزا کې کوم يو يهودي ځوان معاف شو او ايمان يې هم راوړ؟

**ځواب**: رِفَاعَه بن سَمُوال القرظي.

٣٦٩. **پوښتنه**: د بنو قريظه وو محاصرې څو ورځې دوام کړی وو؟

**ځواب**: پنځه ويشت (٢٥) ورځې.

٣٧٠. **پوښتنه**: د بني قريظه وو غزا څخه د قران کريم کوم سورت بحث کوي؟

**ځواب**: سورة الاحزاب.



٣٧١. **پوښتنه**: د بنو قريظه وو د غزا سبب څه وو؟

**ځواب**: د وعدې ماتول.

٣٧٢. **پوښتنه**: د محمد بن مسلمه رضي الله عنه سَريه چې په دېرشو کسانو مشتمله وه، محمد صلی الله عليه وسلم د هجرت په څوم کال قُرطَا علاقي ته ليږلې وه؟

**ځواب**: د هجرت په شپږم (٦) کال.

٣٧٣. **پوښتنه**: له محمد صلی الله عليه وسلم سره د کومې بي بي نکاح رب العزت د عرش له پاسه تړلې ده؟

ځواب: زينب بنت جَحش رضي الله عنها.

٣٧٤. **پوښتنه**: بنولحيان غزا د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب**: د هجرت په شپږم (٦) کال.

٣٧٥. **پوښتنه**: په بنولحيان غزا کې له محمد صلی الله عليه وسلم سره څومره صحابه کرام ملګري ول؟

**ځواب**: دوه سوه (٢٠٠) صحابه کرام.

٣٧٦. **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم چې کله بنو لحيان غزا ته، تللو په مدينه يې څوک نايب مقرر کړ؟

**ځواب**: عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه.

٣٧٧. **پوښتنه**:د بنی مُصطَلِق غزا د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب**: د هجرت په پنځم (٥) يا شپږم (٦) کال.

٣٧٨. **پوښتنه**: د حديبې صلحې پېښه د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: د هجرت په (٦) شپږم کال.

٣٧٩. **پوښتنه**: د حدیبې صلحې د واقعې سبب څه وو؟

**ځواب**: نبي کریم صلی الله علیه وسلم خوب لیدلی وو، چې له ملګرو سره مکې ته تللی دی او عمره ادا کوي.

٣٨٠. **پوښتنه**: د حدیبې په سفر کې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره کومه یوه اوښه وه؟

**ځواب**: (القصوا) په نامه اوښه ورسره وه.

٣٨١. **پوښتنه**: د حدیبې په سفر کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدینې منورې چارې چاته سپارلې وې؟

**ځواب**: عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه او یا نُمَیلةُ بنُ عبدالله اللیثي رضي الله عنه ته.

٣٨٢. **پوښتنه**: نبي کریم صلی الله علیه وسلم حدیبې صلحې ته په کومه میاشت کې روان شوی وو؟

**ځواب**: د ذي القعدې په میاشت کې.

٣٨٣. **پوښتنه**: نبي کریم صلی الله علیه وسلم مدینې منورې نه عمرې لپاره مکې ته په کومه ورځ روان شوی وو، چې عمره یې ادا نه کړه، صلحه حدیبیه پکې واقع شوه؟

**ځواب**: د دوشنبې په ورځ.

٣٨۴. **پوښتنه**: د حدیبې صلحې په سفر کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د عمرې لپاره احرام کوم ځای کې تړلی وو؟

**ځواب**: په ذي الحلیفه علاقه کې.



٣٨٥. **پوښتنه**: د حدیبې صلحې نه مخکې د قریشو دریز څه وو؟

**ځواب**: قریشو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم مخه نیوله او اجازه یې نه ورکوله چې مکې ته داخل شي.

٣٨٦. **پوښتنه**: د حدیبې صلحې په سفر کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوښه کوم ځای کې کیناسته، چې نوره مخکې نه تله؟

**ځواب**: (ثَنیَةُ المُرار) د حدیبې علاقې په اخر کې د یو کوهي خوا کې څملاسته نوره مخکې نه تله.

٣٨٧. **پوښتنه**: حدیبې صلحې کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم او قریشو تر منځ، لومړی څوک واسطه شو، چې بیا د استازو لیږل شروع شول؟

**ځواب**: (بُدیل بن ورقاء الخزاعي)

٣٨٨. **پوښتنه**: په حدیبې صلحې کې د قریشو نه لومړی استازی څوک راغی؟

**ځواب**: الحُلَیسَ بن عَلقَمَه.

٣٨٩. **پوښتنه**: په حدیبې صلحې کې د قریشو دویم استازی څوک وو؟

**ځواب**: عروة بن مسعود الثقفي.

٣٩٠. **پوښتنه**: په حدیبیې کې د قریشو څو ځوانانو په مؤمنانو د شپې پټه حمله وکړه او په پایله کې د چا لخوا ونیول شول؟

**ځواب**: اویا یا اتیا (٧٠ یا ٨٠) نفرو حمله وکړه او ټول د محمد بن مسلمه رضي الله عنه ملګرو ونیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹۱. **پوښتنه**: په حدیبي صلحې کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د سفیر په حیث قریشو ته څوک لیږلی وو؟

**ځواب**: عثمان بن عفان رضي الله عنه.

۳۹۲. **پوښتنه**: په حدیبیه صلحه کې د بیعت کولو سبب څه وو؟

**ځواب**: چې کله د عثمان بن عفان رضي الله عنه د شهادت خبر خپور شو، نو بیا بیعتونه شروع شول.

۳۹۳. **پوښتنه**: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره لومړی بیعت په حدیبیه کې چا کړی وو؟

**ځواب**: ابو سنان الاسدي (وهب بن مِحصَن) رضي الله عنه.

۳۹۴. **پوښتنه**: په حدیبیه صلحه کې کوم صحابي له محمد صلی الله علیه وسلم سره درې ځله بیعت کړی وو؟

**ځواب**: سَلَمَه بن اکوع رضي الله عنه.

۳۹۵. **پوښتنه**: په حدیبیه صلحه کې صحابه کرام دوه ډلې شوي ول؛ دواړو ډلو په څه له محمد صلی الله علیه وسلم سره بیعت کړی وو؟

**ځواب**: یوې ډلې وویل ترڅو چې مړه شوي نه یو، نو تیښته به نه کوو او بلې ډلې وویل چې ځان به وژنو، خو د عثمان بن عفان رضي الله عنه بدل به اخلو.

۳۹٦. **پوښتنه**: په حدیبیه کې د محمد صلی الله علیه وسلم او صحابه وو، ترمنځ بیعت د څه په نوم یادیږي؟

**ځواب**: بیعة الرضوان.

۳۹۷. **پوښتنه**: په بیعة الرضوان کې کوم کس د بیعت څخه ځان پټ وو؟



**ځواب**: د سور اوښ والا (جَد بن قیس منافق).

۳۹۸. **پوښتنه**: په بیعة الرضوان کې د عثمان بن عفان رضي الله عنه په ځای چا بیعت کړی وو؟

**ځواب**: محمد صلی الله علیه وسلم خپل چپ لاس راواخیست او په خپل ښي لاس یې کېښود.

۳۹۹. **پوښتنه**: په حدیبیه صلحه کې د قریشو له کوم استازي سره د صلحې خبرې اترې وشوې؟

**ځواب**: سهیل بن عمرو سره.

۴۰۰. **پوښتنه**: د حدیبي صلحه په کومو شرایطو شوې وه؟

**ځواب**: په لاندې شرایطو:

۱. سږ کال به عُمره نه کوئ، ځکه دا زمونږ د غیرت خلاف دی، کال ته به عُمرې ته راځئ.

۲. په راتلونکي کال کې به راځئ او فقط درې ورځې به دلته وخت تیروئ، توري به درسره وي، خو فقط په تیکو کې به وي.

۳. لس کاله به زمونږ او ستاسې ترمنځ غزا بند وي.

۴. کومې قبیلې چې غواړي، د محمد صلی الله علیه وسلم په طرف کې ودریږي، نو هغوی ته اختیار دی او څوک چې غواړي د قریشو په طرف کې ودریږي، نو ودریدلی شي.

۵. کوم غزاي خلک چې غواړي، مدینې ته لاړ شي او د مسلمانانو په طرف کې ودریږي، نو دوی به بیرته قریشو ته سپاري او څوک که د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو لخوا نه قریشو ته راځي او د دوی په دین کې داخلېږي، نو دوی به یې بېرته مسلمانانو ته نه سپاري.

۴۰۱. **پوښتنه:** د حدیبې د صلحې شرایطو له لیکلو وړاندې لومړی کوم مؤمن د مسلمانانو خواته راغی؟

**ځواب:** ابو جُندل بن سهیل رضي الله عنه.

۴۰۲. **پوښتنه:** د حدیبې صلحې د شرایطو کاتب او لیکوونکی څوک وو؟

**ځواب:** علي بن ابي طالب رضي الله عنه.

۴۰۳. **پوښتنه:** د حبشو پاچا (اصحَمَه نجاشي) ته کوم صحابي خط وروړی وو؟

**ځواب:** (عمرو بن امیه الضمري رضي الله عنه)

۴۰۴. **پوښتنه:** د حبشو پاچا له خط ترلاسه کولو وروسته څه عکس العمل وښود؟

**ځواب:** نوموړی پاچا مسلمان شو.

۴۰۵. **پوښتنه:** د روم پاچا (هِرَقَل) ته خط وروړونکی صحابي څوک وو؟

**ځواب:** ( دحیة الکلبي) رضي الله عنه وو او نوموړی پاچا اسلام ته مایله شو خو مسلمان نه شو.

۴۰۶. **پوښتنه:** د کسرا پاچا (ابرو یزید هرمز ابن شروان) ته خط وړونکی صحابي څَوک وو؟



**ځواب:** (عبدالله بن حُذَافَه السَهمي) رضي الله عنه وو او نوموړی پاچا د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خط بې عزتي وکړه او هغه یې څیرې کړی وو.

۴۰۷. **پوښتنه:** د اسکندریه (مصر) پاچا (مُقَوقِس) ته خط وروړونکی صحابي څوک وو؟

**ځواب:** حاطب بن ابي بَلتَعَه رضي الله عنه وو، نوموړی پاچا مسلمان نه شو، خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته یې د (ماریة قبطیه او سیرین) په نومونو دوه وینځې، قچر او نور سوغاتونه ورلېږلې ول.

۴۰۸. **پوښتنه:** د شام پاچا (حارث بن ابي شَمَر الغساني) ته خط وړونکی صحابي څوک وو؟

**ځواب:** (شُجَاع بن وهب رضي الله عنه) وو، او نوموړی پاچا مسلمان نه شو.

۴۰۹. **پوښتنه:** د عمان پاچا (جیفر) ته خط وړونکی صحابي څوک وو؟

**ځواب:** ( عمرو بن العاص) رضي الله عنه وو، او دا پاچا مسلمان شو.

۴۱۰. **پوښتنه:** د بحرین پاچا ( المنذر بن ساوي) ته خط چا ور وړی وو؟

**ځواب:** (علا بن الحضرمي) رضي الله عنه، او دا پاچا مسلمان شو.

۴۱۱. **پوښتنه:** د یمن پاچا (الحارث بن عبد کُلال) ته خط کوم صحابي ور وړی وو؟

**ځواب:** (المهاجر بن امیه المخزومي) رضي الله عنه، دا پاچا هغه مهال مسلمان نه شو، خو وېې ویل چې ما ته لږ وخت راکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤١٢. **پوښتنه**: د يمامې حکمران (هَوذَةَ بن علي) ته خط کوم صحابي ور وړی وو؟

**ځواب**: سليط بن عمرو رضي الله عنه.

٤١٣. **پوښتنه**: د خيبر غزا د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب**: د هجرت په اووم (٧) کال.

٤١٤. **پوښتنه**: د خيبر علاقه له مدينې منورې نه څو ميله وړاندې ده؟

**ځواب**: اتيا يا شپږ نوي (٨٠) يا (٩٦) ميله.

٤١٥. **پوښتنه**: د خيبر په غزا کې د مجاهدينو شمېر څومره وو؟

**ځواب**: څوارلس سوه (١٤٠٠).

٤١٦. **پوښتنه**: د خيبر په غزا کې نبي عليه السلام د مدينې منورې چارې چاته سپارلې وې؟

**ځواب**: سماع يا سباع بن عرفطة الغفاري رضي الله عنه ته.

٤١٧. **پوښتنه**: د خيبر د لارې لارښودونکی څوک وو؟

**ځواب**: (حُسَيل).

٤١٨. **پوښتنه**: په خيبر کې څو مشهورې کلاګانې وې، چې يهودو به ترې د کمين په توګه کار اخيسته او په څو ډوله وې؟

**ځواب**: اته (٨) غټې کلاګانې وې او په دوه ډوله وې: حِصنِ ناعم او بل حِصنِ الصعب بن معاذ وو.

٤١٩. **پوښتنه**: په خيبر غزا، حِصنِ ناعِم کلا کې د يهودو مشر مرحب د چا لخوا وژل شوی وو؟

**ځواب**: علي رضي الله عنه.



٤٢٠. **پوښتنه**: په خيبر غزا کې د حِصنِ ناعِم کلا، علي رضي الله عنه په څو ورځو کې فتحه کړې وه؟

**ځواب**: درې (٣) ورځو کې.

٤٢١. **پوښتنه**: په خيبر غزا کې د صعب بن معاذ کلا د چا لخوا فتحه شوې وه؟

**ځواب**: حُبَاب بن المُنذِر رضي الله عنه.

٤٢٢. **پوښتنه**: په خيبر غزا کې د صعب بن معاذ کلا په څو ورځو کې د حُبَاب بن المُنذِر رضي الله عنه لخوا فتحه شوه؟

**ځواب**: په درېو (٣) ورځو کې.

٤٢٣. **پوښتنه**: په خيبر غزا کې د مسلمانانو د غزا د مرکز جوړولو ځای د کوم صحابي په مشورې سره بدل شو؟

**ځواب**: حُبَاب بن المُنذِر.

٤٢٤. **پوښتنه**: نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خيبر کې خپله توره چاته ورکړې وه؟

**ځواب**: علي رضي الله عنه ته.

٤٢٥. **پوښتنه**: په خيبر غزا کې مسلمانانو د يهودو کوم مرکز لومړی تر بريد لاندې ونيوه؟

**ځواب**: حِصنِ ناعِم يا ناعم کلا.

٤٢٦. **پوښتنه**: په خيبر غزا کې (ياسر) چې د (مرحب) ورور وو، د چا له خوا وژل شوی وو؟

**ځواب**: د زبير بن العوام رضي الله عنه لخوا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۲۷. **پوښتنه**: په خیبر غزا کې دویم کوم حِصن یا کلا فتحه شوې وه؟

**ځواب**: د الصعب بن معاذ حِصن یا کلا.

۴۲۸. **پوښتنه**: په خیبر غزا کې درېیم کوم حِصن یا کلا فتحه شوې وه؟

**ځواب**: د زبیر حِصن یا کلا.

۴۲۹. **پوښتنه**: په خیبر غزا کې څلورم کوم حِصن یا کلا فتحه شوې وه؟

**ځواب**: د اُبی حِصن یا کلا.

۴۳۰. **پوښتنه**: په خیبر غزا کې پنځم کوم حصن یا کلا فتحه شوې وه ؟

**ځواب**: د النّزار حِصن یا کلا، چې دا پنځه (۵) مرکزونه د دوی په یو طرف کې واقع ول.

۴۳۱. **پوښتنه**: په خیبر غزا کې ( ابن ابي الحُقَیق) چې مشهور یهودي وو، د چا له خوا ووژل شو؟

**ځواب**: د محمد بن مَسلَمَه رضي الله عنه له خوا چې د ده ورور محمود بن مَسلَمَه په همدې خیبر کې شهید شو، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته حواله کړ، چې دا د هغه په بدل کې قتل کړه.

۴۳۲. **پوښتنه**: له خیبر نه په راتلو کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم له کومې ښځې سره واده کړی وو؟

**ځواب**: صفیه رضي الله عنها سره چې دا مخکې د کِنانه بن ابی الحُقَیق په نکاح کې وه، هغه ووژل شو او دا د حیی بن اخطب لور وه.



۴۳۳. **پوښتنه**: له خیبر غزا وروسته په خیبر کې نبي علیه السلام ته په خوراک کې چا زهر اچولي ول؟

**ځواب**: د زینب بنت الحارث په نوم یوه یهودۍ ښځې وه.

۴۳۴. **پوښتنه**: په خیبر غزا کې کوم صحابي د زینب بنت الحارث یهودۍ د زهرو له وجې وفات شو؟

**ځواب**: بِشر بن البَرَا بن مَعرُور رضي الله عنه.

۴۳۵. **پوښتنه**: دې یهودۍ ښځې (زینب بنت الحارث) ته کومه سزا ورکړل شوه؟

**ځواب**: محمد صلی الله علیه وسلم د بِشر بن البَرَاء بن مَعرُور رضي الله عنه په بدل کې قصاص کړه.

۴۳۶. **پوښتنه**: د خیبر په غزا کې ټول څو یهودان وژل شوي ول؟

**ځواب**: درې نوي (۹۳) یهودان.

۴۳۷. **پوښتنه**: د خیبر په غزا کې ټول څو مسلمانان شهیدان شوي ول؟

**ځواب**: شپاړس یا اتلس (۱٦ یا ۱۸) مسلمانان.

۴۳۸. **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم عمرة القضاء د هجرت په څوم کال ادا کړې وه؟

**ځواب**: د هجرت په اووم (۷) کال.

۴۳۹. **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم عمرة القضاء په کومه میاشت کې ادا کړې وه؟

**ځواب**: د ذالقعدې په میاشت کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۴۰. **پوښتنه:** د عمرة القضاء ادا کولو لپاره چې محمد صلی الله علیه وسلم روانېده، څو صحابه کرام ورسره ملګري ول؟

**ځواب:** تقریباً دوه زره (۲۰۰۰).

۴۴۱. **پوښتنه:** د عمرة القضاء ادا کولو لپاره چې محمد صلی الله علیه وسلم روانیده، د قربانۍ څو اوښان يې له ځان سره روان کړي ول؟

**ځواب:** شپېته (۶۰) اوښان.

۴۴۲. **پوښتنه:** د عمرة القضاء ادا کولو لپاره چې محمد صلی الله علیه وسلم مکې ته، تلو په مدینه منوره باندې يې څوک نایب مقرر کړی وو؟

**ځواب:** ابورُهم غِفَارِي رضي الله عنه.

۴۴۳. **پوښتنه:** د مؤته غزا د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب:** د هجرت په اتم (۸) کال.

۴۴۴. **پوښتنه:** د مؤته غزا په کومه میاشت کې واقع شوې وه؟

**ځواب:** د جُمادي الاولی په میاشت کې.

۴۴۵. **پوښتنه:** د مؤته غزا د پېښېدو لامل څه وو؟

**ځواب:** نبي کریم صلی الله علیه وسلم قیصر پاچا ته (د حارث بن عمیر الازدي) په لاس خط استولی وو، هغه د شرحبیل بن عمرو الغساني له خوا شهید شو، چې دا د قیصر پاچا له خوا د شام د بلقا علاقې والي وو، نو د نوموړي صحابي وژل ددې ستري غزا سبب شو.



۴۴۶. **پوښتنه:** نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مؤته غزا لپاره کوم قومندانان مقرر کړي ول؟

**ځواب:** زید بن حارثه، جعفر بن ابي طالب او عبدالله بن رواحه.

۴۴۷. **پوښتنه:** د مؤته د غزا بیرغ له چا سره وو؟

**ځواب:** زید بن حارثه رضي الله عنه سره.

۴۴۸. **پوښتنه:** ایا نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپله په مؤته غزوه کې ګډون کړی وو؟

**ځواب:** نبي علیه السلام پکې ګډون نه دی کړی، خو د ثنیة الوداع علاقې پورې ورسره لاړ او هلته يې بیا له ملګرو سره مخه ښه کړې وه.

۴۴۹. **پوښتنه:** د مسلمانانو شمېر په مؤته غزا کې څومره وو؟

**ځواب:** درې زره (۳۰۰۰) تنه.

۴۵۰. **پوښتنه:** د کافرانو شمېر په مؤته غزا کې څومره وو؟

**ځواب:** دوه سوه زره یا دوه لکه (۲۰۰۰۰۰).

۴۵۱. **پوښتنه:** د مؤته غزا په قومندانانو کې لومړی کوم صحابي شهید شو؟

**ځواب:** زید بن حارثه رضي الله عنه.

۴۵۲. **پوښتنه:** د مؤته غزا په قومندانانو کې دویم کوم صحابي شهید شو؟

**ځواب:** جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۵۳. **پوښتنه**: د مؤته په غزا په قومندانانو کې درېیم کوم صحابي شهید شو؟

**ځواب**: عبدالله بن رواحه رضي الله عنه.

۴۵۴. **پوښتنه**: د مؤته په غزا کې د درېو قومندانانو له شهادت څخه وروسته، د غزا مشري چا په غاړه واخیسته؟

**ځواب**: خالد بن ولید رضي الله عنه.

۴۵۵. **پوښتنه**: د مؤته په غزا کې د خالد بن ولید رضي الله عنه په لاس کې څو تورې ماتې شوې؟

**ځواب**: نهه (۹) تورې.

۴۵۶. **پوښتنه**: د مؤته په غزا کې کومه یوه توره د خالد بن ولید رضي الله عنه په لاس کې مضبوطه پاتې شوه؟

**ځواب**: دا هغه توره وه، چې په یمن کې جوړه شوې وه او ځینې وایي چې د سپینو زرو وه.

۴۵۷. **پوښتنه**: د مؤته په غزا کې خالد بن ولید رضي الله عنه په کوم ترتیب غزا شروع کړه؟

**ځواب**: د غزا ټوله نقشه یې بدله کړه، مخکې کسان یې وروسته کړل او وروسته کسان یې مخکې کړل او د ښي طرف یې چپ طرف ته کړل، چې په دې ترتیب یې غزا هم وکړه او ټول ملګري یې هم بچ وساتل.

۴۵۸. **پوښتنه**: په مؤته غزا کې څو مسلمانان شهیدان شوي ول؟

**ځواب**: دولس (۱۲).



۴۵۹. **پوښتنه**: د مکې فتحه د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب**: د هجرت په اتم (۸) کال.

۴۶۰. **پوښتنه**: د مکې فتحه په کومه میاشت کې واقع شوې وه؟

**ځواب**: د رمضان په میاشت کې.

۴۶۱. **پوښتنه**: د مکې په فتحه کې د مؤمنانو مجاهدینو شمېر څومره وو؟

**ځواب**: لس زره (۱۰۰۰۰).

۴۶۲. **پوښتنه**: د مکې په فتحه کې نبي علیه السلام د مدینې منورې چارې چاته سپارلې وې؟

**ځواب**: ابورُهم الغِفاري رضي الله عنه ته.

۴۶۳. **پوښتنه**: کله چې نبي علیه السلام د مکې فتحې ته روان وو، په جُحفه علاقه کې ورته څوک مخې ته ورغی؟

**ځواب**: خپل تره (عباس رضي الله عنه) سره د خپلو ماشومانو، چې د مدینې په لور هجرت کوونکي ول.

۴۶۴. **پوښتنه**: کله چې نبي علیه السلام د مکې فتحې ته روان وو او د ابواء علاقې ته ورسېد، نو څوک ورته مخې ته ورغی؟

**ځواب**: خپل د تره زوی ابو سفیان بن الحارث او خپل د ترور زوی عبدالله بن امیه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورڅخه مخ هم واړولو، ځکه چې دوی ورته ډېر تکلیفونه ورکړي ول، چې بالاخره نبي علیه السلام معاف کړل او دوی هم په اسلام کې داخل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۶۵. **پوښتنه**: د مکې له فتحې نه مخکې د مکې خلکو ته پټ خط چا لیکلي وو، چې محمد صلی الله علیه وسلم پلان لري، چې مکه د خپل کنټرول لاندې راولي؟

**ځواب**: حاطب بن ابي بلتعه رضي الله عنه، خو خط د مکې خلکو ته ونه رسېد.

۴۶۶. **پوښتنه**: هغه کوم درې صحابه کرام وو، چې محمد صلی الله علیه وسلم دې لپاره ولېږل، چې خط مکې ته له رسېدو څخه منعه کړي، یعنې وړاندې له دې چې خط مکې ته ورسېږي، مخه یې ونیسي او داسې یې ورته وویل: لاړ شئ او په فلانکۍ علاقه کې یوه بوډۍ ښځه روانه ده او خط ورسره دی؟

**ځواب**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه، مقداد بن الاسود رضي الله عنه او ابُو مَرثد الغَنَوي رضي الله عنه.

۴۶۷. **پوښتنه**: د مکې په فتحه کې کله چې محمد صلی الله علیه وسلم مکې ته داخلېده، څوک د نبي علیه السلام په اوښه سپور شو؟

**ځواب**: عباس رضي الله عنه.

۴۶۸. **پوښتنه**: مکې ته په داخلېدو کې ابو سفیان ته دا خبره چا وکړه، چې (الْیَوْمَ یَوْمُ الْمَلْحَمَةِ) نن ورځ د غوښو ورځ ده.

**ځواب**: دا خبره ورته سَعد بن عُباده رضي الله عنه وکړه، چې د انصارو بیرغ د ده په لاس کې وو.

۴۶۹. **پوښتنه**: د مکې په فتحه کې محمد صلی الله علیه وسلم مکې ته په کومه نقشه خپل لښکر داخل کړی وو؟



**ځواب**: په ښي طرف کې خالد بن ولید رضي الله عنه، اسلم، سُلیم، غفار، مُزَینَه، جُهَینه او د عربو نور قبایل ورسره وو او نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته د صفاء د غونډۍ وعده ورکړه، چې هلته به بیا سره مخامخ شو او په چپ طرف کې زبیر ابن العوام رضي الله عنه چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم بیرغ هم ورسره وو او نبي علیه السلام ورته وویل: لاړ شه او په حجون علاقه کې بیرغ ودروه او ابوعبیدة بن الجراح رضي الله عنه سره عام خلک وو او ځینې خلک ورسره بې اسلحو هم وو.

۴۷۰. **پوښتنه**: د مکې په فتحه کې د مسلمانانو څو نفره شهیدان شوي وو؟

**ځواب**: فقط دوه (۲) نفره.

۴۷۱. **پوښتنه**: د مکې په فتحه کې کوم صحابه کرام شهیدان شوي وو؟

**ځواب**: یو کُرز بن جابر الفُهري او بل خُنَیس بنُ خَالِد بن ربیعه چې هغه هم له ملګرو نه ډېر جدا شوي وو.

۴۷۲. **پوښتنه**: د مکې په فتحه کې له مشرکانو څخه څو نفره وژل شوي وو؟

**ځواب**: د مکې په فتحه کې څه خاص غزا ونه شو، خو د (خندمه) په علاقه کې خالد بن ولید رضي الله عنه سره د مشرکانو څه ځوانانو لږ غزا وکړ او دولس (۱۲) نفره یې پکې ووژل.

۴۷۳. **پوښتنه**: د مکې د فتحې په ورځ، په مسجد حرام کې دننه څومره بوتان موجود وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څواب**: درې سوه شپېته (۳۶۰) بوتان.

۴۷۴. **پوښتنه**: نبي کريم صلی الله عليه وسلم چې کله په نيزه بوتان وهل، نو کوم ايت يې لوستلو؟

**څواب**: ﴿وَ قُلۡ جَآءَ الۡحَقُّ وَ زَهَقَ الۡبَاطِلُ ؕ اِنَّ الۡبَاطِلَ كَانَ زَهُوۡقًا ﴿۸۱﴾﴾.

۴۷۵. **پوښتنه**: د کعبې کيلي ګانې نبي کريم صلی الله عليه وسلم له چا نه واخيستلې، چې کعبه يې خلاصه کړه؟

**څواب**: له عثمان بن طلحه نه.

۴۷۶. **پوښتنه**: د مکې په ففتحه کې چې کله محمد صلی الله عليه وسلم په کعبه کې داخل لمونځ ادا کړو، نو بېرته يې د کعبې کيلي ګانې چا ته ورکړې؟

**څواب**: عثمان بن طلحه رضي الله عنه.

۴۷۷. **پوښتنه**: د مکې په فتحه کې چې کله محمد صلی الله عليه وسلم د کعبې داخل ته ننوت، د کعبې په منځ کې څه ول؟

**څواب**: مشرکينو د ابراهيم او اسماعيل عليهما السلام شکلونه جوړ کړي ول او بل پکې له لرګي نه يوه جوړه شوې کوتره وه.

۴۷۸. **پوښتنه**: د مکې په فتحه کې محمد صلی الله عليه وسلم چا ته امر وکړ، چې د کعبې خونې له پاسه ودرېږه او اذان وکړه؟

**څواب**: بلال بن رباح رضي الله عنه ته.

۴۷۹. **پوښتنه**: د مکې د فتحې په ورځ محمد صلی الله عليه وسلم د کومو نهو(۹) کسانو د وينې توېيدلو اعلان کړی وو، او فرمايلي و،



چې که دوی د کعبې غلاف پورې ځانونه زوړند هم ونيسي، نو بيا يې هم قتل کړئ؟

**څواب**: عبدالعُزی بن خطل، عبدالله بن سعد بن ابي سرح، عکرمه بن ابي جهل، حارث بن نُفيل بن وهب، مِقيَسُ بنُ صَبَابَة، هَبَار بن الاسود، دوه وينځې د ابن خطل چې دوی به د نبي کريم صلی الله عليه وسلم بدي بيانوله او سارة، دا د ابن عبدالمطلب په کورنۍ کې د يو چا وينځه وه او دا هغه ښځه ده، چې د حاطب رضي الله عنه هغه خط يې مکې ته وړلو.

۴۸۰. **پوښتنه**: ايا د مکې د فتحې په ورځ د ابوجهل زوی عکرمه په اسلام کې داخل شوی وو؟

**څواب**: هو، د مکې له فتحې نه يو څو ورځې وروسته په اسلام کې داخل شو او بيا د يرموک په غزا کې شهيد شو.

۴۸۱. **پوښتنه**: ايا د مکې په فتحه کې صفوان بن اُميه، چې د قريشو يو سردار و، په اسلام کې داخل شوی وو؟

**څواب**: هو، دا هم د مکې د فتحې نه يو څو ورځې وروسته په اسلام کې داخل شو، چې کيسه يې مشهوره ده.

۴۸۲. **پوښتنه**: ايا د مکې په فتحه کې هند بنت عُتبه چې د ابو سفيان ښځه وه او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره په ډېر اوږده مخالفت کې پاتې شوې وه، په اسلام کې داخله شوه او که نه؟

**څواب**: هو، دا هم په اسلام مشرفه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۸۳. **پوښتنه**: ايا سهيل بن عمرو چې د قريشو خطيب ورته ويل کېږي او د عبدالله او ابو جندل چې دا دواړه صحابه دي، د دوی پلار وو، په اسلام کې داخل شو؟

**ځواب**: هو، دا هم د مکې د فتحې په ورځ په اسلام مشرف شو.

۴۸۴. **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم د مکې له فتحې نه وروسته چاته امر وکړ، چې د حرم حدود وټاکي؟

**ځواب**: ابو اسيد الخزاعي رضي الله عنه ته.

۴۸۵. **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم د مکې په فتحه کې څو ورځې په مکه کې پاتې شو؟

**ځواب**: نوولس (۱۹) ورځې.

۴۸۶. **پوښتنه**: کله چې مکه فتحه شوه، محمد صلی الله عليه وسلم کوم ځای کې د مکې له اوسېدونکو څخه بيعت واخيست؟

**ځواب**: د صفا غونډۍ له پاسه.

۴۸۷. **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم څوک د کنانه قبيلې لوی بت (عزی) د نړولو پسې د دېرشو کسانو په مشرۍ لېږلی وو، چې بت يې مات او منجاوره يې ورته ووژله؟

**ځواب**: خالد بن وليد رضي الله عنه.

۴۸۸. **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم کوم صحابي، رهاط علاقې ته د سواع بت ماتولو لپاره لېږلی وو، چې بت يې مات کړ او منجاور يې مسلمان شو؟

**ځواب**: عمرو بن العاص رضي الله عنه.



۴۸۹. **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم د کوم صحابي په مشرۍ له شلو سپرو سره د مشلل نومې ځای ته د (منات) بت ماتولو لپاره لېږلی وو، چې بت يې مات او ښځه منجاوره يې ورته ووژله؟

**ځواب**: سعد بن زيد رضي الله عنه.

۴۹۰. **پوښتنه**: د حنين غزا د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب**: د هجرت په اتم (۸) کال.

۴۹۱. **پوښتنه**: د حنين غزا په کومه مياشت کې واقع شوې وه؟

**ځواب**: د شوال په مياشت کې.

۴۹۲. **پوښتنه**: د حنين غزا د شوال د مياشتې په څوم تاريخ واقع شوې وه؟

**ځواب**: په شپږم (٦) تاريخ.

۴۹۳. **پوښتنه**: محمد صلی الله عليه وسلم، حنين غزا ته په کومه ورځ له مکې څخه حنين علاقې ته د دولس زره (۱۲۰۰۰) ملګرو سره روان شو؟

**ځواب**: د شنبې په ورځ.

۴۹۴. **پوښتنه**: په حنين غزا کې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څومره ملګرو شتون درلود؟

**ځواب**: (۱۲۰۰۰) دولس زره، چې لس زره ورسره د مدينې نه راغلي ول، او (۲۰۰۰) دوه زره د مکې نوي مسلمانان ول.

۴۹۵. **پوښتنه**: د حنين غزا لپاره محمد صلی الله عليه وسلم څو جوړه زغرې د صفوان بن اُميه څخه د امانت په ډول اخيستې وې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څواب**: سل (۱۰۰) زغرې او نور د غزا لوازم.

۴۹۶. **پوښتنه**: د حنین په غزا کې نبي علیه السلام د مکې مکرمې چارې چاته سپارلې وې؟

**څواب**: عَتّاب بن اسِید ته.

۴۹۷. **پوښتنه**: د حنین په غزا کې د کافرانو د غزا مرکز کوم ځای وو؟

**څواب**: د اوطاس سیمه.

۴۹۸. **پوښتنه**: د حنین په غزا کې د کافرانو د غزا مشري چا کوله؟

**څواب**: مالک بن عوف.

۴۹۹. **پوښتنه**: کله چې د حنین په ورځ غزا سخت شو او مسلمانان د کافرانو د یو کمین سره مخ شول، لږ شا ته شول او نبي کریم صلی الله علیه وسلم له یو څو ملګرو سره په میدان کې پاتې شو، نو په دغه مهال نبي کریم صلی الله علیه وسلم کوم کلمات وویل؟

**څواب**: انا النّبي لا کذب، انا ابن عبدالمطلب (یعنې زه نبي یم او دروغ نه ده او زه د عبدالمطلب زوی یم).

۵۰۰ . **پوښتنه**: د حُنین په ورځ چې کله مسلمانان شاته خواره شول، نو نبي علیه السلام چاته امر وکړ، چې دې خلکو ته د راجمع کېدلو غږ وکړ؟

**څواب**: عباس رضي الله عنه ته.

۵۰۱ . **پوښتنه**: د حُنین غزا د قران کریم په کوم سورت کې ذکر شوې وه؟

**څواب**: سورتِ التوبه کې.



۵۰۲ . **پوښتنه**: د حُنین په غزا کې د ثقیف قبیلې نه څو نفره ووژل شول؟

**څواب**: اویا (۷۰) نفره.

۵۰۳ . **پوښتنه**: په حنین غزا کې د کافرانو څومره کسان بندیان شوي ول؟

**څواب**: شپږ زره (۶۰۰۰) کسان.

۵۰۴ . **پوښتنه**: په حنین غزا کې مسلمانانو ته څومره اوښان په لاس ورغلي ول؟

**څواب**: څلرویشت زره (۲۴۰۰۰) اوښان.

۵۰۵ . **پوښتنه**: په حنین غزا کې مسلمانانو ته څومره پسونه په لاس ورغلي ول؟

**څواب**: څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) څخه زیات پسونه.

۵۰۶ . **پوښتنه**: په حنین غزا کې مسلمانانو ته څومره اوقیې یا څو ګرامه سپین زره په لاس ورغلي ول؟

**څواب**: څلور زره (۴۰۰۰) اوقیې یا پنځه سوه شپېته (۵۶۰) کیلو ګرامه سپین زره.

۵۰۷ . **پوښتنه**: په حنین غزا کې چې کوم غنیمتونه د مسلمانانو لاس ته ورغلي ول، کوم ځای کې یې جمع کړي ول؟

**څواب**: په (جَعرَانه) علاقه کې.

۵۰۸ . **پوښتنه**: د حنین غزا د غنیمتونو ساتنې لپاره نبي علیه السلام کوم صحابي مقرر کړی وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: مسعود بن عمرو الغِفاري رضي الله عنه.

۵۰۹ . **پوښتنه**: د حنین غزا غَنیمتونه محمد صلی الله علیه وسلم کله توزیع کړل؟

**ځواب**: د طایف له غزا نه وروسته.

۵۱۰ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم هغه رضاعي خور چې د حنین غزا په بندیانو کې نیول شوې وه، هغه څه نومېده؟

**ځواب**: شیما بنت الحارث نومېده، چې نبي علیه السلام ته یې خپل ځان معرفي کړ، چې زه ستا رضاعي خور یم، بیا یې نبي علیه السلام ډېر عزت وکړ او خپل څادر یې ورته خور کړ.

۵۱۱ . **پوښتنه**: د طایف د غزا سبب څه وو؟

**ځواب**: کله چې کافران په حُنین غزا کې ناکام شول، نو ټول د خپل مشر په شمول چې مالک بن عوف نومېده، د طایف په علاقه کې جمع شول او هلته دوی ځانونه مظبوط کړل، نو مسلمانان ورپسې هلته هم ورغلل.

۵۱۲ . **پوښتنه**: د طایف غزا په کومه نېټه پېښه شوې وه ؟

**ځواب**: د حُنین او طایف غزا ګانو د پېښېدو یوه نېټه ده، چې د شوال میاشت او اتم کال د هجرت وو.

۵۱۳ . **پوښتنه**: د طایف په علاقه کې کافران څو ورځې محاصره ول؟

ځواب: د سیرت علماوو اختلاف دی؛ څوک څه دپاسه لس (۱۰) ورځې، ځېنې اتلس (۱۸) او ځېنې نور بیا پنځلس (۱۵) ورځې محاصره ښايي.



۵۱۴ . **پوښتنه**: د طایف په غزا کې کله چې کافران کلا بند شول، څو مسلمانان یې په غشو وویشتل او شهیدان یې کړل؟

**ځواب**: ډېر پکې زخمیان او دولس (۱۲) پکې شهیدان شول.

۵۱۵ . **پوښتنه**: کله چې طایف غزا کې محاصره ډېره اوږده شوه، نو په اخره کې مسلمانانو کومه اسلحه استعمال کړه؟

**ځواب**: د مَنجنیق اسلحې نه یې کار واخیست، چې د دې حیثیت هغه وخت کې لکه د ټانګ وو.

۵۱۶ . **پوښتنه**: د طایف له غزا نه وروسته کله چې نبي علیه السلام د حُنین غزا د غنیمتونو توزیع پیل کړه، ابو سفیان بن حرب ته څومره غنیمت ورکړل شو؟

**ځواب**: سل اوښان (۱۰۰) او (۴۰) اوقیې یعنې پنځه کیلو او شپږ سوه (۵،۶۰۰) ګرامه سپین زر.

۵۱۷ . **پوښتنه**: د طایف د غزا نه وروسته د حنین په غنیمتونو کې، د ابو سفیان زوی، یزید ته څومره غنیمت ورکړل شو؟

**ځواب**: هغه ته هم سل اوښان (۱۰۰) او (۴۰) اوقیې یعنې پنځه کیلو او شپږ سوه (۵،۶۰۰) ګرامه سپین زر ورکړل شول.

۵۱۸ . **پوښتنه**: نبي علیه السلام د طایف د غزا نه وروسته د حنین په غنیمتونو کې معاویه بن ابو سفیان ته څومره غنیمت ورکړی وو؟

**ځواب**: هغه ته هم سل اوښان (۱۰۰) او (۴۰) اوقیې یعنې پنځه کیلو او شپږ سوه (۵،۶۰۰) ګرامه سپین زر ورکړل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۱۹ . **پوښتنه**: نبي علیه السلام د طایف د غزا نه وروسته د حنین په غنیمتونو کې د قریشو سردار صفوان بن امیه ته څومره اوښان په غنیمت کې ورکړي ول؟

**ځواب**: درې سوه (۳۰۰) اوښان.

۵۲۰ . **پوښتنه**: کله چې نبي علیه السلام د طایف له غزا نه وروسته د حُنین د غزا غنیمتونو وېش پیل کړ، د قریشو بل سردار حارث بن الحارث بن کلدة ته یې څومره اوښان په غنیمت کې ورکړي ول؟

**ځواب**: سل (۱۰۰) اوښان.

۵۲۱ . **پوښتنه**: کله چې د محمد صلی الله علیه وسلم دا ډول زیاتې صدقې خلکو ولیدله، نو څه یې وویل؟

**ځواب**: په خلکو کې دا خبره مشهوره شوه، چې (ان محمد صلی الله علیه وسلماً یعطی عطاء ما یخاف الفقر).

ژباړه: دا پیغمبر داسې انفاق او صدقه کوي، چې هېڅ له فقر څخه نه وېرېږي.

۵۲۲ . **پوښتنه**: ایا د حنین غزوې د غنیمتونو په تقسیم کې د مدینې انصارو ته برخه ورکړل شوه اوکه نه؟

**ځواب**: د مدینې انصارو ته پکې برخه ورنه کړل شوه، هغوی لږ څه نا امیده شول، چې بیا ورته نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو خاص وعظ وکړ، چې ګورئ مه خپه کېږئ! خلک به له ځان سره اوښان او ګډان یوسي او تاسې به مدینې ته له ځان سره رسول الله صلی الله علیه وسلم یوسئ، نو انصارو ډېر زیات وژړل، تر دې چې ږیرې یې



لمدې شوې او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې وویل چې موږ پرې راضي یوو.

۵۲۳ . **پوښتنه**: کله چې محمد صلی الله علیه وسلم د حُنین غزا د غنیمتونو له وېش څخه فارغ شو، په کوم ځای کې یې د عمرې ادا کولو لپاره احرام وتاړه؟

**ځواب**: جَعرَانَه علاقه کې یې د عمرې احرام وتاړه.

۵۲۴ . **پوښتنه**: کله چې محمد صلی الله علیه وسلم د مکې له فتحې نه وروسته د ذالقعدې میاشتې په څلورویشتم (۲۴) باندې مدینې منورې ته روانېده؛ د مکې مکرمې چارې یې چاته وسپارلې؟

**ځواب**: عَتَّاب بن اسید رضي الله عنه ته.

۵۲۵ . **پوښتنه**: د تبوک غزا د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب**: د هجرت په نهم (۹) کال.

۵۲۶ . **پوښتنه**: د تبوک غزا په کومه میاشت کې واقع شوې وه؟

**ځواب**: د رجب په میاشت کې.

۵۲۷ . **پوښتنه**: د تبوک غزا له چا سره شوې وه؟

**ځواب**: له رومیانو سره. [ روم د ایټالیا مرکز دی]

۵۲۸ . **پوښتنه**: د تبوک د غزا سبب څه وو؟

**ځواب**: رومیانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو سفیر وژلی وو، چې(حارث بن عمیر الازدي) نومېده او د شرحبیل بن عمرو الغساني په لاس یې وژلی وو.

۵۲۹ . **پوښتنه**: د تبوک غزا په وخت کې د رومیانو پاچا څوک وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: قیصر.

۵۳۰ . **پوښتنه**: کله چې نبي علیه السلام د تبوک غزا لپاره ملګرو ته په صدقه کولو سره ترغیب ورکړ، نو عثمان رضي الله عنه پکې څه صدقه کړي ول؟

**ځواب**: نهه سوه (۹۰۰) اوښان، سل (۱۰۰) اسونه، زر (۱۰۰۰) دیناره او دوه سوه (۲۰۰) اوقیې چې د سپینو زرو روپۍ وې، چې نهه ویشت نیمې (۲۹،۵) کیلو سپین زر کېږي او پنځه نیمې (۵،۵) کیلو سره زر صدقه کړل.

۵۳۱ . **پوښتنه**: د تبوک په غزا کې عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه څومره مال صدقه کړی وو؟

**ځواب**: دوه سوه (۲۰۰) اوقیې یا نهه ویشت نیمې (۲۹،۵) کیلو سپین زر.

۵۳۲ . **پوښتنه**: د تبوک په غزا کې ابوبکر صدیق رضي الله عنه څومره مال صدقه کړی وو؟

**ځواب**: ابوبکر صدیق رضي الله عنه خپل ټول مال صدقه کړ، چې مجموعه څلور زره (۴۰۰۰) درهمه یا څوارلس (۱۴) کیلو سره زر کیدل، او لومړنۍ صدقه هم ابوبکر صدیق رضي الله عنه وړاندې کړې وه.

۵۳۳ . **پوښتنه**: د تبوک په غزا کې عمر بن خطاب رضي الله عنه څومره مال صدقه کړی وو؟

**ځواب**: عمر رضي الله عنه خپل نیم مال صدقه کړی وو.



۵۳۴ . **پوښتنه**: د تبوک په غزا کې عاصم بن عدي رضي الله عنه څومره خرما صدقه کړې وه؟

**ځواب**: نوي (۹۰) وسَقه کجورې، چې دیارلس نیم (۱۳،۵) ټنه وزن جوړوي.

۵۳۵ . **پوښتنه**: د تبوک په غزا کې کومو کسانو صدقه ور نه کړه؟

**ځواب**: منافقینو.

۵۳۶ . **پوښتنه**: د تبوک د سفر پر مهال نبي علیه السلام د مدینې منورې چارې چاته سپارلې وې؟

**ځواب**: (محمد بن مَسلَمَه الانصاري) ته او یا هم (سباع بن عرفطة) ته.

۵۳۷ . **پوښتنه**: د تبوک د سفر پر مهال نبي علیه السلام د خپل کور د ساتنې لپاره څوک مقرر کړی وو؟

**ځواب**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه.

۵۳۸ . **پوښتنه**: نبي علیه السلام تبوک غزا ته په کومه ورځ روان شوی وو؟

**ځواب**: د پنجشنبې په ورځ.

۵۳۹ . **پوښتنه**: د مسلمانانو شمېر د تبوک په غزا کې څومره وو؟

**ځواب**: دیرش زره (۳۰۰۰۰) کسان ول.

۵۴۰ . **پوښتنه**: د تبوک په غزا کې چې د مجاهدینو شمېر زیات وو، او سورلۍ کمې وې؛ نو په یو اوښ به په نوبت نوبت، څو څو کسانو سورلي کوله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب:** نبي عليه السلام د اتلس (۱۸) نفرو لپاره يو اوښ ورکړی وو، نو په نوبت نوبت به په يو اوښ يو يو نفر سوريده.

۵۴۱ . **پوښتنه:** د تبوک په سفر کې د نبي صلی الله عليه وسلم د لمونځونو د اداکولو طريقه څه ډول وه؟

**ځواب:** په سفر کې به نبي کريم صلی الله عليه وسلم لمونځونه جمع کول، مثلاً: ماسپښين او مازيګر به يې يو ځای کولو او ماښام او ماسخوتن به يې يو ځای کولو او په دې کې جمع تقديم او تاخير دواړه جايز دي او دا سنت طريقه نن هم باقي پاتې ده.

۵۴۲ . **پوښتنه:** د تبوک سفر ټول څومره وخت ونيوه؟

**ځواب:** پنځوس (۵۰) ورځې. چې شل (۲۰) ورځې يې په تبوک کې تيرې شوې او دا نورې (۳۰) ورځې په تلو راتلو کې تيرې شوې وې.

۵۴۳ . **پوښتنه:** نبي عليه السلام او صحابه کرامو د تبوک سفر په کومه مياشت کې پيل او په کومه مياشت کې بېرته مدينې منورې ته راوګرځېدل؟

**ځواب:** د رجب له مياشتې پيل او د روژې مبارکه مياشت کې بېرته مدينې ته راوګرځېدل، چې د هجرت نهم (۹) کال وو.

۵۴۴ . **پوښتنه:** د نبي کريم صلی الله عليه وسلم وروستۍ غزا کومه يوه وه؟

**ځواب:** د تبوک غزا.

۵۴۵ . **پوښتنه:** کوم درې مؤمنان د تبوک له غزا نه پاتې شوي ول؟



**ځواب:** کعب بن مالک رضي الله عنه، مُرَارَةُ بْن الرَّبِيعِ رضي الله عنه او هلال بن أُمية رضي الله عنه.

۵۴۶ . **پوښتنه:** نبي کريم صلی الله عليه وسلم چې د تبوک له سفر نه مدينې منورې ته ورسېد، نو اول يې کوم کار ترسره کړ؟

**ځواب:** لومړی يې په نبوي مسجد کې دوه رکعته لمونځ ادا کړی وو.

۵۴۷. **پوښتنه:** د تبوک د غزا ځينې حالات د قران کريم په کوم سورت کې ذکر شوي دي؟

**ځواب:** سورتِ التوبة کې.

۵۴۸ . **پوښتنه:** د تبوک غزا پر مهال منافقانو کوم مسجد جوړ کړی وو؟

**ځواب:** مسجد ضرار.

۵۴۹ . **پوښتنه:** د مسجد ضرار اصلي بنسټګر څوک وو؟

**ځواب:** (ابو عامرالفاسق) چې په خپله غټ کافر وو، خو زوی يې غوره مؤمن وو، چې (حنظله) رضي الله عنه نومېده او په أُحد کې شهيد شوی وو او غسيل الملايکه سره شهرت لري.

۵۵۰ . **پوښتنه:** هغو درې مؤمنان چې د تبوک له غزا نه پاتې شوي ول، محمد صلی الله عليه وسلم ورته په څومه ورځ امر کړی وو، چې له خپلو ښځو څخه جدا شئ؟

ځواب: په څلوېښتمه (۴۰) ورځ.

۵۵۱ . **پوښتنه:** هغه درې مؤمنان چې د تبوک له غزا نه پاتې شوي ول، په څومه ورځ يې رب العزت توبه قبوله کړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: په پنځوسمه (۵۰) ورځ.

۵۵۲. **پوښتنه**: د تبوک غزا نه وروسته د کومې علاقې مسلمان واکمن باندې محمد صلی الله علیه وسلم غايبانه جنازه کړې وه؟

**ځواب**: د حبشې واکمن، اصحمه نجاشي باندې.

۵۵۳. **پوښتنه**: تبوک غزا نه وروسته د محمد صلی الله علیه وسلم کومه لور وفات شوې وه؟

**ځواب**: اُم کلثوم رضي الله عنها، د عثمان رضي الله عنه دويمه ميرمن.

۵۵۴. **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم څوک د هجرت په نهم (۹) کال د ذي القعدې يا ذي الحجې په مياشت کې د حج د مناسکو ښوولو لپاره د حج د امير په صفت مکې ته لېږلی وو؟

**ځواب**: ابوبکر صديق رضي الله عنه.

د محمد صلی الله علیه وسلم ټولو غزاګانو خلاصه:

۵۵۵. **پوښتنه**: د هجرت په دويم کال کې کومې غزاګانې ترسره شوي دي؟

**ځواب**: په لاندې ډول دي.

۱. غزوة الابواء، په صفر المظفر مياشت کې.

۲. غزوة بواط، ربيع الاول مياشت کې.

۳. غزوة سفوان، ربيع الاول مياشت کې.

۴. غزوة ذی العشيرة، جُماد الاولی مياشت کې.

۵. غزوة بدر الکبری، رمضان المبارک په اولسم (۱۷).



٦. غزوة بني سليم، محرم مياشت کې.

۷. غزوة بني قينقاع، شوال مياشت کې.

۸. غزوة سويق، ذي الحجې مياشت کې.

۵۵٦. **پوښتنه**: د هجرت په درېيم کال کې کوم غزوات واقع شوي دي؟

**ځواب**: ۱. غزوة ذي امر، محرم کې.

۲. غزوة بحران، ربيع الاول کې.

۳. غزوة اُحد، شوال کې.

۴. غزوة حمراء الاسد، شوال کې.

۵۵۷. **پوښتنه**: د هجرت په څلورم کال کې کوم غزوات واقع شوي دي؟

**ځواب**: ۱. غزوة بني نضير، ربيع الاول کې.

۲. غزوة بدر الثانية.

۵۵۸. **پوښتنه**: هغه کوم غزوات دي، چې په پنځم هجري کال کې واقع شوي دي؟

**ځواب**:

۱. غزوة دومة الجندل، ربيع الاول کې.

۲. غزوة الاحزاب، شوال کې.

۳. غزوة بني قريظه، ذي القعده کې.

۵۵۹. **پوښتنه**: هغه کوم غزوات دي، چې په شپږم هجري کال کې واقع شوي دي؟

**ځواب**:

۱. غزوة بني لحيان، جُمادَي الاولی کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٢. غزوة بني المصطلق او غزوت المريسع ٥ه. يا ٦ه.**

**٣. غزوة ذی الغابة او غزوة ذی قرد ، ربيع الاول کې.**

**٥٦٠ . پوښتنه: د هجرت په اووم کال کې کوم غزوات واقع شوي دي؟**

**ځواب: ١. غزوة خيبر وادي القرى، محرم کې.**

**٢. غزوة ذات الرقاع، ربيع الاول کې.**

**٥٦١ . پوښتنه: په اتمه هجري کال کې کوم غزوات واقع شوي دي؟**

**ځواب:**

**١. د مکې فتحه، په رمضان کې.**

**٢. غزوة حنين، دشوال میاشت د شنبې ورځ.**

**٣. غزوة طايف، شوال کې.**

**٥٦٢ . پوښتنه: د هجرت په نهم کال کې کوم غزوات واقع شوي دي؟**

**ځواب: فقط غزوة تبوک.**

**٥٦٣ . پوښتنه: د بدر په غزا کې د مسلمانانو او کافرانو شمېر څومره وو؟**

**ځواب: د مسلمانانو شمېر درې سوه دیارلس (٣١٣) مجاهدين ول او د کافرانو شمېر زر (١٠٠٠) نفره ول.**

**٥٦۴ . پوښتنه: د اُحد په غزا کې د مسلمانانو او کافرانو شمېر څومره وو؟**

**ځواب: د مسلمانانو شمېر اووه سوه (٧٠٠) تنه وو او د کافرانو شمېر درې زره (٣٠٠٠) نفره ول.**



**٥٦٥ . پوښتنه: د خندق په غزا کې د مسلمانانو او کافرانو شمېر څومره وو؟**

**ځواب: د مسلمانانو شمېر درې زره (٣٠٠٠) مجاهدين ول او د کافرانو شمېر لس زره (١٠٠٠٠) نفره ول.**

**٥٦٦ . پوښتنه: د خيبر په غزا کې د مسلمانانو شمېر څومره وو؟**

**ځواب: د مسلمانانو شمېر (١۴٠٠) څوارلس سوه مجاهدين ول.**

**٥٦٧ . پوښتنه: د مؤته په غزا کې د مسلمانانو او کافرانو شمېر څومره وو؟**

**ځواب: د مسلمانانو شمېر درې زره (٣٠٠٠) مجاهدين ول او د کافرانو شمېر دوه سوه زره (٢٠٠٠٠٠) نفره ول.**

**٥٦٨ . پوښتنه: د تبوک په غزا کې د مسلمانانو او کافرانو شمېر څومره وو؟**

**ځواب: د مسلمانانو شمېر دېرش زره (٣٠٠٠٠) مجاهدين ول او د کافرانو شمېر څلوېښت زره (۴٠٠٠٠) نفره ول.**

**٥٦٩ . پوښتنه: د مکې فتحې په غزا کې د مسلمانانو شمېر څومره وو؟**

**ځواب: د مسلمانانو شمېر لس زره (١٠٠٠٠) مجاهدين ول.**

**٥٧٠ . پوښتنه: د حنين په غزا کې د مسلمانانو شمېر څومره وو؟**

**ځواب: د مسلمانانو شمېر دولس (١٢٠٠٠) زره مجاهدين ول.**

**٥٧١ . پوښتنه: د حديبې په صلحه کې د مسلمانانو شمېر څومره وو؟**

**ځواب: څوارلس سوه (١۴٠٠) .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۷۲ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند په اخري رمضان کې څو ورځې اعتکاف کړی وو؟

**ځواب**: شل (۲۰) ورځې.

۵۷۳ . **پوښتنه**: د نبي علیه السلام حج په څه نوم یادېږي؟

**ځواب**: حجة الوداع.

۵۷۴ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم په کومه میاشت کې له مدینې نه د مکې پرلور د حج اداکولو لپاره روان شوی وو؟

**ځواب**: د ذي القعدې په میاشت کې.

۵۷۵ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم په کومه ورځ حجة الوداع (اخري حج) اداکولو لپاره له مدینې نه مکې ته روان شو؟

**ځواب**: د شنبې په ورځ له غرمې وروسته.

۵۷۶ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم په کوم ځای کې د حجة الوداع (اخري حج) لپاره احرام وتاړه؟

**ځواب**: په ذوالحلیفه نومې ځای کې.

۵۷۷ . **پوښتنه**: په حجة الوداع کې له محمد صلی الله علیه وسلم سره څومره صحابه کرامو د حج په ادا کولو کې ګډون کړی وو؟

**ځواب**: سل زره (۱۰۰۰۰۰) یا یو لک او څلوېښت زره (۱۴۰۰۰۰).

۵۷۸ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم حجة الوداع (اخري حج) ادا کولو لپاره مکې ته په کومه میاشت کې ورسېد؟

**ځواب**: د ذي الحجې په څلورمه مکې ته ورسېد.



۵۷۹ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم حجة الوداع (اخري حج) ادا کولو لپاره مکې ته په کومه ورځ کې ورسېد؟

**ځواب**: سه شنبه یا چهارشنبه.

۵۸۰ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم حجة الوداع (اخري حج) د هجرت په څوم کال ادا کړی دی؟

**ځواب**: د هجرت په لسم (۱۰) کال.

۵۸۱ . **پوښتنه**: ایا محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند په اخري ورځو کې د اُحد د شهیدانو په قبرونو د جنازې لمونځ کړی وو؟

**ځواب**: هو؛ محمد صلی الله علیه وسلم د هجرت په یوولسم (۱۱) کال د اُحد په شهیدانو د جنازې لمونځ ادا کړی وو.

۵۸۲ . **پوښتنه**: نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خپل ژوند اخري جمعه له کومې بي بي سره تېره کړې وه؟

**ځواب**: د عایشې رضي الله عنها سره.

۵۸۳ . **پوښتنه**: د قران کریم هغه کوم سورت دی، چې په هغې کې د محمد صلی الله علیه وسلم وفات ته اشاره شوې ده؟

**ځواب**: (سورة النصر) اذا جاء نصرالله.

۵۸۴ . **پوښتنه**: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم اخري مریضتیا له کوم وخت نه شروع شوه؟

**ځواب**: نبي کریم صلی الله علیه وسلم بقیع هدیرې ته د یوې جنازې لپاره تللی وو، له هغې طرف نه په راتللو کې یې په سر درد شو، نو له همدې ځای نه یې د مریضتیا شروع وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۸۵ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم مریضتیا د راتلو دقیق وخت کوم یو وو؟

**ځواب**: د صفرې د میاشتې نهه ویشتم (۲۹) ، د هجرت یوولسم (۱۱) او د دوشنبې ورځ وه.

۵۸٦ . **پوښتنه**: نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مریضتیا په حالت کې څو ورځې خلکو ته لمونځ ورکړی وو؟

**ځواب**: یوولس (۱۱) ورځې.

۵۸۷ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم د مریضتیا ټولې څو ورځې وې؟

**ځواب**: څوارلس (۱۴) ورځې.

۵۸۸ . **پوښتنه**:د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ژوند وروستی عمل کوم یو وو؟

**ځواب**: د مسواک استعمال.

۵۸۹ . **پوښتنه**: ځینې خلک وایي، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفات نه دی او هسې (وصال) یې کړی، ایا دا عقیده صحیح ده؟

**ځواب**: نه؛ دا عقیده غلطه ده، نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفات دی، د عامو انسانانو په شان مرګ پرې راغلی او له وجود نه یې روح قبض شوی، خو دومره ده چې د برزخ ژوند الله تعالی ورنصیب کړی او د برزخ ژوند د دنیا له ژوند نه جدا دی.

۵۹۰ . **پوښتنه**: نبي کریم صلی الله علیه وسلم د چا په کوټه کې وفات شو؟



**ځواب**: د عایشې رضي الله عنها.

۵۹۱ . **پوښتنه**: د وفات په حالت کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له خولې نه اخري کوم کلمات ووتل؟

**ځواب**: (اللهم الرفیق الاعلی)

۵۹۲ . **پوښتنه**: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مریضتیا په حالت کې، ابوبکر صدیق رضي الله عنه په څومره لمونځونو کې امام پاتې شو؟

**ځواب**: په اولس (۱۷) لمونځونو کې.

۵۹۳ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د مریضتیا په حالت کې د نبوي مسجد په امامت څوک مقرر کړی وو؟

**ځواب**: ابوبکر صدیق رضي الله عنه.

۵۹۴ . **پوښتنه**: نبي کریم صلی الله علیه وسلم د غزا لپاره په اخر کې کوم لښکر تیار کړی وو؟

**ځواب**: د اسامه بن زید رضي الله عنه لښکر.

۵۹۵ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم له وفات نه یوه اونۍ وړاندې څه وکړل؟

**ځواب**: ناروغتیا یې ورځ په ورځ زیاتېدله، خپلو بیبیانو څخه یې پوښتنه وکړه، چې زه به سبا او بل سبا چا سره یم؟ هغوی رضي الله عنهن د ده په مطلب پوه شوی، نو اجازه یې ورکړه، چې بې له نوبته د خپلې خوښې ځای (عایشې رضي الله عنها خونې) ته ولاړ شي.

۵۹٦ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم له وفات څخه یوه اونۍ وړاندې د عایشې رضي الله عنها خونې ته چا راوست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: د عایشې رضي الله عنها خونې ته په داسې حال کې لاړ، چې لاسونه یې په فضل بن عباس او بل یې په علي بن ابی طالب رضي الله عنهما اچولي وو، سر یې تړلی او پښې یې په ځان پسې کشکولې او د ژوند اخري اونۍ یې د عایشې رضي الله عنها په خونه کې تیره کړه.

۵۹۷ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم له وفات څخه پنځه ورځې وړاندې څه وکړل؟

**ځواب**: د محمد صلی الله علیه وسلم تبه ډېره سخته شوه چې بې هوشه شو او ویې فرمایل: د مختلفوڅاګانو اوه (۷) بوکې اوبه راباندې واچوئ، ترڅو خلکو ته ورشم او ځېنې وصیتونه ورته وکړم.

۵۹۸ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم له وفات نه څلور ورځې وړاندې څه وکړل؟

**ځواب**: د پنج شنبې په ورځ په داسې حال کې چې دردونه یې خورا سخت شوي ول، ویې ویل: زر شئ چې یو لیک درته ولیکم چې ستاسې د هر څه لاربښوونه پکې وي او تاسې بیا لار ورکه نه کړئ، خو په خونه کې عمر رضي الله عنه او نور کسان ناست ول، عمر رضي الله عنه وویل: محمد صلی الله علیه وسلم درد اخیستی دی، قران کریم او حدیث شته، د الله تعالی کتاب د هر څه لپاره بس دی.

۵۹۹ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم له وفات څخه یوه ورځ وړاندې څه وکړل؟

**ځواب**: له وفات څخه یوه ورځ وړاندې د یکشنبې په ورځ محمد صلی الله علیه وسلم خپل ټول غلامان ازاد کړل او په کور کې یې



اووه (۷) دیناره ول، هغه یې خیرات کړل او خپله وسله یې مسلمانانو ته وبښله، په همدې شپه عایشې رضي الله عنها د خپلې ګاونډۍ څخه د لاټین لپاره تیل وغوښتل او د محمد صلی الله علیه وسلم زغره له یو یهودي سره د دېرش (۳۰) پیمانو یعنې پنځه اویا (۷۵) کیلو ګرامو اوربشو په بدل کې ګروه وه.

۶۰۰ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند په اخري ورځ څه وکړل؟

**ځواب**: صحابه کرام یې د سهار په لمانځه ولاړ ولیدل، چې د هغوی په لیدو ډېر خوښ شو، بیا یې د ځاښت په وخت کې فاطمه رضي الله عنها ځان ته رانژدې کړه او غوږ کې یې ورته څه وویل: هغې وژړل، له لږ ځنډ وروسته یې بیا راوغوښتله دا ځل یې له پټې خبرې اورېدلو وروسته وخندل.

عایشې رضي الله عنها چې ترې بیا د ژړا او خندا پوښتنه وکړه، نو فاطمې رضي الله عنها ورته وویل: لومړی ځل یې راته وویل چې زه به په همدې مرض کې وفات کېږم، نو ما وژړل او په دویم ځل یې چې خبره کړم، چې د کورنۍ لومړنۍ غړې زه یم، چې ورسره یو ځای شم، نو ما خوشحالي اظهار کړه.

۶۰۱ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د عمر په وروستي وخت کې کوم وصیتونه کړي ول؟

**ځواب**: ۱. د عربو له جزیرې څخه د یهودانو، نصاراوو او مشرکانو ویستل.

۲. میلمنو او استازو ته په ښه ډول ښه راغلاست او پالنه یې کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. په قران کریم او سنت باندې مظبوط پاتې کېدل، یا د اسامه رضي الله عنه لښکر لېږل.

۶۰۲ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم اخرى لمونځ چې صحابه کرامو ته یې ورکړی وو، کوم لمونځ دی؟

**ځواب**: د ماښام لمونځ وو، چې سورت المرسلات یې پکې ولوست.

۶۰۳ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د حج ادا کولو لپاره له مدینې نه د مکې په طرف د کومې میاشتې په څوم تاریخ حرکت کړی وو؟

**ځواب**: د ذي القعدې په (۲۶) نېټه، د شنبې په ورځ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د تګ لپاره ویښتان ږمنځ، عطر یې استعمال، څادر او لنګ یې له ځان څخه تاواوه، د قربانۍ څاروي په نښه او له غرمې نه وروسته له مدینې منورې څخه د مکې په لوري روان شو.

۶۰۴ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم له هجرت څخه وروسته څو حجونه او څو عمرې ادا کړې وې؟

**ځواب**: نبي صلی الله علیه وسلم یو حج او څلور عمرې ادا کړې وې.

۶۰۵ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند په وروستۍ ورځ، صحابه کرام په کوم لمانځه ولاړ ولیدل؟

**ځواب**: د سهار په لمانځه.

۶۰۶ . **پوښتنه**: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د وفات نېټه کومه یوه ده؟



**ځواب**: دهجرت یوولسم (۱۱) کال، د ربیع الاول دولسم (۱۲)، د دوشنبې ورځ، د غرمې وخت وو.

۶۰۷ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم د څو کالو په عمر وفات شوی؟

**ځواب**: د دري شپېته (۶۳) کالو او څلورو ورځو په عمر.

۶۰۸ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم ته غسل کومو صحابه کرامو ورکړی وو او په کومه طریقه؟

**ځواب**: محمد صلی الله علیه وسلم ته غسل د جامو له پاسه ورکړل شو او غسل ورکونکي: (عبّاس، علي، فضل، قُثم، شُقران، اسامه بن زید او اوس بن خولي) ول. عبّاس او فضل او قثم به یې جسد مبارک اړولو او اسامه او شُقران به پرې اوبه اچولې او علي به وینځلو رضي الله عنهم اجمعین.

۶۰۹ . **پوښتنه**: نبي کریم صلی الله علیه وسلم چېرته دفن شو؟

**ځواب**: د عایشې رضي الله عنها په کوټه کې دفن شو، په کومه بستره کې چې نبي علیه السلام وفات شو، هماغه یې راټوله کړه او د هغې لاندې یې قبر ورته وواهه او ابو طلحه رضي الله عنه ورته په قبر کې لحد جوړ کړ.

۶۱۰ . **پوښتنه**: په محمد صلی الله علیه وسلم د جنازې لمونځ څنګه وشو؟

**ځواب**: په نبي کریم صلی الله علیه وسلم په اجتماعي شکل د جنازې لمونځ نه دی شوی، خلک به ډلې ډلې راتلل او د جنازې لمونځ به پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چا انفرادي کاوه، لومړی جنازه پرې خپلو خلکو وکړه، بیا مهاجرینو، بیا انصارو بیا ښځو او بیا ماشومانو.

٦١١ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم په کومه ورځ دفن شو؟

**ځواب**: د چهارشنبې په شپه ناوخته دفن شو.

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى محمد ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

٦١٢ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم د وفات باره کې د عمر رضي الله عنه درېځ څه وو؟

**ځواب**: له ډېر غم څخه له واکه وتلی وو او په چیغو کې یې ویل: ځینې منافق خلک خیال کوي، چې محمد صلی الله علیه وسلم وفات شوی دی، نه! ، نه! محمد صلی الله علیه وسلم نه دی وفات شوی، د موسی (علیه السلام) په شان خپل رب العزت ته ورغلی دی (موسی علیه السلام څلوېښت (٤٠) ورځې له خپل قوم څخه ورک وو،بیا وروسته له هغه چې خلکو په مرګ خوله ښورولې وه، ژوندی او روغ رمټ راغی.

قسم په الله تعالی چې په همدې ډول به محمد صلی الله علیه وسلم هم بېرته راشي او د هغو منافقانو لاسونه او پښې به پرې کړي، چې اوس هغه مړ ګڼي.

٦١٣ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم د وفات باره کې د ابوبکر صدیق رضي الله عنه درېځ څه وو؟



**ځواب**: ابوبکر صدیق رضي الله عنه له خپل کور څخه چې په (سَنح) کې وو، په اس سپور راغی، مخامخ جومات ته ولاړ او پرته له دې چې له چا سره خبرې وکړي، د عایشې رضي الله عنها خونې ته دننه او محمد صلی الله علیه وسلم ته ورننږدې شو او په مخ یې ښکل کړ او په ژړا کې یې وویل« زما مور او پلار له تا ځار شه! لوی الله تعالی تا دوه ځل نه مړ کوي، مرګ یې چې درته لیکلی وو، تا ولید» او بیا بهر شو ګوري، چې عمر رضي الله عنه خلکو ته خبرې کوي، ابوبکر صدیق رضي الله عنه ورته وویل «عمره! کینه». خو عمر رضي الله عنه د کیناستلو نه وو، ابوبکر صدیق رضي الله عنه خلکو ته خطبه ویله او دا ایت یې ولوست: ﴿ وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ اَفَا۟ئِنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ وَمَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْـًٔا وَسَيَجْزِى اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ۝﴾.

(ال عمران ١٤٤)

ژباړه: محمد صلی الله علیه وسلم نور څه نه دی، مګر صرف یو پیغمبر دی، له هغه نه مخکې نور پیغمبران هم تېر شوي دي، نو که هغه ومري یا ووژل شي؛ نو تاسې به په خپلو پوندو په شاګرځئ؟ په یاد ولرئ څوک چې په شاواوړي هغه به الله تعالی ته هېڅ زیان ونه رسوي، البته څوک چې د الله تعالی شکر ایستونکي بندګان شي هغو ته به الله عالی د دې بدله ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نبوي کورنۍ

٦١۴ . **پوښتنه:** محمد صلی الله علیه وسلم له خدیجې رضي الله عنها سره په څو کلنۍ کې واده کړی وو؟

**ځواب:** په پنځه ویشت (۲۵) کلنۍ کې او خدیجه رضي الله عنها څلوېښت کلنه وه.

٦١۵ . **پوښتنه:** د خدیجې رضي الله عنها څخه محمد صلی الله علیه وسلم څو لورګانې درلودلې؟

**ځواب:** څلور(۴) لورګانې چې ( زینب، رقیه، ام کلثوم او فاطمه رضي الله عنه وې.

٦١٦ . **پوښتنه:** زینب رضي الله عنها چاته واده شوې وه؟

**ځواب:** زینب رضي الله عنها ابوالعاص بن الربیع ته واده شوې وه.

٦١٧ . **پوښتنه:** رقیه رضي الله عنها او ام کلثوم رضي الله عنها چاته واده شوې وې؟

**ځواب:** دواړه یوې بلې پسې له وفات څخه وروسته عثمان رضي الله عنه په نکاح کړې وې.

٦١٨ . **پوښتنه:** فاطمه رضي الله عنها چا ته واده شوې وه؟

**ځواب:** علي بن طالب رضي الله عنه ته واده شوې وه.

٦١٩ . **پوښتنه:** محمد صلی الله علیه وسلم، سوده بنت زمعة رضي الله عنها کله په نکاح کړې وه؟



**ځواب:** د خدیجة الکبری رضي الله عنها له وفات څخه وروسته په نژدې موده کې، د نبوت په لسم (۱۰) کال، د شوال په میاشت کې یې واده کړې وه.

٦٢٠ . **پوښتنه:** محمد صلی الله علیه وسلم عایشه بنت ابي بکر صدیق رضي الله عنها کله په نکاح کړې وه؟

**ځواب:** له هجرت نه دوه کاله او پنځه میاشتې مخکې چې عایشه رضي الله عنها شپږ کلنه وه، کوژده یې وکړه او د هجرت په اوومه (۷) میاشت یې واده وکړ،چې عایشه رضي الله عنها نهه (۹) کلنه وه، په ښځو کې یې یوازې عایشه رضي الله عنها پیغله واده کړې وه.

٦٢١ . **پوښتنه:** محمد صلی الله علیه وسلم حفصه بنت عمر رضي الله عنها کله په نکاح کړې وه؟

**ځواب:** د هجرت په درېیم (۳) کال.

٦٢٢ . **پوښتنه:** محمد صلی الله علیه وسلم زینب بنت حزیمه رضي الله عنها چې په ام المساکین (د مسکینانو مور) باندې مشهوره وه، کله په نکاح کړې وه؟

**ځواب:** د هجرت په څلورم (۴) کال واده او له واده څخه دوه یا درې میاشتې وروسته وفات شوه.

٦٢٣ . **پوښتنه:** محمد صلی الله علیه وسلم، أُم سَلَمَة هند بنت ابي امیه رضي الله عنها کله په نکاح کړې وه؟

**ځواب:** د هجرت په څلورم (۴) کال د شوال په میاشت کې یې واده کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٢٤ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم، زینب بنت جحش رضي الله عنها کله په نکاح کړې وه؟

**ځواب**: زینب بنت جحش رضي الله عنها د محمد صلی الله علیه وسلم د ترور لور وه، لومړی یې زید بن حارثه رضي الله عنه سره واده کړی وو، خو هغه طلاقه کړه، بیا الله تعالی په دې هکله وحې نازله کړه چې: ﴿فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَٰكَهَا﴾.

ژباړه: کله چې زید ترې خپله اړتیا پوره کړه، نو هغه مو تاته په نکاح کړه.

او محمد صلی الله علیه وسلم د زینب بنت جحش رضي الله عنها سره د هجرت په پنځم کال د ذي القعدې په میاشت کې واده کړی وو.

٦٢٥ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم، جویریه بنت الحارث رضي الله عنها کله په نکاح کړې وه؟

**ځواب**: نوموړې د بني المصطلق د بندیانو په وېش کې د ثابت بن قیس بن شماس رضي الله عنه په برخه رسېدلې وه او هغه مکاتبه کړه (چې د یو معلوم مقدار مال په بدل کې د غلام ازادول دي) نو محمد صلی الله علیه وسلم د جویریه بنت الحارث رضي الله عنها د کتابت روپۍ ادا کړې او د هجرت په شپږم کال د شعبان په میاشت کې یې واده کړه.

٦٢٦ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم، اُم حبیبة رَملَة بنت ابي سفیان رضي الله عنها کله په نکاح کړې وه؟



**ځواب**: دا له دې وړاندې د عبیدالله بن جحش ښځه وه، د میړه په ملتیا یې حبشې ته هجرت وکړ، خو میړه یې هملته مرتد شو او وروسته په نصراني عقیده مړ شو او اُم حبیبه په اسلام ټینګه مهاجره کونډه پاتې شوه، کله چې محمد صلی الله علیه وسلم د هجرت په اووم (۷) کال د محرم په میاشت کې عمرو بن امیه الضمري د یو لیک سره د خپل استازي په توګه نجاشي ته واستاوه او له اُم حبیبې سره یې د واده وړاندیز هم کړی وو، نجاشي وړاندیز ومانه او اُم حبیبه یې محمد صلی الله علیه وسلم ته په نکاح ورکړه.

٦٢٧ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم، صفیه بنت حیی بن اخطب رضي الله عنها کله په نکاح کړې وه؟

**ځواب**: د خیبر د فتحې په اوږدو کې بندۍ شوه، محمد صلی الله علیه وسلم لومړی ازاده او بیا یې د فتحې له بشپړېدلو وروسته په نکاح کړه.

٦٢٨ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم، میمونه بنت الحارث رضي الله عنها کله په نکاح کړې وه؟

**ځواب**: د هجرت په اووم (۷) کال د ذي القعدې په میاشت کې د قضا یې عمرې له بشپړولو وروسته.

٦٢٩ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم له څو ښځو سره نکاح ګانې کړې وې؟

**ځواب**: (۱۱) بیبیانو سره چې خدیجه رضي الله عنها او زینب بنت خزیمة یې په ژوند کې وفات شوې وې او نورې د محمد صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته وفات شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۳۰ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم ټولې څو وینځې درلودلې؟

**ځواب**: دوه وینځې؛ چې یوه یې ماریه القطبه وه، چې د مقوقس پاچا له لورې ورته ښښل شوې وه او دویمه ریحانه بنت زید النضریه یا القرضیه وه، چې د قریظه وو په بندیانو کې راغلې وه، محمد صلی الله علیه وسلم ځان ته خوښه کړه.

۶۳۱ . **پوښتنه**: ام معبد الخزاعیه د محمد صلی الله علیه وسلم د ښایسته بدن باره کې خپل خاوند ته څنګه یادونه کړې وه؟

**ځواب**: ام معبد الخزاعیه د محمد صلی الله علیه وسلم یادونه خپل مېړه ته وروسته له دې چې مدینې ته د هجرت په لار کې یې لیدلی وو، په دا ډول کوي: ځلیدونکی رنګ، روښانه مخ، ښکلی بدن چې نه ډېر ډبل او نه ډېر نری وو، ټول جوړښت یې خورا ښه شوی وو، د اوږدو ښو په منځ کې تکې تورې سترګې، د غټ غږ څښتن او د نرۍ لوړې غاړې درلودونکی، ګردې تورې سترګې یې د نریو او اوږدو وریځو لاندې وې، ویښتان یې تک تور ول، چې چپ وي، نو درونډ ښکاري او چې خبرې کوي، نو هر څوک د ځان پر لوري متوجه کوي، له لرې څخه د ټولو په منځ کې تر هر چا غوره او ویاړمن او له نژدې څخه تر هر چا ښکلی ښکاري، خوږې غوڅې خبرې کوي، نه مجهولې او لنډې او نه بې فایدې اوږدې وي ته به وایې لکه د غاړکۍ ملغلرې یوه په بلې پسې را روانې وې!

د منځنۍ ونې څښتن وو، نه هومره لنډ وو چې په سترګو کې ټیټ وبرېښي او نه هومره لوړ چې بد ښکاره شي، د دوه لښتو ترمنځ د هغې درېیمې لښتې په شان وو، چې تر ټولو ښکلې او تازه برېښي!



داسې منوونکي اندیوالان ترې راچاپیروي، چې هرې خبرې ته یې غوږ، غوږ وي او د هرې غوښتنې په پوره کولو کې یې یو له بل څخه وړاندې کېږي، هغه منل شوی مشر دی، چې نه یې تندی ګونځې وي او نه یې خبرې بابېزه وي.

## د خلفاء راشدینو سیرت

**لومړی**: **ابوبکر صدیق رضي الله عنه**

۶۳۲ . **پوښتنه**: ابوبکر صدیق رضي الله عنه له عام الفیل نه څو کاله وروسته پیدا شوی دی؟

**ځواب**: دوه نیم کاله وروسته.

۶۳۳ . **پوښتنه**: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه خپل نوم څه وو؟

**ځواب**: عبدالله.

۶۳۴ . **پوښتنه**: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه پلار څه نومېږي؟

**ځواب**: د پلار نوم یې عثمان دی او په ابوقحافه باندې مشهور وو.

۶۳۵ . **پوښتنه**: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه پلار په کوم کال کې اسلام قبول کړ؟

**ځواب**: د مکې د فتحې په کال کې.

۶۳۶ . **پوښتنه**: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د نیکه نوم څه وو؟

**ځواب**: عامر.

۶۳۷ . **پوښتنه**: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه نسب د محمد صلی الله علیه وسلم نسب سره په څوم نیکه کې یوځای کېږي؟

**ځواب**: په اووم (۷) نیکه (کعب ابن لؤی) کې سره یو ځای کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٣٨ . **پوښتنه**: ابوبکر صديق رضي الله عنه په قريشو کې کومې قبيلې سره تړاو لري؟

**ځواب**: بنو تيم قبيلې ته منسوب دی.

٦٣٩ . **پوښتنه**: د ابوبکر صديق رضي الله عنه مور څه نومېږي؟

**ځواب**: ام الخير.

٦٤٠ . **پوښتنه**: د ابوبکر صديق رضي الله عنه دويم لقب څه وو؟

**ځواب**: عتيق.

٦٤١ . **پوښتنه**: ابوبکر صديق رضي الله عنه ته صديق په څه وجه باندې ويل کېږي؟

**ځواب**: د اِسرا او معراج واقعې لومړی تصديق ابوبکرصديق رضي الله عنه کړی وو.

٦٤٢ . **پوښتنه**: د ابوبکر صديق رضي الله عنه په خلافت باندې لومړی بيعت چا وکړ؟

**ځواب**: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

٦٤٣ . **پوښتنه**: ابوبکر صديق رضي الله عنه په کومه غزوه کې د کور ټول مال صدقه کړی وو؟

**ځواب**: په تبوک غزا کې.

٦٤٤ . **پوښتنه**: ابوبکر صديق رضي الله عنه د هجرت په څوم کال وفات شوی؟

**ځواب**: د هجرت په ديارلسم (١٣) کال.

٦٤٥ . **پوښتنه**: ابوبکر صديق رضي الله عنه په کومه ورځ وفات شوی؟



**ځواب**: د جمعې په ورځ.

٦٤٦ . **پوښتنه**: ابوبکر صديق رضي الله عنه په کومه مياشت او په څوم تاريخ وفات شوی؟

**ځواب**: د جُمادی الثاني مياشتې په درويشتم (٢٣) تاريخ وفات شوی دی.

٦٤٧ . **پوښتنه**: د ابوبکر صديق رضي الله عنه د جنازې لمونځ چا ادا کړی؟

**ځواب**: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

٦٤٨ . **پوښتنه**: د ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت لومړی کار کوم يو وو، چې ترسره يې کړ؟

**ځواب**: غزا ته د اسامه بن زيد رضي الله عنه لښکر لېږل وو.

٦٤٩ . **پوښتنه**: د ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت په وخت کې هغه کوم يو نېک انسان وو، چې د (اسودعنسي) لخوا اور ته غورځول شوی وو، خو هغه رب العزت له اور څخه روغ راويستی وو؟

**ځواب**: هغه نيک انسا ن ابو مسلم الحولاني نومېده.

٦٥٠ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله عليه وسلم په ژوندون باندې کومو دوه کسانو د پيغمبرۍ دعوه کړې وه؟

**ځواب**: اسودعنسي او ميسلمة الکذاب.

٦٥١ . **پوښتنه**: اسود عنسي کذاب چې د پيغمبرۍ دعوه يې کړې وه، د چا لخوا ووژل شو؟

**جواب**: د فيروز الدّيلمي او د هغه د ملګرو لخوا ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٥٢ . **پوښتنه**: د ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت په لومړيو کې کومو قبيلو ارتداد اختيار کړی وو؟

**ځواب**: کينده قبيلې، ملحج قبيلې، ربعه قبيلې، بنو حنيفه قبيلې، بنو سوليم قبيلې، کِنانه قبيلې، بنو ثُوئ قبيلې، بنو عامر قبيلې، بنو تميم قبيلې او داسې نورو قبيلو ارتداد اختيار کړی وو.

٦٥٣ . **پوښتنه**: بنو ثُوئ قبيله چې ارتداد يې اختيار کړی وو،ابوبکر صديق رضي الله عنه کوم صحابي د دعوت لپاره ورولېږه، چې بيا په اسلام کې داخله شي؟

**ځواب**: عدي ابن حاتم رضي الله عنه.

٦٥٤ . **پوښتنه**: د ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت په وخت کې کومې کاهينې ښځې د نبوت دعوه کړې وه؟

**ځواب**: سَجَاح بنت الحارث.

٦٥٥ . **پوښتنه**: د يمامه په غزا کې د مسلمة الکذاب لښکر څومره وو؟

**ځواب**: څلوېښت زره (٤٠٠٠٠) عسکر ول.

٦٥٦ . **پوښتنه**: ثابت ابن قيس رضي الله عنه په کوم غزا کې شهيد شوی؟

**ځواب**: د يمامه په غزا کې.

٦٥٧ . **پوښتنه**: د يمامه په غزا کې چې د ميسلمة الکذاب لښکر له ماتې سر مخ شو، کوم باغ ته يې فنا يوړه؟

**ځواب**: حديقة الموت باغ ته.



٦٥٨ . **پوښتنه**: معاذ بن جبل رضي الله عنه په څو کلنۍ کې وفات شوی؟

**ځواب**: په دېرش (٣٠) کلنۍ کې.

٦٥٩ . **پوښتنه**: مسلمة الکذاب په کوم غزا کې ووژل شو؟

**ځواب**: د يمامه په غزا کې.

٦٦٠ . **پوښتنه**: مسلمة الکذاب د چا لخوا ووژل شو؟

**ځواب**: د وحشي ابن حرب رضي الله عنه لخوا ووژل شو.

٦٦١ . **پوښتنه**: د يمامه په غزا کې څومره حافظان صحابه کرام شهيدان شوي ول؟

**ځواب**: دولس سوه (١٢٠٠) د قران کريم حافظان صحابه.

٦٦٢ . **پوښتنه**: د يمامه په غزا کې په حديقة الموت باغ کې د ميسلمة الکذاب څومره لښکر له منځه تللی وو؟

**ځواب**: په روايتونو کې دوه ارقامه ښودل شوي: لس زره (١٠٠٠٠) او بل يو يشت زره (٢١٠٠٠) دي.

٦٦٣ . **پوښتنه**: حديقه الموت باغ چا فتحه کړ؟

**ځواب**: خالد بن وليد رضي الله عنه.

٦٦٤ . **پوښتنه**: خالد بن وليد رضي الله عنه د عراق فتوحات په څومره موده کې ترسره کړل؟

**ځواب**: په څوارلسو (١٤) مياشتو کې.

٦٦٥ . **پوښتنه**: له خالد بن وليد رضي الله عنه سره د عراق په فتوحاتو کې څومره مجاهدين مله ول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: څلور زره (۴۰۰۰).

٦٦٦ . **پوښتنه**: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت په دور کې په عمان علاقه کې چا د پیغمبرۍ دعوه کړې وه؟

**ځواب**: د لاَقِیت ابن مالک په نوم یو کس وو.

٦٦٧ . **پوښتنه**: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت په وخت کې لومړۍ جزیه د کوم ځای له خلکو څخه واخیستل شوه؟

**ځواب**: د عراق حیرة علاقې اوسېدونکو څخه واخیستل شوه.

٦٦٨ . **پوښتنه**: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت په موده کې رومیانو څومره لښکر د مسلمانانو ختمولو لپاره تیار کړی و؟

**ځواب**: دوه لکه څلوېښت زره (۲۴۰۰۰۰).

٦٦٩ . **پوښتنه**: د کسرا نایب هرمُز په کومه غزا کې ووژل شو؟

**ځواب**: په ذاتُ السَلاَسِل غزا کې.

٦٧٠ . **پوښتنه**: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه په خلافت کې د ذاتُ السَلاَسِل جګړې فتحه د چا په لاس وشوه؟

**ځواب**: د خالد بن ولید رضي الله عنه په لاس.

٦٧١ . **پوښتنه**: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت په موده کې د انبار فتحه د چا په لاس شوې وه؟

**ځواب**: د خالد بن ولید رضي الله عنه.

٦٧٢ . **پوښتنه**: د یرموک غزا د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب**: د هجرت په دیارلسم (۱۳) کال.

٦٧٣ . **پوښتنه**: د یرموک غزا په کومه میاشت کې واقع شوې وه؟



**ځواب**: د ربیع الاول په میاشت کې.

٦٧۴ . **پوښتنه**: د یرموک په غزا کې د مسلمانانو لښکر څومره وو؟

**ځواب**: شپږ دیرش زره (۳٦۰۰۰).

٦٧٥ . **پوښتنه**: د یرموک په غزا کې د دښمن څومره عسکر ووژل شول؟

**ځواب**: یو لک او دېرش زره (۱۳۰۰۰۰).

٦٧٦ . **پوښتنه**: د یرموک په غزا کې څومره صحابه کرام شهیدان شوي ول؟

**ځواب**: درې زره (۳۰۰۰).

٦٧٧ . **پوښتنه**: د یرموک د غزا په لومړۍ ورځ د غزا قومنده د چا په لاس کې وه؟

**ځواب**: د خالد بن ولید رضي الله عنه.

٦٧٨ . **پوښتنه**: د یرموک غزوه د کوم خلیفه په وخت کې واقع شوې وه؟

**ځواب**: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه په خلافت کې واقع شوې وه.

٦٧٩ . **پوښتنه**: د یرموک غزا فتحه د چا په لاس وشوه؟

**ځواب**: د خالد بن ولید رضي الله عنه په لاس.

٦٨٠ . **پوښتنه**: په لومړي ځل د قران کریم د راجمع کولو مشوره ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته چا ورکړې وه؟

**ځواب**: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۸۱ . **پوښتنه**: ابوبکرصدیق رضي الله عنه په لومړي ځل چاته د قران کریم د راجمع کولو امر کړی وو؟

**ځواب**: زید بن ثابت رضي الله عنه ته.

۶۸۲ . **پوښتنه**: قران کریم د لومړي ځل لپاره په څه شي باندې لیکل شوی وو؟

**ځواب**: د خرما د ونې په پوستکي لیکل شوی وو.

۶۸۳ . **پوښتنه**: د ابوبکرصدیق رضي الله عنه د خلافت دوره څومره وخت وه؟

**ځواب**: دوه (۲) کاله او درې (۳) میاشتې.

**دویم: عمر بن خطاب رضي الله عنه**

۶۸۴ . **پوښتنه**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه درېیم پلار پورې نومونه واخلئ؟

**ځواب**: عمر بن خطاب بن نفیل بن عبدالعُزی.

۶۸۵ . **پوښتنه**: عمر بن خطاب رضي الله عنه په قریشو کې له کومې قبیلې سره اړیکه درلوده؟

**ځواب**: بني عدي قبیلې سره.

۶۸۶ . **پوښتنه**: د عمربن خطاب رضي الله عنه د مور نوم څه وو؟

**ځواب**: حنتمه.

۶۸۷ . **پوښتنه**: عمر رضي الله عنه د محمد صلی الله علیه وسلم څخه څومره وخت وروسته پیدا شوی دی؟

**ځواب**: دیارلس (۱۳) کاله.



۶۸۸ . **پوښتنه**: عمر رضي الله عنه د بعثت (نبوت) په څوم کال د اسلام په مبارک دین مشرف شو؟

**ځواب**: د نبوت په شپږم (۶) کال.

۶۸۹ . **پوښتنه**: عمر رضي الله عنه په کومه اسم کُنیه باندې مشهور وو؟

**ځواب**: ابوالحفص.

۶۹۰ . **پوښتنه**: مدینې ته دهجرت پرمهال د عمر رضي الله عنه ملګری څوک وو؟

**ځواب**: عَیّاش ابن ابي ربیعة رضي الله عنه.

۶۹۱ . **پوښتنه**: عمر رضي الله عنه د چا لخوا خلیفه وټاکل شو؟

**ځواب**: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه لخوا.

۶۹۲ . **پوښتنه**: هغه کوم شخص دی، چې په لومړي ځل هغه ته امیرالمؤمنین ویل شوی؟

**ځواب**: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

۶۹۳ . **پوښتنه**: عمر رضي الله عنه ته په لومړي ځل د امیر المؤمنین لقب چا انتخاب کړ؟

**ځواب**: مُغیرَه ابن شُعبَه رضي الله عنه.

۶۹۴ . **پوښتنه**: په مسلمانانو کې هجري قمري تاریخ لومړی د چا لخوا مروج شو؟

**ځواب**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه لخوا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۹۵ . **پوښتنه**: د هجرت په څوم کال عمر بن خطاب رضي الله عنه دا فيصله وکړه، چې دې نه وروسته به تولې راکړې ورکړې په هجري تاريخ وي؟

**ځواب**: د هجرت په اولسم (۱۷) کال.

۶۹۶ . **پوښتنه**: هجري قمري تاريخ له څه وخت نه پيل شوی دی؟

**ځواب**: د هجرت له لومړي کال څخه.

۶۹۷ . **پوښتنه**: عمر رضي الله عنه د شرابو څښوونکي ته څو دُورې حد وټاکه؟

**ځواب**: اتيا (۸۰) دُورې.

۶۹۸ . **پوښتنه**: په اسلام کې لومړي ځل لپاره په اداري تنظيم کې ديوانونه چا جوړ کړل؟

**ځواب**: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

۶۹۹ . **پوښتنه**: عمر رضي الله عنه د خلکو د ديوانونو جوړولو لپاره کوم درې صحابه وټاکل؟

**ځواب**: عقيل ابن ابي طالب، مُخرَمَةُ ابن نَوفَل او جُبير بن مُطعم رضي الله عنهم.

۷۰۰ . **پوښتنه**: د عمر رضي الله عنه د خلافت په وخت کې د بيت المال څخه د مؤمنانو ميندو د (پيغمبر صلى الله عليه وسلم بيبيانو) هرې يوې لپاره د کال څومره خرچه ټاکل شوې وه؟

**ځواب**: د هرې يوې لپاره د کال دولس زره (۱۲۰۰۰) درهم ټاکل شوي ول.



۷۰۱ . **پوښتنه**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه د خلافت په وخت کې د خالد بن وليد رضي الله عنه پر ځای څوک د مسلمانانو د لښکر عمومي قوماندان وټاکل شو؟

**ځواب**: ابوعبيدة بن الجراح رضي الله عنه.

۷۰۲ . **پوښتنه**: له جزيرة العرب نه په لومړي ځل يهود او نصارا چا وشړل؟

**ځواب**: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

۷۰۳ . **پوښتنه**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه د خلافت په وخت کې د نوي پيدا شوي ماشوم لپاره د کال څومره خرچه ټاکل شوې وه؟

**ځواب**: سل (۱۰۰) درهمه.

۷۰۴ . **پوښتنه**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه د خلافت په وخت کې ابو هريره رضي الله عنه له بحرين څخه په لومړي ځل څومره مال راوړی وو؟

**ځواب**: د پنځه لکه (۵۰۰۰۰۰) درهمو مال يې راوړی وو.

۷۰۵ . **پوښتنه**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه د خلافت په موده کې مصر د چا لخوا فتحه شو؟

**ځواب**: د عمرو بن العاص رضي الله عنه لخوا.

۷۰۶ . **پوښتنه**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه د خلافت په وخت کې دمشق د چا په لاس فتحه شو؟

**ځواب**: د ابو عبيده بن الجراح رضي الله عنه په لاس.

۷۰۷ . **پوښتنه**: د بيت المقدس فتحه د چا په لاس وشوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه په لاس.

٧٠٨ . **پوښتنه**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه د خلافت په موده کې مصر او اسکندریه د هجرت په څوم کال فتحه شول؟

**ځواب**: دوه قوله دي: د هجرت په شلم (٢٠) او نوولسم (١٩) کال.

٧٠٩ . **پوښتنه**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه د خلافت په موده کې د قادسیه فتحه د هجرت په څوم کال واقع شوې وه؟

**ځواب**: د هجرت په (١۴) څوارلسم کال.

٧١٠ . **پوښتنه**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه د خلافت په موده کې د قادسیه غزا په میدان کې د مسلمانانو د لښکر شمېر څومره وو؟

**ځواب**: دیرش زره (٣٠٠٠٠) عسکر ول.

٧١١ . **پوښتنه**: د قادسیه په غزا کې د دښمن د لښکرو شمېر څومره وو؟

**ځواب**: یو لک او پنځوس زره (١۵٠٠٠٠).

٧١٢ . **پوښتنه**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه د خلافت په موده کې د قادسیه فتحه د چا په لاس وشوه؟

**ځواب**: د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په لاس وشوه.

٧١٣ . **پوښتنه**: د قادسیه په غزا کې د فارسیانو څومره عسکر ووژل شول؟

**ځواب**: تقریباً سل زره (١٠٠٠٠٠) عسکر یې وژل شوي ول.

٧١۴ . **پوښتنه**: د قادسیې غزا څو ورځې دوام کړی وو؟

**ځواب**: څلور (۴) ورځې.



٧١۵ . **پوښتنه**: د قادسیه په غزا کې دښمن څومره اسونه درلودل؟

**ځواب**: شپېته زره (٦٠٠٠٠) اسونه.

٧١٦ . **پوښتنه**: د قادسیه په غزا کې دښمن څومره پلي (پیاده) عسکر درلودل؟

**ځواب**: شپېته زره (٦٠٠٠٠).

٧١٧ . **پوښتنه**: د قادسیه په غزا کې دښمن څومره فیلان درلودل؟

**ځواب**: دیرش (٣٠) یا څلوېښت (۴٠) فیلان.

٧١٨ . **پوښتنه**: د عمر رضي الله عنه د خلافت په وخت کې مداین علاقه د چا لخوا فتحه شوه؟

**ځواب**: د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه لخوا فتحه شوه.

٧١٩ . **پوښتنه**: ابولؤلؤ المجوسي د کوم صحابي غلام وو؟

**ځواب**: د مغیره ابن شعبه رضي الله عنه.

٧٢٠ . **پوښتنه**: عمر رضي الله عنه چې کله په شهادت رسېده، نو په دغه وخت کې څو زره درهمه قرضداری وو؟

**ځواب**: اته شپېته زره (٦٨٠٠٠) درهمه.

٧٢١ . **پوښتنه**: عمر رضي الله عنه د چا لخوا په شهادت ورسېد؟

**ځواب**: د ابولؤلؤ المجوسي لخوا.

٧٢٢ . **پوښتنه**: عمر رضي الله عنه د هجرت په څوم کال په شهادت ورسېد؟

**ځواب**: د هجرت په درویشتم (٢٣) کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۲۳ . **پوښتنه**: عمر رضي الله عنه له خپل مرګ نه مخکې کومه شپږ کسیزه شورا د خلیفه ټاکلو لپاره وټاکله؟

**ځواب**: د ټاکل شوې شورا غړي پدې ډول وو: عثمان بن عفان، علي بن ابي طالب، طلحه بن عبیدالله، زبیر بن العوم، عبدالرحمن بن عوف او سعد بن وقاص رضي الله عنهم.

۷۲۴ . **پوښتنه**: د قادسیه په غزا کې د مسلمانانو لخوا نیول شوی د فارسیانو قوماندان (هرمزان) د چا په وړاندې د اسلام په دین مشرف شو؟

**ځواب**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه په وړاندې.

۷۲۵ . **پوښتنه**: عمر بن خطاب رضي الله عنه له محمد صلی الله علیه وسلم څخه څو احادیث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: پنځه سوه اوه دېرش (۵۳۷) احادیث.

۷۲۶ . **پوښتنه**: عمر بن خطاب رضي الله عنه په څو کلنۍ کې په شهادت ورسېد؟

**ځواب**: په درې شپېته (۶۳) کلنۍ کې.

۷۲۷ . **پوښتنه**: عمر بن خطاب رضي الله عنه په کومه ورځ په شهادت ورسېد؟

**ځواب**: د یکشنبې په ورځ.

۷۲۸ . **پوښتنه**: عمر بن خطاب رضي الله عنه په کومه میاشت او په څوم تاریخ په شهادت ورسېد؟



**ځواب**: د ذي الحجې میاشتې په اولسم (۱۷) تاریخ په شهادت ورسېد.

۷۲۹ . **پوښتنه**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه د خلافت په وروستیو کې څومره ځمکه تر ولکې لاندې وه؟

**ځواب**: دوه ویشت لکه (۲۲۰۰۰۰۰) میله مربع ځمکه یې په واک کې وه.

۷۳۰ . **پوښتنه**: په عمر بن خطاب رضي الله عنه باندې د جنازې لمونځ کوم صحابي ادا کړی وو؟

**ځواب**: صهیب رضي الله عنه.

**دریم: عثمان بن عفان رضي الله عنه**

۷۳۱ . **پوښتنه**: د عثمان رضي الله عنه د پلار نوم څه وو؟

**ځواب**: عفان.

۷۳۲ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه له عام الفیل نه څو کاله وروسته پیدا شوی وو؟

**ځواب**: شپږ (۶) کاله.

۷۳۳ . **پوښتنه**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه نیکه څه نومېږي؟

**ځواب**: ابو العاص.

۷۳۴ . **پوښتنه**: عثمان بن غفان رضي الله عنه په کومو اسم کُنیه باندې مشهور وو؟

**ځواب**: په ابو عمرو او ابو عبدالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۳۵ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه په قريشو کې له کومې قبيلې سره تړاو لاره؟

**ځواب**: د بنو اُميه له قبيلې سره.

۷۳۶ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه له مدينې نه مخکې کوم ځای ته هجرت کړی وو؟

**ځواب**: لومړی هجرت يې حبشې ته کړی وو.

۷۳۷ . **پوښتنه**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه د مور نوم څه وو؟

**ځواب**: اروا بنت کُرَيز.

۷۳۸ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه د چا په دعوت باندې ايمان او اسلام راوړ؟

**ځواب**: د ابوبکر صديق رضي الله عنه په دعوت.

۷۳۹ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه په کوم لقب مشهور وو؟

**ځواب**: په (ذی النورين) باندې مشهور وو.

۷۴۰ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه له محمد صلی الله عليه وسلم نه څو کاله کشر وو؟

**ځواب**: څلور (۴) کاله.

۷۴۱ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه په خپل ژوند کې څو ودونه کړي ول؟

**ځواب**: اته (۸) ودونه يې يو په بل پسې کړي ول.

۷۴۲ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه څو زامن او څو لورګانې درلودې؟



**ځواب**: نهه (۹) زامن او اووه (۷) لورګانې يې درلودې.

۷۴۳ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه په نارينه وو کې څوم مسلمان وو، چې اسلام يې قبول کړ؟

**ځواب**: څلورم (۴) کس وو چې اسلام يې قبول کړ.

۷۴۴ . **پوښتنه**: په تبوک غزوه کې عثمان بن عفان رضي الله عنه څه شی صدقه کړی وو.

**ځواب**: نهه سوه (۹۰۰) اوښان، سل (۱۰۰) اسونه ، زر (۱۰۰۰) ديناره ، پنځه نيمې (۵،۵) کيلو سره زر او دوه سوه (۲۰۰) اوقيې چې د سپينو زرو روپۍ وې چې نهه ويشت نيمې (۲۹،۵) کيلو سپين زر کېږي، صدقه کړي ول.

۷۴۵ . **پوښتنه**: له عثمان بن عفان رضي الله عنه سره په خلافت باندې لومړی بيعت چا وکړ؟

**ځواب**: عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه.

۷۴۶ . **پوښتنه**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه د خلافت او حکومت په دوره کې په افريقا کې د بربريانو پاچا (جرجير) د کوم صحابي لخوا ووژل شو؟

**ځواب**: د عبدالله بن زبير رضي الله عنه لخوا.

۷۴۷ . **پوښتنه**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه د خلافت او حکمرانۍ په وخت کې د قبرص ټاپو وزمه د هجرت په څوم کال فتحه شوه؟

**ځواب**: د هجرت په اته ويشتم (۲۸) کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۴۸ . **پوښتنه**: د قبرص فتحه د چا په لاس وشوه؟

**ځواب**: د معاویه بن ابي سفیان رضي الله عنه په لاس.

۷۴۹ . **پوښتنه**: ام کلثوم رضي الله عنها د هجرت په څوم کال وفات شوه؟

**ځواب**: د هجرت په نهم (۹) کال.

۷۵۰ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه د مسلمانانو څوم خلیفه وو؟

**ځواب**: درېیم (۳) خلیفه وو.

۷۵۱ . **پوښتنه**: جَح جَح چې د محمد صلی الله علیه وسلم امسا یې له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه واخیسته او په زنګون یې ماته کړه، رب العزت یې په زنګون کې څه راپیدا کړل؟

**ځواب**: الله تعالی یې په زنګون کې چینجي راپیدا کړل او له هغې نه مړ هم شو.

۷۵۲ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه د چا لخوا په شهادت ورسېد؟

**ځواب**: د باغیانو لخوا.

۷۵۳ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه په څو کلنۍ کې په شهادت ورسېد؟

**ځواب**: عثمان بن عفان رضي الله عنه په دوه اتیا (۸۲) کلنۍ کې شهید شو.



۷۵۴ . **پوښتنه**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه د خلافت موده څو کاله وه؟

**ځواب**: دولس (۱۲) ورځې کم دولس (۱۲) کاله.

۷۵۵ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه په خپل ژوند کې ټول څو غلامان ازاد کړي ول؟

**ځواب**: دوه زره څلور سوه (۲۴۰۰).

۷۵۶ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه چې کله باغیانو شهید کړ، د وینې لومړنی څاڅکی یې د قران کریم په کوم ایت ولوېده؟

**ځواب**: ﴿ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴾.

۷۵۷ . **پوښتنه**: افغانستان د کوم خلیفه په وخت کې فتحه شو؟

**ځواب**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه په وخت کې.

۷۵۸ . **پوښتنه**: په اخري ځل قران کریم د کوم صحابي لخوا راجمعه او ترتیب شو؟

**ځواب**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه لخوا.

۷۵۹ . **پوښتنه**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه د خلافت په وخت کې غزوة السواري چېرته واقع شوه؟

**ځواب**: په بحر کې واقع شوې وه.

۷۶۰ . **پوښتنه**: په غزوة السواري کې د مسلمانانو د بحري بېړیو شمېر څومره وو؟

**ځواب**: دوه سوه (۲۰۰) بېړۍ وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۶۱ . **پوښتنه**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه د خلافت او حکومت په وخت کې په غزوة السواري کې د کافرانو د بحري بېړيو شمېر څومره وو؟

**ځواب**: زر (۱۰۰۰) بېړۍ يې درلودلې.

۷۶۲ . **پوښتنه**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه د خلافت او حکومت په موده کې د قبرص خلکو د کال څومره جزيه دولت ته ورکوله؟

**ځواب**: اوه زره دوه سوه (۷۲۰۰) درهمه.

۷۶۳ . **پوښتنه**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه د خلافت او حکمرانۍ په موده کې د قبرص خلکو چې کافر ول، د څه شي عبادت کاوه؟

**ځواب**: د اور عبادت يې کاوه.

۷۶۴ . **پوښتنه**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه د خلافت او حکومت په موده کې عام خلک چا د عثمان بن عفان رضي الله عنه په خلاف پاڅون ته مجبور کړل؟

ځواب: عبدالله بن سبا يهودي.

۷۶۵ . **پوښتنه**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه د خلافت او حکومت په ضد باندې څومره خوارجو پاڅون کړی وو؟

**ځواب**: څلور زره (۴۰۰۰).

۷۶۶ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه د هجرت په څوم کال په شهادت ورسېد؟

**ځواب**: د هجرت په پنځه دېرشم (۳۵) کال.



۷۶۷ . **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه په کومه ورځ شهيد شو؟

**ځواب**: د جمعې په ورځ.

۷۶۸ . **پوښتنه**: په عثمان بن عفان رضي الله عنه باندې د جنازې لمونځ کوم صحابي ادا کړ؟

**ځواب**: زبير بن عوام رضي الله عنه.

۷۶۹ . **پوښتنه**: کله چې به په محمد صلى الله عليه وسلم قران کريم نازلېده نو عثمان رضي الله عنه به د نورو صحابه وو په څېر د وحې کتابت کاوه؟

**ځواب**: هو.

**څلورم: علي بن ابي طالب رضي الله عنه**

۷۷۰ . **پوښتنه**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه له نبوت څخه څو کاله مخکې پيدا شوی وو؟

**ځواب**: لس (۱۰) کاله مخکې .

۷۷۱ . **پوښتنه**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه چې کله پيدا شو، مور يې ورته کوم نوم خوښ کړی وو؟

**ځواب**: اسد .

۷۷۲ . **پوښتنه**: د علي بن ابي طالب رضي الله عنه د مور نوم څه وو؟

**ځواب**: فاطمه بنت اسد .

۷۷۳ . **پوښتنه**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه څو ورورنه درلودل، او نومونه يې څه ول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: درې ورونه يې درلودل: (طالب،عقيل او جعفر) نومېدل.

۷۷۴ . **پوښتنه**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه څو خويندې درلودلې؟

**ځواب**: دوه (۲)

۷۷۵ . **پوښتنه**: د علي بن ابي طالب رضي الله عنه خويندې څه نومېدلې؟

**ځواب**: ام هاني او جُمانة رضي الله عنهما.

۷۷۶ . **پوښتنه**: په ښځو کې لومړی ايمان په محمد صلی الله عليه وسلم باندې کومې ښځې راوړی وو؟

**ځواب**: خديجة الکبری رضي الله عنها.

۷۷۷ . **پوښتنه**: په ماشومانو کې لومړی ايمان په محمد صلی الله عليه وسلم باندې چا راوړی؟

**ځواب**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه.

۷۷۸ . **پوښتنه**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه ته ابو تراب اسم کُنيه چا ايښې وه؟

**ځواب**: محمد صلی الله عليه وسلم.

۷۷۹ . **پوښتنه**: خيبر د چا په لاس فتحه شو؟

**ځواب**: د علي بن ابي طالب رضي الله عنه په لاس.

۷۸۰ . **پوښتنه**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه له فاطمې رضي الله عنها سره له کومې غزوې نه وروسته واده وکړ؟

**ځواب**: د بدر له غزوې نه وروسته.



۷۸۱ . **پوښتنه**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه څو زامن درلودل؟

**ځواب**: څوارلس (۱۴) .

۷۸۲ . **پوښتنه**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه څو لورګانې درلودې؟

**ځواب**: نولس (۱۹) لورګانې يې وې.

۷۸۳ . **پوښتنه**: د حديبې صلحه کې منشي يا ليکوونکی څوک وو؟

**ځواب**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه.

۷۸۴ . **پوښتنه**: د علي بن ابي طالب رضي الله عنه او فاطمې رضي الله عنها په واده کې وليمه کوم صحابي وکړه؟

**ځواب**: سعد رضي الله عنه پکې ګډ (پسه) ذبحه کړی وو.

۷۸۵ . **پوښتنه**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه چې په محمد صلی الله عليه وسلم باندې ايمان راوړ، څو کلن وو؟

**ځواب**: لس (۱۰) کلن.

۷۸۶ . **پوښتنه**: د علي بن ابي طالب رضي الله عنه د پلار نوم څه وو؟

**ځواب**: ابوطالب.

۷۸۷ . **پوښتنه**: په خندق غزوه کې د عربو مشرکانو مشهور پهلوان عمرو بن عبدوود چې د پنځه سوه (۵۰۰) کسانو مقابله يې په يوائې ځان کوله، د کوم صحابي لخوا ووژل شو؟

**ځواب**: د علي بن ابي طالب رضي الله عنه لخوا.

۷۸۸ . **پوښتنه**: علي رضي الله عنه د عثمان رضي الله عنه د شهادت څخه څو ورځې وروسته خليفه وټاکل شو؟

**ځواب**: دوه (۲) ورځې وروسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۸۹ . **پوښتنه:** د علي بن ابي طالب رضي الله عنه سره لومړی بیعت کوم صحابي کړی وو؟

**ځواب:** طلحه بن عبید الله رضي الله عنه.

۷۹۰ . **پوښتنه:** له علي بن ابي طالب رضي الله عنه سره په حکومت باندې بیعت، په کومه ورځ او د ذي الحجې په څوم تاریخ وشو؟

**ځواب:** د شنبې په ورځ او د ذي الحجې نوولسم (۱۹) تاریخ وو.

۷۹۱ . **پوښتنه:** علي بن ابي طالب رضي الله عنه کومې ځانګړنې درلودلې؟

**ځواب:** **لومړی:** یو له هغو لسو کسانو څخه دی، چې د محمد صلی الله علیه وسلم له لوري ورته د جنت زیری ورکول شوی وو.

**دویم:** علي رضي الله عنه ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زومتوب ویاړ ورپه برخه شوی وو.

**دریم:** علي رضي الله عنه ته د تر ټولو لومړي ایمان راوړونکي ماشوم ویاړ ورپه برخه شوی دی.

**څلورم:** علي رضي الله عنه د اسلام څلورم خلیفه په توګه ټاکل شوی وو.

۷۹۲ . **پوښتنه:** د صفین غزا د کوم خلیفه په وخت او په کوم هجري کال کې واقع شوی؟

**ځواب:** د علي بن ابي طالب رضي الله عنه په حکومت کې او د هجرت په پنځه دېرشم (۳۵) او شپږ دېرشم (۳۶) کال کې واقع شوی.

۷۹۳ . **پوښتنه:** د صفین واقعه د کومو دوه ډلو ترمنځ پېښه شوې وه؟



**ځواب:** د علي بن ابي طالب رضي الله عنه او د معاویه رضي الله عنه د ډلو ترمنځ واقع شوې وه.

۷۹۴ . **پوښتنه:** د صفین واقعې د حل لپاره علي رضي الله عنه لخوا څوک حاکم ټاکل شوی وو؟

**ځواب:** ابو موسی الاشعري رضي الله عنه.

۷۹۵ . **پوښتنه:** د صفین واقعې د حل لپاره ، معاویه رضي الله عنه څوک حاکم وټاکه؟

**ځواب:** عمرو بن العاص رضي الله عنه.

۷۹۶ . **پوښتنه:** عمار بن یاسر رضي الله عنه په کوم غزا کې په شهادت ورسېد؟

**ځواب:** د صفین په غزا کې.

۷۹۷ . **پوښتنه:** علي بن ابي طالب رضي الله عنه د هجرت په څوم کال په شهادت ورسېد؟

**ځواب:** د هجرت په څلوېښتم (۴۰) کال.

۷۹۸ . **پوښتنه:** علي بن ابي طالب رضي الله عنه د چا لخوا په شهادت ورسېد؟

**ځواب:** د عبدالرحمن بن مُلجم لخوا په شهادت ورسېد.

۷۹۹ . **پوښتنه:** علي بن ابي طالب رضي الله عنه په کومه میاشت کې په شهادت ورسېد؟

**ځواب:** د رمضان په میاشت کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۰۰ . **پوښتنه**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه ته کومو صحابه وو غسل ورکړی وو؟

**ځواب**: حسن،حسین او عبدالله بن جعفر رضي الله عنهما .

۸۰۱ . **پوښتنه**: په علي بن ابي طالب رضي الله عنه د جنازې لمونځ چا ادا کړ؟

**ځواب**: حسن بن علي رضي الله عنه.

## په عمومي سیرت کې پوښتنې او ځوابونه

۸۰۲ . **پوښتنه**: کوم صحابي د الله تعالی په لاره کې په لومړي ځل په غشي باندې وېشتل کړي دي؟

**ځواب**: سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه.

۸۰۳ . **پوښتنه**: چا د لومړي ځل لپاره د سیرت په علم کې کتاب لیکلی؟

**ځواب**: محمد بن اسحاق چې په ۱۵۲ هجري کال کې وفات شوی .

۸۰۴ . **پوښتنه**: زبیر بن عوام رضي الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څه کېده؟

**ځواب**: د ترور( عمه ) زوی یې وو.

۸۰۵ . **پوښتنه**: سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه د هجرت په څوم کال وفات شوی؟

**ځواب**: د هجرت په پنځه پنځوسم (۵۵) کال وفات شوی.



۸۰۶ . **پوښتنه**: عشره مُبشَرَه کوم صحابه کرام دي، (هغه صحابه چې محمد صلی الله علیه وسلم په یو مجلس کې د جنت زیری ورکړی وو)؟

**ځواب**: ابوبکر صدیق، عمر بن خطاب، عثمان بن عفان، علي بن ابي طالب، طلحه بن عبیدالله، زبیر بن عوام، سعد بن ابي وقاص، سعید بن زید ، ابو عبیده بن جراح او عبدالرحمن بن عوف رضي الله تعالی عنهم دي.

۸۰۷ . **پوښتنه**: د زبیر بن عوام رضي الله عنه د مور نوم څه وو؟

**ځواب**: صفیه بنت عبدالمطلب رضي الله عنها .

۸۰۸ . **پوښتنه**: زبیر بن عوام رضي الله عنه په څو کلنۍ کې په محمد صلی الله علیه وسلم باندې ایمان راوړی وو؟

**ځواب**: په پنځلس (۱۵) کلنۍ کې.

۸۰۹ . **پوښتنه**: په مدینه کې د مهاجرینو لومړی کوم ماشوم پیدا شو؟

**ځواب**: عبدالله بن زبیر رضي الله عنه.

۸۱۰ . **پوښتنه**: هغه کوم لومړنی شخص دی، چې د وژل کېدو څخه مخکې یې دوه رکعته لمونځ ادا کړی، چې د هغه د سنت په نوم یادېږي؟

**ځواب**: خُبیب رضي الله عنه.

۸۱۱ . **پوښتنه**: نبي کریم صلی الله علیه وسلم کومو صحابه وو ته ویلي ول، چې زما مور او پلار دې له تا نه قربان شي؟

ځواب: زبیر بن عوام او سعد بن ابي وقاص رضي الله عنهما ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۱۲ . **پوښتنه**: د صفین غزا د کوم خلیفه د حکمرانۍ په وخت کې رامنځته شوې وه؟

**ځواب**: د علي بن ابي طالب رضي الله عنه.

۸۱۳ . **پوښتنه**: زبیر بن عوام رضي الله عنه د هجرت په څوم کال په شهادت ورسېد؟

**جواب**: د هجرت په شپږ دېرشم (۳٦) کال.

۸۱۴ . **پوښتنه**: زبیر بن عوام رضي الله عنه د چا لخوا په شهادت ورسېد؟

**ځواب**: د ابن جَرمُوز لخوا.

۸۱۵ . **پوښتنه**: عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه له عام الفیل نه څو کاله وروسته پیدا شوی وو؟

**ځواب**: لس (۱۰) کاله وروسته.

۸۱٦ . **پوښتنه**: عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د کوم صحابي په دعوت باندې اسلام قبول کړ؟

**ځواب**: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه.

۸۱۷ . **پوښتنه**: عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د هجرت په څوم کال وفات شو؟

**ځواب**: د هجرت په درې دېرشم (۳۳) کال.

۸۱۸ . **پوښتنه**: د انصارو له ډلې څخه په اسلام کې لومړنی شهید څوک وو؟

**ځواب**: عمیر بن الحمام رضي الله عنه.



۸۱۹ . **پوښتنه**: د طلحه رضي الله عنه د پلار نوم څه وو؟

**ځواب**: عبیدالله.

۸۲۰ . **پوښتنه**: طلحه ابن عبیدالله د هجرت نه څو کاله مخکې زیږېدلی؟

**ځواب**: اته ویشت (۲۸) کاله مخکې.

۸۲۱ . **پوښتنه**: طلحه ابن عبیدالله رضي الله عنه د هجرت په څوم کال په جَمَل غزا کې په شهادت ورسېد؟

**ځواب**: د هجرت په شپږ دېرشم (۳٦) کال.

۸۲۲ . **پوښتنه**: د ابو عبیده بن جراح رضي الله عنه خپل نوم څه وو؟

**ځواب**: عامر.

۸۲۳ . **پوښتنه**: د ابو عبیده بن جراح رضي الله عنه د پلار نوم څه وو؟

**ځواب**: عبدالله.

۸۲٤ . **پوښتنه**: ابو عبیده بن جراح رضي الله عنه د هجرت نه څو کاله وړاندې پیدا شوی وو؟

**ځواب**: څلویښت (٤۰) کاله وړاندې.

۸۲۵ . **پوښتنه**: په بدرغزوه کې کوم صحابي خپل پلار چې د کافرو په صف کې ولاړ وو، قتل کړ؟

**ځواب**: ابو عبیده بن جراح رضي الله عنه.

۸۲٦ . **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې چې کله د محمد صلی الله علیه وسلم مخ د وسپنې د غزاې خولۍ په کړیو زخمي شو، د هغه د مخ مبارک څخه هغه کړۍ کوم صحابي را وه ایستله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: ابو عبيده بن جراح رضي الله عنه.

۸۲۷ . **پوښتنه**: ابو عبيده بن جراح رضي الله عنه د هجرت په څوم کال د وباء د مرض له امله په شام کې شهيد شو؟

**ځواب**: د هجرت په اتلسم (۱۸) کال.

۸۲۸ . **پوښتنه**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه د خلافت او حکومت په موده کې په شام کې د ابوعبيده بن جراح رضي الله عنه په مشرۍ شپږ دېرش زره (۳۶۰۰۰) مجاهدينو څخه څومره مجاهدين د وباء يا طاعون مرض له امله په شهادت ورسېدل؟

**ځواب**: دېرش زره (۳۰۰۰۰) مجاهدين.

۸۲۹ . **پوښتنه**: د سعيد بن زيد رضي الله عنه د مور نوم څه وو؟

**ځواب**: فاطمه.

۸۳۰ . **پوښتنه**: سعيد بن زيد رضي الله عنه په کوم ځای کې او له هجرت څخه څو کاله وړاندې پيدا شوی وو؟

**ځواب**: دوه ويشت (۲۲) کاله وړاندې په مکه کې زيږدلی وو.

۸۳۱ . **پوښتنه**: په عربو کې د څلورو انبياوو (عليهم السلام) نومونه ذکر کړئ؟

**ځواب**: ۱. هود عليه السلام، ۲. شعيب عليه السلام، ۳. صالح عليه السلام، ۴. محمد صلی الله عليه وسلم.

۸۳۲ . **پوښتنه**: د څلورو مشهورو فقهي مذهبونو نومونه واخلئ؟

**ځواب**: ۱. حنفي مذهب، ۲. مالکي مذهب، ۳. شافعي مذهب، ۴. حنبلي مذهب.



۸۳۳ . **پوښتنه**: د څلور مشهورو امامانو نومونه واخلئ؟

**ځواب**: ۱. امام ابو حنيفه (نعمان بن ثابت)، ۲. امام مالک بن انس، ۳. امام شافعي ( محمد بن ادريس)، ۴. امام احمد بن محمد بن حنبل.

۸۳۴ . **پوښتنه**: د خلفاء راشدينو نومونه واخلئ؟

**ځواب**: ۱. ابوبکرصديق، ۲. عمر بن خطاب، ۳. عثمان بن عفان، ۴. علي بن ابي طالب رضي الله عنهم.

۸۳۵ . **پوښتنه**: اولوالعزمَ (لوړهمت والا) رسولان څو دي، نومونه يې واخلئ؟

**ځواب**: پنځه (۵) دي: ۱. نوح عليه السلام، ۲. ابراهيم عليه السلام، ۳. موسی عليه السلام، ۴. عيسی عليه السلام، ۵. او محمد صلی الله عليه وسلم.

۸۳۶ . **پوښتنه**: په جنت کې د څلورو مخکښو ښځو نومونه واخلئ؟

**ځواب**: ۱. مريم رضي الله عنها ، ۲. خديجه رضي الله عنها ، ۳. فاطمه رضي الله عنها ، ۴. اسيه رضي الله عنها .

۸۳۷ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله عليه وسلم په وخت کې د پنځو اذان کوونکو (مؤذنينو) صحابه کرامو نومونه واخلئ ؟

**ځواب**: بلال بن رباح، عبدالله بن ام مکتوم، ابو محذُره، سعد او سعيد رضي الله عنهم.

۸۳۸ . **پوښتنه**: ابوهريره رضي الله عنه له رسول صلی الله عليه وسلم څخه څو احاديث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: پنځه زره درې سوه څلوراويا (۵۳۷۴) احاديث.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۳۹ . **پوښتنه**: د ابو هریره رضي الله عنه خپل نوم څه وو؟

**جواب**: عبدالرحمن.

۸۴۰ . **پوښتنه**: ابو هریره رضي الله عنه د جهالت په وخت کې په کوم نوم مشهور وو؟

**ځواب**: په عبدالشمس باندې مشهور وو.

۸۴۱ . **پوښتنه**: ابو هریره رضي الله عنه له کومې علاقې سره تړاو لاره؟

**ځواب**: یمن سره.

۸۴۲ . **پوښتنه**: ابوهریره رضي الله عنه له کومې قبیلې سره تړاو لاره؟

**ځواب**: له دوس قبیلې سره.

۸۴۳ . **پوښتنه**: ابوهریره رضي الله عنه د چا په لاس ایمان او اسلام راوړی؟

**جواب**: د طفیل بن عمرو الدوسي رضي الله عنه په لاس.

۸۴۴ . **پوښتنه**: د اصحاب صوفه مشري کوم صحابي کوله؟

**ځواب**: ابوهریره رضي الله عنه.

۸۴۵ . **پوښتنه**: کوم صحابي له رسول صلی الله علیه وسلم څخه دعا وغوښتله چې زما او زما د مور لپاره داسې دعاء وغواړه، چې زمونږه محبت د مسلمانانو په زړونو کې الله تعالی واچوي؟

**ځواب**: ابوهریره رضي الله عنه.

۸۴۶ . **پوښتنه**: رسول صلی الله علیه وسلم د زکات الفطر (سرسایې) په مال باندې کوم صحابي څوکیدار مقرر کړی وو؟



**ځواب**: ابوهریره رضي الله عنه.

۸۴۷ . **پوښتنه**: کوم صحابي، شیطان د انسان په شکل د زکات الفطر (سرسایې) د مال په غلا درې شپې ګیر کړی وو؟

**ځواب**: ابوهریره رضي الله عنه.

۸۴۸ . **پوښتنه**: ابو هریره رضي الله عنه په څو کلنۍ کې وفات شوی؟

**ځواب**: په اته او یا (۷۸) کلنۍ کې.

۸۴۹ . **پوښتنه**: ابوهریره رضي الله عنه د هجرت په څوم کال وفات شوی؟

**ځواب**: د هجرت په نهه پنځوسم (۵۹) کال.

۸۵۰ . **پوښتنه**: عبدالله بن عمر رضي الله عنه له رسول صلی الله علیه وسلم څخه څو احادیث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: دوه زره شپږ سوه دیرش (۲۶۳۰) احادیث.

۸۵۱ . **پوښتنه**: عبدالله بن عمر رضي الله عنه په کومه اسم کُنیه باندې مشهور وو؟

**ځواب**: په ابو عبدالرحمن.

۸۵۲ . **پوښتنه**: عبدالله بن عمر رضي الله عنه د هجرت په څوم کال وفات شوی؟

**ځواب**: د هجرت په درې اویایم (۷۳) کال وفات شوی.

۸۵۳ . **پوښتنه**: عبدالله بن عمر رضي الله عنه په څو کلنۍ کې وفات شوی؟

**ځواب**: په اته پنځوس (۵۸) کلنۍ کې وفات شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۵۴ . **پوښتنه**: د انس بن مالک رضي الله عنه مور بي بي څه نومېده؟

**ځواب**: ام سلیم رضي الله عنها.

۸۵۵ . **پوښتنه**: هغه کومه صحابیه وه؟ چې د خپلې نکاح مَهر یې اسلام ټاکلی وو، چې ابو طلحه رضي الله عنه ته یې ویلي ول «چې تاسې اسلام راوړئ، زما د نکاح مهر به ستاسې مسلمانېدل وي»

**ځواب**: ام سلیم رضي الله عنها.

۸۵۶ . **پوښتنه**: انس بن مالک رضي الله عنه له هجرت څخه څو کاله وړاندې او چېرته زېږېدلی وو؟

**ځواب**: له هجرت نه لس (۱۰) کاله وړاندې په مدینه کې زېږېدلی وو.

۸۵۷ . **پوښتنه**: انس بن مالک رضي الله عنه د محمد صلی الله علیه وسلم څو کاله خدمت کړی دی؟

**ځواب**: لس (۱۰) کاله.

۸۵۸ . **پوښتنه**: انس بن مالک رضي الله عنه ته محمد صلی الله علیه وسلم د خدمت په لومړنیو ورځو کې کوم وصیت کړی وو؟

**ځواب**: د راز ساتلو په تړاو یې ورته وصیت کړی وو، چې زما راز به پټ ساتې.

۸۵۹ . **پوښتنه**: انس بن مالک رضي الله عنه له رسول صلی الله علیه وسلم څخه څو احادیث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: دوه زره دوه سوه شپږ اتیا (۲۲۸۶) احادیث یې د رسول صلی الله علیه وسلم څخه رانقل کړي دي.



۸۶۰ . **پوښتنه**: انس بن مالک رضي الله عنه د هجرت په څوم کال وفات شوی؟

**ځواب**: د هجرت په درې نوي یم (۹۳) کال وفات شوی.

۸۶۱ . **پوښتنه**: عایشې رضي الله عنها له محمد صلی الله علیه وسلم څخه څو احادیث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: دوه زره دوه سوه لس (۲۲۱۰) احادیث.

۸۶۲ . **پوښتنه**: عایشه رضي الله عنها په کومه اسم کُنیه باندې مشهوره وه؟

**ځواب**: اُم عبدالله.

۸۶۳ . **پوښتنه**: عایشه رضي الله عنها د هجرت په څوم کال وفات شوې ده؟

**ځواب**: د هجرت په اته پنځوسم (۵۸) کال.

۸۶۴ . **پوښتنه**: عایشه رضي الله عنها په کومه میاشت کې وفات شوې؟

**ځواب**: د رمضان په میاشت کې.

۸۶۵ . **پوښتنه**: د کومې صحابیه برات (پاکوالی) الله تعالی په قران کریم کې رانازل کړی دی؟

**ځواب**: د عایشې رضي الله عنها.

۸۶۶ . **پوښتنه**: د کوم صحابي نوم په قران کریم کې ذکر شوی دی؟

**ځواب**: د زید رضي الله عنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٨٦٧ . **پوښتنه:** عبدالله بن عباس رضي الله عنه له محمد صلی الله علیه وسلم څخه څو احادیث رانقل کړي دي؟

**ځواب:** یو زر او شپږ سوه شپېته (١٦٦٠) احادیث.

٨٦٨ . **پوښتنه:** ترجمان القران د کوم صحابي لقب دی؟

**ځواب:** د عبدالله بن عباس رضي الله عنه.

٨٦٩ . **پوښتنه:** د عبدالله بن عباس رضي الله عنه د مور بي بي نوم څه وو؟

**ځواب:** نوم یې لُبَابَه او اسم کنیه یې ام الفضل وه.

٨٧٠ . **پوښتنه:** ذات النطاقین کومې صحابیه ته ویل کېږي؟

**ځواب:** اسماء بن ابی بکر رضي الله عنها ته.

٨٧١ . **پوښتنه:** عبدالله بن عباس رضي الله عنه د هجرت په څوم کال وفات شوی؟

**ځواب:** په اته شپېتم (٦٨) هجري باندې وفات شوی.

٨٧٢ . **پوښتنه:** عبدالله بن عباس رضي الله عنه د څو کالو په عمر وفات شوی؟

**ځواب:** په یو اتیا (٨١) کلنۍ کې وفات شوی.

٨٧٣ . **پوښتنه:** په عبدالله بن عباس رضي الله عنه باندې د جنازې لمونځ چا ادا کړی وو؟

**ځواب:** محمد بن حَنفِیَه.

٨٧٤ . **پوښتنه:** جابر بن عبدالله رضي الله عنه له رسول الله صلی الله عله وسلم څخه څو احادیث رانقل کړي دي؟



**ځواب:** یو زر پنځه سوه څلوېښت (١٥٤٠) احادیث.

٨٧٥ . **پوښتنه:** هغه کوم صحابي دی، چې الله تعالی ورسره د هغه له شهادت وروسته مخامخ خبرې کړې دي؟

**ځواب:** عبدالله بن حرام الانصاري رضي الله عنه.

٨٧٦ . **پوښتنه:** عبدالله بن حرام الانصاري رضي الله عنه په کومه غزا کې شهید شو؟

**ځواب:** په اُحد غزا کې.

٨٧٧ . **پوښتنه:** جابر رضي الله عنه په څو کلنۍ کې وفات شو؟

**ځواب:** په څلور نوي (٩٤) کلنۍ کې.

٨٧٨ . **پوښتنه:** ابو دَحدَاح رضي الله عنه په کومه غزا کې شهید شوی؟

**جواب:** په اُحد غزا کې.

٨٧٩ . **پوښتنه:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم اهلبیت چاته ویل کېږي؟

**ځواب:** هغه چاته ویل کېږي، چې په هغوی باندې الله تعالی صدقه حرامه کړې ده، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مېرمنې او هغه نسبي خپلوان چې مسلمانان وو.

٨٨٠ . **پوښتنه:** فاطمه رضي الله عنها د خپل واده پرمهال څو کلنه وه؟

**ځواب:** د پنځلس (١٥) کالو، پنځو (٥) میاشتو او پنځلس (١٥) ورځو وه.

٨٨١ . **پوښتنه:** فاطمه رضي الله عنها په څو کلنۍ کې وفات شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: اوه ویشت (۲۷) یا اته ویشت (۲۸) کلنۍ کې وفات شوې.

۸۸۲. **پوښتنه**: خدیجة الکبری رضي الله عنها په څو کلنۍ کې وفات شوه؟

**ځواب**: د پنځه شپېته (٦۵) کالو په عمر د رمضان په میاشت کې د نبوت په (۱۰) کال کې وفات شوه.

۸۸۳. **پوښتنه**: مدینې منورې ته لومړی هجرت کوم صحابي کړی وو؟

**ځواب**: لومړی هجرت (ابو سَلَمَه رضي الله عنه) کړی وو.

۸۸۴. **پوښتنه**: هغه کوم صحابي دی، چې له خپل پلار څخه یې وړاندې ایمان راوړی؟

**ځواب**: عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه.

۸۸۵. **پوښتنه**: په څو مقاماتو کې د عمر بن خطاب رضي الله عنه د رایې مطابق وحې نازل شوې ده؟

**ځواب**: په څلرویشت (۲۴) مقاماتو کې.

۸۸٦. **پوښتنه**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه له فاطمې رضي الله عنها سره د هجرت په څوم کال او په کومه میاشت کې نکاح وکړه؟

**ځواب**: د هجرت په دویم (۲) کال او د ذې القعدې په میاشت کې.

۸۸۷. **پوښتنه**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه میرمن (رقیه رضي الله عنها) د هجرت په څوم کال وفات شوه؟

**ځواب**: د هجرت په دویم (۲) کال.

۸۸۸. **پوښتنه**: عثمان بن عفان رضي الله عنه له ام کلثوم رضي الله عنها سره د هجرت په څوم کال نکاح وکړه؟



**ځواب**: د هجرت په دویم (۲) کال.

۸۸۹. **پوښتنه**: کعب بن اشرف د چا لخوا ووژل شو؟

**ځواب**: د محمد بن مَسلَمَه او ابو نَایِلَه رضي الله عنهما لخوا.

۸۹۰. **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم هغه سَرِیَه چې زید بن حارثه رضي الله عنه یې مشري کوله؛ کومې علاقې ته د قریشو قافلې د وهلو لپاره لیږلې وه او په څو کسانو مشتمله وه؟

**ځواب**: د نجد علاقې ته، او په سلو (۱۰۰) کسانو مشتمله وه.

۸۹۱. **پوښتنه**: د کوم صحابي په مرګ باندې د رحمن ذات عرش ولړځید؟

**ځواب**: د سعد بن معاذ رضي الله عنه.

۸۹۲. **پوښتنه**: ابو رافع سلام بن ابي الحقیق یهودي د کوم صحابي لخوا ووژل شو؟

**ځواب**: د عبدالله بن عتِک رضي الله عنه لخوا.

۸۹۳. **پوښتنه**: د زید بن حارثه رضي الله عنه نکاح له زینب رضي الله عنها سره د هجرت په څوم کال شوې وه؟

**ځواب**: د هجرت په پنځم (۵) کال.

۸۹۴. **پوښتنه**: ابو سعیدخدري رضي الله عنه له محمد صلی الله علیه وسلم څخه څو احادیث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: یو زر او یوسلو اویا (۱۱۷۰) احادیث.

۸۹۵. **پوښتنه**: ارقم بن ابي ارقم رضي الله عنه له محمد صلی الله علیه وسلم څخه څو احادیث رانقل کړي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: درې (۳) احاديث.

۸۹۶ . **پوښتنه**: ابو عبيده بن جراح رضي الله عنه له محمد صلی الله عليه وسلم څخه څو احاديث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: څوارلس (۱۴) احاديث.

۸۹۷ . **پوښتنه**: عمرو بن العاص رضي الله عنه له محمد صلى الله عليه وسلم څخه څو احاديث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: نهه دېرش (۳۹) احاديث.

۸۹۸ . **پوښتنه**: بلال بن رباح رضي الله عنه له محمد صلى الله عليه وسلم څخه څو احاديث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: څلور څلوېښت (۴۴) احاديث.

۸۹۹ . **پوښتنه**: ابوبکر صديق رضي الله عنه له محمد صلى الله عليه وسلم څخه څو احاديث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: يو سل او دوه څلوېښت (۱۴۲) احاديث.

۹۰۰ . **پوښتنه**: معاذ بن جَبَل رضي الله عنه له محمد صلى الله عليه وسلم څخه څو احاديث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: سل (۱۰۰) احاديث.

۹۰۱ . **پوښتنه**: ابودردا رضي الله عنه له محمد صلى الله عليه وسلم څخه څو احاديث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: يو سل او نهه او يا (۱۷۹) احاديث.

۹۰۲ . **پوښتنه**: ابوذرغفاري رضي الله عنه له محمد صلى الله عليه وسلم څخه څو احاديث رانقل کړي دي؟



**ځواب**: دوه سوه يو اتيا (۲۸۱) احاديث.

۹۰۳ . **پوښتنه**: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه له محمد صلى الله عليه وسلم څخه څو احاديث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: اته سوه اته څلوېښت (۸۴۸) احاديث.

۹۰۴ . **پوښتنه**: کوم صحابي له پلار څخه ديارلس کاله کشر وو؟

**ځواب**: عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه.

۹۰۵ . **پوښتنه**: علي بن ابي طالب رضي الله عنه له محمد صلى الله عليه وسلم څخه څو احاديث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: پنځه سوه اووه دېرش (۵۳۷) احاديث .

۹۰۶ . **پوښتنه**: معاويه رضي الله عنه له محمد صلى الله وسلم څخه څو احاديث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: يو سل او درې شپېته (۱۶۳) احاديث.

۹۰۷ . **پوښتنه**: سَلَمَه بن أكوَع رضي الله عنه له محمد صلى الله عليه وسلم څخه څو احاديث رانقل کړي دي؟

**ځواب**: اوه اويا (۷۷) احاديث.

۹۰۸ . **پوښتنه**: په محمد صلى الله عليه وسلم باندې لومړی کوم ايت نازل شوی دی.

**ځواب**: ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ۝١﴾.

۹۰۹ . **پوښتنه**: په غلامانو کې لومړی ايمان چا په محمد صلى الله عليه وسلم باندې راوړی وو؟

**ځواب**: زيد بن حارثه رضي الله عنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۱۰. **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم چې مدينې ته هجرت وکړ، کوم طرف ته يې لمونځ کاوه؟

**ځواب**: ۱٦ يا ۱۷ مياشتې يې بيت المقدس طرف ته لمونځ کاوه، بيا يې د الله تعالی په امر قبله بيت الله طرف ته وګرځوله.

۹۱۱. **پوښتنه**: د قبلې د بدلېدو نه وروسته محمد صلی الله علیه وسلم کوم لمونځ لومړی د کعبې پر لور ادا کړ؟

**ځواب**: د مازديګر لمونځ.

۹۱۲. **پوښتنه**: د لومړي ځل لپاره بحري غزاي کښتۍ د کوم خليفه په وخت کې جوړه شوه؟

**ځواب**: د عثمان بن عفان رضي الله عنه د خلافت په موده کې په شام کې جوړه شوه، چې د شام والي معاويه رضي الله عنه وو.

۹۱۳. **پوښتنه**: خالد بن وليد رضي الله عنه له مسلمانېدو نه وروسته لومړی کومې غزا کې ګډون کړی وو؟

**ځواب**: د مؤته په غزا کې.

۹۱۴. **پوښتنه**: چا د لومړي ځل لپاره په نبوي مسجد کې فرش هوار کړی وو؟

**ځواب**: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

۹۱۵. **پوښتنه**: په مدينه کې د انصارو څو قبيلې وې؟

**ځواب**: دوه قبيلې وې: اُوس او خزرج قبيلې.

۹۱٦. **پوښتنه**: هغه کوم صحابي وو چې اخرت يې په دنيا اخيستي وو؟



**ځواب**: سعيد بن عامر الجمحي رضي الله عنه.

۹۱۷. **پوښتنه**: ميمونه رضي الله عنها د کوم صحابي ترور وه؟

**ځواب**: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه.

۹۱۸. **پوښتنه**: هغه کوم صحابي وو، چې د قيصر پاچا د سر په ښکلولو سره هغه او د هغه ملګري له بنده خوشې شول؟

**ځواب**: عبدالله بن حُذافه السهمي رضي الله عنه.

۹۱۹. **پوښتنه**: د يمامې مشر (ثُمَامَه بن اَثَال) څنګه مسلمان شو؟

**ځواب**: د صحابه و د يوې ډلې لخوا نيول شوی وو، بيا يې نبوي مسجد کې په يوه ستن پورې تړلی وو، له څو ورځو وروسته د صحابه کرامو او د رسول صلی الله علیه وسلم له ښو اخلاقو څخه اغېزمن شو او د اسلام په دين مشرف شو.

۹۲۰. **پوښتنه**: هغه کوم صحابي وو چې په ګوډه پښه او سپينه ږيره د جنت ګټلو په موخه اُحد غزا کې شرکت کولو څخه خپلو بچيو منع کاوه، خو هغه منع نه شو، په غزا کې ګډون کولوسره شهيد شو؟

**ځواب**: عمرو بن الجَمُوح رضي الله عنه.

۹۲۱. **پوښتنه**: د کومې صحابيه لقب حارسةُ القران (د قران ساتونکې) وو؟

**ځواب**: د حفصه رضي الله عنها چې د عمر رضي الله عنه لور وه.

۹۲۲. **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم کوم صحابي ته د سريانۍ ژبې يادولو امر کړی وو؟

**ځواب**: زيد بن حارثه رضي الله عنه ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۲۳ . **پوښتنه**: صهیب الرومي رضي الله عنه چا له غلامۍ څخه ازاد کړ؟

**ځواب**: عبدالله بن جَعدَان.

۹۲۴ . **پوښتنه**: د بي بي عایشې رضي الله عنها مور څه نومېده؟

**ځواب**: ام رومان بنت عمرو.

۹۲۵ . **پوښتنه**: د عثمان رضي الله عنه کومه میرمنه وه، چې ګوتې یې د دفاع په وخت کې ترې قطعه شوې وې؟

**ځواب**: نَائلَه بنت فرائصة.

۹۲۶ . **پوښتنه**: د علي رضي الله عنه کومه یوه لور د عمر بن خطاب رضي الله عنه په نکاح کې وه؟

**ځواب**: کَلثُوم بنت علي رضي الله عنها.

۹۲۷ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم د رضاعي میندو نومونه څه ول؟

**ځواب**: حلیمه سعدیه او ثویبه رضي الله عنهن.

۹۲۸ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم تر ټولو وروسته وفات شوې مېرمن څه نومېږي؟

**ځواب**: اُم سَلَمَه رضي الله عنها.

۹۲۹ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم تر وفات وروسته د هغه کومه یوه مېرمن لومړۍ وفات شوه؟

**ځواب**: زینب بنت جحش رضي الله عنها.



۹۳۰ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم کومې یوې میرمنې خپل نوبت، بي بي عایشې رضي الله عنها ته اوباښه؟

**ځواب**: سوده بنت زمعه رضي الله عنها.

۹۳۱ . **پوښتنه**: د اُسامه بن زید رضي الله عنه مور بي بي څه نومېده؟

**ځواب**: اُم ایمن رضي الله عنها.

۹۳۲ . **پوښتنه**: د بلال بن رباح رضي الله عنه ښځه د چا خور وه؟

**ځواب**: د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه.

۹۳۳ . **پوښتنه**: هغه ښځه څوک وه، چې عایشې رضي الله عنها واخیسته او بېرته یې ازاده کړه؟

**ځواب**: بیره.

۹۳۴ . **پوښتنه**: هغه ښځه چې له خدیجې رضي الله عنها څخه وروسته یې ایمان راوړی، څه نومېږي؟

**ځواب**: ام فضل رضي الله عنها، چې د عباس رضي الله عنه مېرمن وه.

۹۳۵ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم کومې صحابیه ته خپل لباس د کفن لپاره ورکړی وو؟

**ځواب**: فاطمه بنت اسد رضي الله عنها ته، چې د علي رضي الله عنه مور وه.

۹۳۶ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم رضاعي خویندې څه نومېدې؟

**ځواب**: انیسه بنت الحارث او شیما بنت الحارث.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۳۷ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم رضاعي ورونه څه نومېدل؟

**ځواب**: عبدالله بن حارث، سفیان بن الحارث، حمزه بن عبدالمطلب او ابوسَلَمَة.

۹۳۸ . **پوښتنه**: کومې صحابیه د نکاح په وخت کې په خپل خاوند باندې مَهر، د اسلام د راوړلو شرط کېښود؟

**ځواب**: أُم سلیم رضي الله عنها.

۹۳۹ . **پوښتنه**: أُم هاني رضي الله عنها د چا لور وه؟

**ځواب**: د ابو طالب.

۹۴۰ . **پوښتنه**: د عمر بن خطاب رضي الله عنه هغه خور چې د عمر رضي الله عنه د مسلمانېدو سبب وګرځېده، څه نومېده؟

**ځواب**: فاطمه رضي الله عنها د خطاب لور.

۹۴۱ . **پوښتنه**: د مؤمنانو مور جویریه رضي الله عنها، له رسول صلی الله علیه وسلم سره د واده کولو نه مخکې څه نومېده؟

**ځواب**: بره.

۹۴۲ . **پوښتنه**: هغه ښځه چې د مکې د فتحې په ورځ مسلمانه او د خپل خاوند د نجات غوښتنه یې وکړه، څه نومېده؟

**ځواب**: أُم حکیم بنت الحارث.

۹۴۳ . **پوښتنه**: سید الشهدا د چا لقب دی؟

**ځواب**: د حمزه بن عبدالمطلب رضي الله عنه.



۹۴۴ . **پوښتنه**: منافقینو د خندق په غزا کې د برخې نه اخیستلو لپاره څه عذر وړاندې کړی وو؟

**ځواب**: ویل یې زمونږ په کور کې ښځې دي او څوک نشته چې د هغو ساتنه وکړي.

۹۴۵ . **پوښتنه**: پرده (حجاب) کول په څوم هجري کال فرض شوه؟

**ځواب**: د هجرت په پنځم (۵) کال.

۹۴۶ . **پوښتنه**: د مکې د فتحې په ورځ محمد صلی الله علیه وسلم د چا په کور کې لمونځ ادا کړ؟

**ځواب**: د أُم هاني رضي الله عنها په کور کې.

۹۴۷ . **پوښتنه**: کومې صحابیه د روم په غزا کې اوه کسان ووژل؟

**ځواب**: أُم حکیم المخزومیه رضي الله عنها.

۹۴۸ . **پوښتنه**: هغه کوم صحابي وو، چې د سورة بقرې تلاوت کولو ته به یې ملایکو غوږ نیوه؟

**ځواب**: اسید بن حضیر رضي الله عنه.

۹۴۹ . **پوښتنه**: هغه کوم سنت عمل دی چې محمد صلی الله علیه وسلم تر وفات پورې پرې نښودل؟

**ځواب**: مسواک وهل.

۹۵۰ . **پوښتنه**: هغه کوم پاچا وو، چې په محمد صلی الله علیه وسلم باندې یې ایمان راوړ خو محمد صلی الله علیه وسلم یې نه وو لیدلی؟

**ځواب**: د حبشې پاچا نجاشي چې اصحمه نومېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۵۱ . **پوښتنه**: د بدر په جګړه کې تر ټولو کوچنی شهید څه نومېده؟

**ځواب**: عمیر بن ابي وقاص رضي الله عنه.

۹۵۲ . **پوښتنه**: د اُحد په غزا کې لومړی کوم صحابي شهید شو؟

**ځواب**: عبدالله بن حرام رضي الله عنه.

۹۵۳ . **پوښتنه**: د ابوسفیان رضي الله عنه خپل نوم څه وو؟

**ځواب**: صخر بن حرب بن امیه.

۹۵۴ . **پوښتنه**: د ابو ایوب انصاري رضي الله عنه اصلي نوم څه وو؟

**ځواب**: خالد بن زید.

۹۵۵ . **پوښتنه**: هغه کوم جلیل القدر صحابي وو، چې له شپږو نفرو وروسته یې ایمان راوړ؟

**ځواب**: ارقم بن ابي الارقم بن اسد رضي الله عنه.

۹۵۶ . **پوښتنه**: هغه کور چې په هغه کې به محمد صلی الله علیه وسلم د اسلام په اولو وختونو کې خلک اسلام ته رابلل، د چا وو او چیرته یې موقعیت درلودو؟

**ځواب**: د ارقم بن ابي الارقم رضي الله عنه کور وو او په صفا کې کې یې موقعیت درلود.

۹۵۷ . **پوښتنه**: ارقم بن ابي الارقم رضي الله عنه د هجرت په څوم کال وفات شو؟

**ځواب**: د هجرت په پنځه پنځوسم (۵۵) کال.

۹۵۸ . **پوښتنه**: کوم صحابي د محمد صلی الله علیه وسلم رازدار وو، چې د منافقینو لیست یې هم ورته ښودلی وو؟



**ځواب**: حُذیفه بن یمان رضي الله عنه.

۹۵۹ . **پوښتنه**: محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي ول، چې قران کریم له څلورو کسانو څخه یاد کړئ، هغه څلور کسان څوک ول؟

**ځواب**: عبدالله بن مسعود ، اُبی بن کعب، معاذ بن جبل او سالم مولی ابي حذیفه رضي الله عنهم.

۹۶۰ . **پوښتنه**: هغه کوم صحابي وو، چې غریب او ضعیف وو او د ارقم بن ابي الارقم رضي الله عنه په کور کې یې ایمان راوړ او فوراً د کافرانو عذاب او اذیت لاندې راغی، ابوبکر صدیق رضي الله عنه هغه واخیسته او ازاد یې کړ، مېږې به یې څرولې، ابوبکر صدیق رضي الله عنه او محمد صلی الله علیه وسلم چې کله مدینې ته هجرت کاوه، په لاره یې د هغوی خدمت کاوه؟

**ځواب**: جلیل القدر صحابي عامِر بن فهیره رضي الله عنه وو.

۹۶۱ . **پوښتنه**: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه له مسلمانېدو مخکې، څه کسب کاوه؟

**ځواب**: د عقبه بن ابي معیط مېږې یې څرولې.

۹۶۲ . **پوښتنه**: هغه کوم صحابي وو، چې کله د خرما ټولولو لپاره د خرما ونې ته وخاته صحابه کرامو د هغه پښو پوري وخندل، محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل «هغه چا پوري خاندی، چې د قیامت په ورځ به د هغه قدمونه د میزان په تله کې د اُحد له غره څخه هم درانه وي»؟

**ځواب**: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٩٦٣ . **پوښتنه:** ولې عمر فاروق رضي الله عنه غوښتل چې د علي رضي الله عنه له لور سره واده وکړي؟

**ځواب:** دې لپاره چې د محمد صلی الله علیه وسلم له نسب سره نژدې شي.

٩٦۴ . **پوښتنه:** د ابوبکر صديق رضي الله عنه خلافت په کوم کال پيل شو؟

**ځواب:** په يوولسم (١١) هجري کال.

٩٦٥ . **پوښتنه:** لومړنی ماشوم چې د هجرت په ديار ،حبشو کې له مسلمانانو څخه نړۍ ته راغی، څه نومېده؟

**ځواب:** عبدالله بن جَعفَر رضي الله عنه.

٩٦٦ . **پوښتنه:** له فاطمې رضي الله عنها څخه د علي رضي الله عنه څو اولادونه زېږدلي ول؟

**ځواب:** څلور اولادونه چې دوه زامن: حسن،حسين او دوه لورګانې: زينب او اُم کلثوم رضي الله عنهم.

٩٦٧ . **پوښتنه:** علي رضي الله عنه په څو غزاګانو کې ګډون کړی وو؟

**ځواب:** د تبوک نه پرته يې له محمد صلی الله علیه وسلم سره په ټولو غزاګانو کې ګډون کړی وو.

٩٦٨ . **پوښتنه:** د محمد صلی الله علیه وسلم نه وروسته چا د لومړي ځل لپاره په مکه کې قران کريم په ښکاره ډول ولوست او قريشو ته يې واورولو؟

**ځواب:** عبدالله بن مسعود رضي الله عنه.



٩٦٩ . **پوښتنه:** بلال بن رباح رضي الله عنه څوک وو؟

**ځواب:** د اميه بن خلف الجمحي غلام وو.

٩٧٠ . **پوښتنه:** کله چې بلال بن رباح رضي الله عنه ايمان راوړ، اميه بن خلف څه وکړل؟

**ځواب:** د هغه په غاړه کې يې رسۍ واچوله او د هلکانو په لاسو کې يې ورکړه، تر څو يې د مکې په کوڅو کې وګرځوي او په امسا به يې وهلو او د مکې په ګرمه هوا کې به يې په ساعتونو ساعتونو بې له اوبو او خوراک نه تړلی وو او درنه تيږه به يې په سينه ورته ايښې وه.

٩٧١ . **پوښتنه:** سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په څو کلنۍ کې اسلام راوړی وو؟

**ځواب:** په اولس (١٧) کلنۍ کې.

٩٧٢ . **پوښتنه:** سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه له محمد صلی الله علیه وسلم سره په څو غزاګانو کې ګډون کړی وو؟

**ځواب:** د بدر نه تر تبوک پورې په ټولو غزاګانو کې يې ګډون کړی وو.

٩٧٣ . **پوښتنه:** د مشرکينو نماينده ګان چې د حبشو له پاچا سره يې د مسلمانانو مهاجرينو په اړه خبرې کولې، څوک وو؟

**ځواب:** عمرو بن عاص او عبدالله بن ربيعه رضي الله عنهم. مخکې له ايمان راوړلو نه.

٩٧۴ . **پوښتنه:** د مسلمانانو له لورې چا له نجاشي پاچا سره خبرې وکړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب**: جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه.

۹۷۵ . **پوښتنه**: له عشره مبشره صحابه وو څخه وروستنی کوم صحابي وفات شوی دی؟

**ځواب**: سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه.

۹۷٦ . **پوښتنه**: هغه کوم صحابي دی، چې کله مسلمان شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل «ښه راغلاست دې وي، سپور مهاجر ته»؟

**ځواب**: عکرمه بن ابي جهل رضي الله عنه.

۹۷۷ . **پوښتنه**: کوم صحابي په کوچنیوالي کې له پلار سره ایمان راوړ؟

**ځواب**: عبدالله بن عمر رضي الله عنه.

۹۷۸ . **پوښتنه**: طیب المطیب د کوم صحابي لقب وو؟

**ځواب**: د عمار بن یاسر رضي الله عنه.

۹۷۹ . **پوښتنه**: امیر الامراء د کوم صحابي لقب وو؟

**ځواب**: د ابو عبیده عامر بن الجراح رضي الله عنه.

۹۸۰ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم مؤذن، بلال رضي الله عنه چیرته وفات شو؟

**ځواب**: دمشق کې.

۹۸۱ . **پوښتنه**: هغه کوم صحابي وو چې له رسول صلی الله علیه وسلم سره یې بیعت وکړ او ویې ویل چې «بیا به هیڅ کله سوال نه کوم»؟

**ځواب**: ثوبان رضي الله عنه ( د رسول الله صلی الله علیه وسلم غلام).



۹۸۲ . **پوښتنه**: لومړنی شخص چې د لبیک په ویلو سره کعبې ته داخل شو، څوک وو؟

**ځواب**: ثُمَامَه بن اَثَال رضي الله عنه.

۹۸۳ . **پوښتنه**: د اسلام له لومړنیو خطیبانو څخه څوک د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خطیب مشهور وو؟

**ځواب**: ثابت بن قیس رضي الله عنه

۹۸۴ . **پوښتنه**: لومړنۍ ښځه چې محمد صلی الله علیه وسلم ته یې شیدې ورکړې وې، څوک وه؟

**ځواب**: ثویبه د ابو لهب وینځه وه.

۹۸۵ . **پوښتنه**: د محمد صلی الله علیه وسلم د رضاعي مور، بي بي حلیمې خاوند څه نومېده؟

**ځواب**: حارث بن عبدالعزی.

۹۸٦ . **پوښتنه**: د عبدالله بن زبیر رضي الله عنه لقب څه وو؟

**ځواب**: حمامة المسجد (د مسجد کوتره).

۹۸۷ . **پوښتنه**: د ابو جهل خپل نوم څه وو؟

**ځواب**: عمرو بن هِشَام.

۹۸۸ . **پوښتنه**: په اسلام کې لومړی سیاسي سفیر څوک وو؟

**ځواب**: عثمان بن عفان رضي الله عنه، په بیعة الرضوان کې.

۹۸۹ . **پوښتنه**: د نهاوند په جګړه کې د مسلمانانو مشري چا کوله؟

**ځواب**: نعمان بن مُقَرِن رضي الله عنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٩٩٠ . پوښتنه:** هغه کوم صحابي وو، چې جبرائيل عليه السلام يې دوه ځله وليد او جبرائيل عليه السلام هغه ته سلام واچوو؟

**ځواب:** حارثه بن نعمان رضي الله عنه.

**٩٩١ . پوښتنه:** د محمد صلى الله عليه وسلم په ميرمنو کې کومه يوه د اُم المساکين په نوم يادېږي؟

**ځواب:** زينب بنت جَحش رضي الله عنها .

**٩٩٢ . پوښتنه:** محمد صلى الله عليه وسلم د اسلام د خپرولو لپاره لومړی کوم ځای وټاکه؟

**ځواب:** د ارقم بن ابي الارقم کور.

**٩٩٣ . پوښتنه:** هغه مسجد چې د مسجد قباء په څنګ کې جوړ شوی وو او محمد صلى الله عليه وسلم يې د ورانولو امر وکړ، څه نومېده؟

**ځواب:** مسجد ضرار.

**٩٩٤ . پوښتنه:** هغه يهودي چې په محمد صلى الله عليه وسلم يې کوډې کړې وې، څه نومېده؟

**ځواب:** لبيد بنُ الاعصَم.

**٩٩٥ . پوښتنه:** د محمد صلى الله عليه وسلم مؤذنين (اذان کوونکي) څه نومېدل؟

**ځواب:** بلال بن رباح، عبدالله بن اُم مکتوم او ابو محذوره رضي الله عنهم.

**٩٩٦ . پوښتنه:** خالد بن وليد رضي الله عنه د هجرت په څوم کال وفات شو؟



**ځواب:** د هجرت په يويشتم (٢١) کال.

**٩٩٧ . پوښتنه:** (مخضرمين) کومو اشخاصو ته ويل کېږي؟

**ځواب:** هغو اشخاصو ته ويل کېږي، چې د محمد صلى الله عليه وسلم په زمانه کې يې ايمان راوړی وي، خو له محمد صلى الله عليه وسلم سره يې ليدل نه وي کړي.

**٩٩٨ . پوښتنه:** کوم سورت د عمر بن خطاب رضي الله عنه د اسلام راوړلو باعث شو؟

**ځواب:** سورة طه.

**٩٩٩ . پوښتنه:** اُبی بن کعب رضي الله عنه د هجرت په څوم کال وفات شو؟

**ځواب:** په دېرشم (٣٠) هجري کال.

**١٠٠٠ . پوښتنه:** د محمد صلى الله عليه وسلم د صحابه کرامو شمېر څومره وو؟

**ځواب:** درې روايته دي: يو لک دوه ويشت زره (١٢٢٠٠٠)، يو لک څلوېښت زره (١٤٠٠٠٠) او يو لک پنځه څلوېښت زره (١٤٥٠٠٠) ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پای

د رب العزت ډېر زيات حمد او ثناء ادا کوم چې د اتلانو سيرت غږيزه خپرونه مې اداري لپاره په ليکلي او د (اتلانو ځلانده سيرت) کتاب شکل واړوله.

الله تعالی دې حيات الله احساس صيب ته ډېر اجرونه او ثوابونه ورنصيب کړي، چې ما سره يې د دې کتاب په ليکلو کې پوره همکاري وکړه، رب العزت دې زما دا خدمت په خپل دربار کې د قبول وړ وګرځوي.

درنښت

ستاسې ورور شفيق الله مشفق



## ماخذونه

(۱) البشاوري، امين الله، سيرت الرسول الله صلی الله عليه وسلم، لومړی او دويم جلد.

(۲) بيتاب، عاشق الله، اسلامي معلومات، ديني پوښتنې او ځوابونه، ژباړه.

(۳) ثاقب، سردارولي، د نبوي سيرت له اته ويشت (۲۸) خپرونو ثخه.

(۳) سرفراز، مولوي جانباز، سيرت النبي صلی الله عليه وسلم، الرحيق المختوم، ژباړه.

(۴) حميد، حميدالله، د ځلېدلي ستوري له يو دېرش (۳۱) خپرونو ثخه.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**